# دَ

## بارہ

# مومند

## تاریخ

## دویُم جلد

لیکوُنکے

## خواجہ محمّد سائبل

# د

"باره"

# مومند

# تاریخ

## دوئیم جلد

لیکونکے

## خواجه مُحمّد سائل

ACKU

ټول حقونه د لیکونکي په حق کښې محفوظ دي

د کتاب نوم ــــــــــ د باړه مومند تاریخ دوېم جلد
د لیکونکي نوم ــــــــــ خواجه محمد سائل
د چاپ کال ــــــــــ ۱۹۹۸ء
شمېر ــــــــــ پنځه سوه (۵۰۰)
بیعه ــــــــــ ۱۰۰ روپۍ
چهاپ ــــــــــ ماسټر پرنټر پېښور

ACKU

# فهرست


| شمار | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | مغل پښتون سلطنت | ۵ |
| ۲ | بابر | ۱۲ |
| ۳ | دریایی باړه | ۲۲ |
| ۴ | باګرام | ۳۵ |
| ۵ | دلازاک | ۵۱ |
| ۶ | محمّد همایون بادشاه | ۵۸ |
| ۷ | مرزا محمّد کامران | ۶۲ |
| ۸ | یو سر سری تبصره | ۷۳ |
| ۹ | دَ ښخ تپور جنګ | ۸۳ |
| ۱۰ | مرزا محمّد حکیم | ۸۸ |
| ۱۱ | اسلم کودر | ۹۵ |
| ۱۲ | جلال الدّین محمّد اکبر | ۱۰۶ |
| ۱۳ | دَ سیّد حامد بخاری دَ قتل نتائج | ۱۲۲ |
| ۱۴ | تبصره | ۱۳۰ |
| ۱۵ | نورالدّین محمّد جهانګیر | ۱۴۴ |


ACKU

| | | |
|---|---|---|
| ۱۶ | سردار ابراهیم خان مومند | ۱۵۱ |
| ۱۷ | د تزکِ جهانګیری د تحریراتو وضاحت | ۱۶۶ |
| ۱۸ | شاه جهان | ۱۶۹ |
| ۱۹ | احداد خان مومند | ۱۷۸ |
| ۲۰ | خان جهان لودی | ۱۸۳ |
| ۲۱ | کمال الدین خان داؤدزئی | ۱۸۷ |
| ۲۲ | د مغل غلط الزامات | ۲۰۱ |
| ۲۳ | د بیجاپور مومند حاکمان | ۲۰۳ |
| ۲۴ | بهلول خان میارنه | ۲۰۶ |
| ۲۵ | سردار عبدالکریم خان میارنه | ۲۱۳ |
| ۲۶ | دلیرخان عبدالرؤف میانه | ۲۱۵ |
| ۲۷ | بهادرخان داؤدزئی. | ۲۱۷ |

# مغل پښتون سلطنت

دا میر تیمور د وفات ۱۴۰۶ع / ۸۰۷ھ نه پس د هغهٔ د وصیت مطابق د هغهٔ نمسے پیر محمد خان (والیُ کابل و هند) جانشین شو خو د هغهٔ د دغه وصیت خلاف د هغهٔ زامن راپاسېدل او د تخت نشینئ دغه جنګ کښې دا میر تیمور کشر زوي شاه رُخ مرزا والئ خراسان (۱۴۰۶ع تا ۱۴۴۶ع / ۸۰۷ھ تا ۸۵۰ھ) بریالے شو۔ د شاه رُخ د وفات نه پس د هغهٔ جانشین اُلغ بیګ (۱۴۴۶ع تا ۱۴۴۸ع / ۸۵۰ھ تا ۸۵۲ھ) یو کمزورے او نا اهل حکمران ثابت شو۔ چنانچه د اُلغ بیګ او د هغهٔ د ترونو زامنو ترمینځه خونړي جنګونه وُنښتل او د امیر تیمور مضبوط سلطنت په ګڼ شمېر شهزادګانو ولېش شو۔ د دغه خاندان یو مشر ابو سعید مرزا (۱۴۵۱ع تا ۱۴۶۸ع / ۸۵۵ھ تا ۸۷۱ھ) ولد سلطان محمّد مرزا ولد میران شاه ولد قطب الدین صاحبقران امیر تیمور ګورګان که د سمرقند، فرغانه او کابل غزني حکمران وو۔ نو بل خوا د دغه کورنۍ د بل ذیلي ښاخ مشر مرزا حسین بیقرا (۱۴۶۰ع تا ۱۵۰۶ع / ۸۶۴ھ تا ۹۱۱ھ) د هرات په مقام د خراسان غور، قندهار او سیستان بادشاه وو۔ د ده له امخه د ارغون خاندان

ذوالنون بیګ د غور و سیستان والي مقرر و. دا هغه ذوالنون بیګ دی چې د مرزا حسین بیقراء د مرګ نه وروستو یې قندهار کښې د خپل ځان او خود مختار حکومت اعلان وکړو. خو ۱۵۰۷ع (۹۱۳هـ) کښې هرات ته نزدې د اُزبک قوم سردار شیباني خان د لاسه په یوه جنګ کښې قتل شو او د هغه په ځای د هغه زوی شاه بیګ د قندهار حاکم شو.

د ابو سعید مرزا د مرګ نه وروستو د سمرقند او کابل و غزني بادشاهت د هغه د دوو زامنو عُمر شیخ مرزا (۱۴۶۹ع / ۸۷۴هـ تا ۱۴۹۴ع / ۸۹۹هـ) والي سمرقند و فرغانه او اُلغ بیګ مرزا (۱۴۶۹ع / ۸۷۴هـ تا ۱۵۰۲ع / ۹۰۷هـ) والي کابل و غزني ترمنځه وېش شو. د عُمر شیخ مرزا د وفات نه پس د هغه زوی ظهیرالدین بابر د یوولس کاله په عُمر کښې د فرغانه (کوکند) په مقام سنه ۱۴۹۴ع کښې بادشاه شو. خو د اُلغ بیګ مرزا د وفات نه پس د هغه زوم او د ذوالنون بیګ زوی (د شاه بیګ ورور) محمّد مقیم ارغون د کابل و غزني په حاکمیّت قبضه وکړه.

دا هغه زمانه وه چې اُزبک قوم د شیباني خان د مشرۍ تحت زبردست شورشونه او حملې قبضې شروع کړې وې او په دغه ټوله زمانه کښې بابر ژوند د دوی د لاسه بېقراره او پرېشان و. د اُزبک حملو او قبضې په نتیجه کښې هغه خو د حکومت نه خلاص او ځې غمه شو. خو بېچاره ډاتي جنګجویانه صلاحیت به بیا بر سر اقتدار شو. د یوولس کاله جنګ و جدل نه پس آخرکار د فرغانه حکومت نه قطعي بې غمه شو او د خو مغل ملګرو سره پرېشان حال کابل طرف ته روان شو. د کابل په سلطنت

ACKU

دَ محمد مقیم ارغون دَکمزوری حاکمیت نه یې فائده واخسته او ۱۵۰۵ء / ۹۱۰ھ کښې یې محمد مقیم ارغون نه دَ خپل ترهٔ مرزا اُلغ بیګ وراثت قبضه کړو. دَ ذوالنون بیګ حاکم قندهار او بابر ترمینځه زبردست جنګونه شروع شول. ۱۵۰۷ء / ۹۱۳ھ کښې ذوالنون بیګ اُزبک قوم ځنځه دَ یو جنګ دوران قتل شو. بابر دَ موقعې دَ نزاکت نه فائده پورته کړه او په قندهار حمله اوراو قابض شو. خوشاه بیګ (پسر ذوالنون بیګ ارغون) دَ شیباني خان په امداد قندهار دوباره قبضه کړو. بابر دَ شیباني خان او اُزبک قوم له ویرې قندهار بیانه رقبضه نکړو او ۱۵۲۲ء / ۹۲۷ھ کښې یې قندهار قبضه کړو.

دَ پینځلسمې صدۍ اخیری نیمائی برخه کښې کله یوارخ یوسفزی (۱۴۹۰ء خواو شا) دَ دریابیې کابل شمالی ارخ ټوله علاقه دلازاک قوم نه قبضه کړه. او مزید نور قبائل غور و قندهار نه دَ مختلفو علاقو فتوحات لپسې رارو ان شول. نوبل خوا دَ پاک وهند په کافي لویه برخه دَ لودی پښتنو حکومت برقرار وو. خو دَ پښتنو بد قسمتی وه چې دغه موده دَ مُغل نسل ظهیرالدّین بابر دَ کابل په مقام یوبردست مضبوط حکومت قایم کړو. او په پینځمه حمله دَ لودی پښتنو دَ دهلی سُلطنت واکمن شو. او دغسې دَ پاک وهند په علاقه دَ پښتنو قبضه او حاکمیت ختم شو.

دَ مُغل سلطنت قیام نهٔ یوازې داچې پښتانهٔ دَ پاک وهند په سیمه یو لوئې سلطنت ځنځه محروم کړل بلکه دَ لودی حکومت په دا ته

او مرسته چې کوم نور پښتانه قبائل د کابل ولغمان په سیمه د خیبر غرونو لمن کښې د پېښبور په نوره پاتې نوه مکه او شاید د هیا پېښې سند ه نه لاندې تر لاهور د نورخېزه علاقو د قبضې په شکل وو چې په عین موقعه لودی سلطنت ختم شو او د دوئ ارمان واو تمنا پوره نه شوه.

حقیقت دا دے چې د پاک وهند په نومکه د پښتنو سلطنت او د بهلول لودی پښتنو قبیلو ته د هند په سلطنت کښې د شرکت دعوت.[1]

---

[1] په دې ورځو کښې محمود چې د جونپور مشر کله هند خایه د ډېرو خلقو سره راغلے او د دهلی نیاریې قلعه بند کړې دے. د پښتنو وارهٔ او نور سرې هم په دغه نیار کښې وې که عزیزان د مرستې په ډول د ډېرو سړو سره دغه هېواد ته تشریف راوړئ نو هم د کومک خت دے ..... د دغه فرمانونو په رسېدلو سره سم د روه پښتانه د مېږو او ملخو په شان راروان شول او د ستروالکن بهلول خند مت ته یې ځانونه راورسول. د والکن محمود لخوا د سبه سالار فتح خان هروي لښکر ته یې شکست ورکړو. ډېرو سردارانو د بېرته تللو اجازت وغوښتو. بهلول سرار وکړو چې دوئ دلته پاتې شي خوځوئ ورته عرض وکړو چې مونږ دغه هېواد ته راولاړو د تور سرو د نیات تلو دپاره د مرستې په ډول راغلي وو. سلطان بهلول دوئ ته ډېر انعامونه ورکړل. په دې وخت کښې کالوخان عرض وکړو چې داوارې ادې ستروالکن ما د انعامونو او سوغاتونو اخېستلو څخه معاف کړې ځکه چې زهٔ دلته په دغه نیت راغلے نهٔ یم.[2]

---

[2] تاریخ شېرشاهی از عباس سروانی. ترجمه دکتور دولت محمد پښتو ټولنه ص ۲۷.

دَ پښتنو حوصلې، جذبه او د ملک گیرۍ شوق وطلب راڅرګند کړل او دغه قبائل د لې دلې د خپل زور مسکن او غزو نو څخه د ډیر خپره او میدانی سیمو دَ قبضې په غرض را روان شول ـ خو یو څوا دَ مضبوط مُغل سلطنت قیام او بل پلو دَ لودی سلطنت خاتمه دَ دغه عمل تکمیل نیمګړے نیمه څوا کړو. او هند پلو څخه، عن چې ایران پلو هم دَ قبضې، حملې او هجرت سلسله بند شوه.

دَ ایران په سیمه هم دغه زمانه دَ شیخ صفی الدین اسحاق (۱۲۵۲ع / ۶۵۰ھ) نسل نه یو بهادر ټکره ځوان محمّد اسمٰعیل راپاسید ـ او (۱۴۹۹ع / ۹۰۴ھ) کښې یې دَ ایران په خاوره یو مضبوط صفوی سُلطنت تشکیل کړو او دَ دغه سلطنت سرکاری مذهب یې شیعیت مقرر کړو. او دغسې دَ ایران او دَ سیستان و قندهار ترمینځه دَ شیعه سُنی مذهب په اساس قدیم رشته او تعلق بیخې ختم شو او راتلونکے وخت کښې دَ دواړو غرتو مابین دَ جنګ وجدل بنیاد وګرزید و.

دَ اسمٰعیل اول دَ وفات (۲۳ مئی ۱۵۲۴ع / ۹۳۰ھ) نه پس دَ هغه ځوئې طهماسپ اول او دَ دهٔ دَ وفات (۱۵۷۶ع / ۹۸۳ھ) نه پس اسمٰعیل ثانی (۱۵۷۶ع / ۹۸۳ھ تا ۱۵۸۵ع / ۹۹۳ھ) بیا شاه عباس اول (۱۵۸۵ع / ۹۹۳ھ تا ۱۶۲۸ع / ۱۰۳۷ھ) دَ دهٔ نه پس صفی اول (۱۶۲۸ع / ۱۰۳۷ھ تا ۱۶۴۲ع / ۱۰۵۱ھ)
عباس ثانی (۱۶۴۲ع / ۱۰۵۱ھ تا ۱۶۶۶ع / ۱۰۷۶ھ)
صفی سلیمان (۱۶۶۶ع / ۱۰۷۶ھ تا ۱۶۹۴ع / ۱۱۰۵ھ)
او اخیر سلطان حسین بادشاه شو. خو ۱۷۰۹ع / ۱۱۲۰ھ کښې دَ پښتنو دَ غلجو قوم

مشر میرویس خان زوې میر محمود په ایران قابض شو. د ایران
په زمکه د پښتنو شل کاله حکومت نه پس ۱۷۲۹ع / ۱۱۴۲هـ کښې نادر قلي خان
راپاسېده او د میر محمود جانشین ورور میر شرف څخه یې بېرته
د ایران تخت قبضه کړو او د صفوي خاندان طهماسپ ثالث یې بادشاه
کړو. څو ورځې پس یې دے معزول کړو او د ده د اتو میاشتو ماشوم
زوې د عباس ثاني په لقب یې بادشاه مقرر کړو. د ده د مرګ نه
وروستو ۱۷۳۶ع / ۱۱۴۹هـ کښې نادر قلي د نادر شاه په خطاب پخپله د ایران بادشاه
شو او د صفوي خاندان بادشاهت عملاً ختم شو.

د لودي او سوري پښتون حکومت غټه سیاسي غلطي دا وه چې
هغوئ د دهلي سلطنت حدود د دریاب جهلم نه پورته د پښتنو
سیمې ته راوُبږده نکړل. آیا په دې وجه چې د دریاب جهلم نه راپورته
د دوئ خپله پلار ګنې سیمه وه او د دې ځائې وسېده ونکو نه هغوئ
پخپله زړه کښې هیڅ قسم ویره او خوف نه محسوسولو او یا هغوئ
پخپله پاکه مقدس خاوره د جنګ وجدل او د جاوینه بیُول د خپل
پښتني غیرت او وقار خلاف ګڼل. چې هرڅه وجوهات وُو. څو د دغه
سیاسي کوتاهئ او غلطئ په نتیجه کښې بابر د پښتنو په زمکه مستحکم
مضبوط حکومت قایم کړو او د پښتون لښکر په امداد یې پښتون
بادشاهت اختتام ته وُرسولو.

شېر شاه سوري که هرڅو تر دریاب جهلم را ورسېده ونو
هغه خپل تامې دُشمن مُغل لیې پورته راتلو او د پښتنو په سیمه

مُغل حکومت برقرار پاتې شو او دَ دغه حکومت په دوام هڅوئی بیرته دَ دهلی تخت قبضه کړو اودَ پښتنو دَ پاک وهند حکومت دَ هڅوئی دَ خپل کورسنګرونو او مورچو څخه ختم او دَ مُغل په لاس شو.

دَ مآثرالأمرا په نزد:

"جس کسی کے پاس کابل ہوگا۔ تو جس قدر ساماں اور نوکر چاہے گا مل جائے گا۔ بابر اور ھمایون نے کابل کی مدد سے ہندوستان فتح کیا ہے۔ اگرچہ ان کے پاس خزانہ نہ تھا۔"[1]

دَ پښتنو پادشاهانو بر عکس دُورانديش مُغل سلاطین دَ کابل و پېښور ته په اهمیت سنهٔ پوهي وو۔ او دَ خلاصة التواریخ ۱۶۹۲ء په حواله:

"دَ کابل و پېښور صوبې امدنی کمه ده۔ خو دا ستوران دا سیمه دَ هندوستان پاتک او دروازه ګنړي۔ دَ هندوستان مُغل بادشاهان دې ځاې فوځي مصارف دَ پاره دَ کافر قم په دې غرض استوي چې ایران و توران څخه دَ دې ځاې سرحدات محفوظ وي۔ پخوا زمانه صوبهٔ کابل دَ هندوستان قلمرو نه خارج ده او توراینو دَ هندوستان سرحدات لوټل۔ نتیجه دا وه، چې پنجاب هر وخت ویران او ویجاړ پروت وو۔ او س چې کابل دَ هندوستان دَ بادشاهانو (مُغل سلطنت) تحت دے۔ نو پنجاب ښاد دے او هندوستان محفوظ دے۔"[2]

---

[1] مآثرالامرا جلد اول ص۵۶۴  [2] خلاصة التواریخ ص۱۳۶

# بابر

دَ امیر تیمور گورګان (۱۳۳۶ع/۷۷۱ھ تا ۱۴۰۶ع/۸۰۷ھ) دَ وفات نه پس دَ دغهٔ په څلورم پُښت کړوسو کښې عُمر شیخ مرزا په فرغانه کښې حاکم وو. دَ عُمر شیخ مرزا نیکه او دَ بابر مور دَ چنګیزخان دَ دویم زوی چغتائی نسل نه وه. او دغسې بابر دَ برلاس او چغتائی نسلونو امتزاج وو. دَ اصل په اعتبار دا نسل منګول خو دَ وخت په لحاظ ترک النسل وو.

دَ شیخ مرزا دَ وفات نه وروستو دَ هغهٔ زوی ظهیرالدّین مُحمّد بابر په کال ۱۴۹۴ع/۸۹۹ھ کښې دَ فرغانه په مقام دَ یولس کاله عُمر کښې په تخت کښېناستو. دَ تخت نشینۍ نه جوخت وروستو دَ ده خپلخپلوان او تربوران دَ ده خلاف راپورته شول او دے یې بې آرام او سرګردان کړو. دَ توري په زور چې به یې یو ځائې ونیو نو بیا به تري دُښمنانو بیا قبضه کړو. عن چې په کال ۱۵۰۲ع/۹۰۷ھ کښې دَ اُزبک قوم سردار شیباني خان دَ لاسه دَ سمرقند او فرغانه نه هم بې برخه شو. او سر و هلے خفه پریشانه دَ دغه علاقو نه بوتې بهر شو او دَ دري کاله سخت جد و جهد نه پس دَ امیر محمّد باقر په مشوره کابل ته راورسیدو. دغه زمانه کښې کابل

ACKU

حکمران دَمرزا اُلغ بیګ (وفات ۱۵۰۲ع / ۹۰۷ھ) نوم مُحمّد مقیم (لسپر ذوالنون بیګ ارغون) وو.

دَ ارغون (ایلخانی) خاندان بانی ذوالنون بیګ دَ غور و سیستان والی وو او قندهار یې دارالخلافه وه. دهٔ په ۱۴۹۹ع / ۹۰۴ھ کښې پهٔ دې پل فوځ کښې کن شمېر دَ غورو نامېندا ور او قندهار پښتانهٔ بوتی کړل او په هرات حمله اورشو. دَدهٔ زوئي محمّد مقیم دَ خپل لښکر مرزا اُلغ بیګ دَ مرګ (۱۵۰۲ع / ۹۰۷ھ) نه پس په کابل حمله وُکړه او دَ غه ځائې نه یې خپل آ و بنې امیر عبدالرزاق (بن مرزا اُلغ بیګ) لغمان پلو په تېښته مجبور کړو.

بابر ۱۵۰۵ع / ۹۱۰ھ کښې خپل لوي مغل لښکر څخه دې په ... سانۍ دَ کابل په قلعه قابض شو او محمّد مقیم قندهار پلو وتښتېدو. ذوالنون بیګ ارغون ۱۵۰۷ع کښې دَ اُزبک سردار شیباني خان دَ لاسه دَ هرات په مقام یو معرکه کښې قتل شو. دَ هغهٔ دوه زامن شاه بیګ او محمّد مقیم کهٔ یو ارخ دَ اُزبک سردار شیباني خان نو بل ارخ دَ بابر دَ حملو نښانه شول. او قندهار کښې دَ دوئی ژوند بې آرامه شو.

بابر لیکي:

« مئی ۱۵۰۷ع / ۹۱۲ھ کښې موږ په دې اراده دَ کابل نه بهر (۱) ووتو چې کوندې په خلجي قوم حمله وکړو. موږ چې دَ سردیهه په مقام پړاؤ وکړو. نو خبر راغلو چې موږ نه لږ لرې دَ مشت او سه کانه په مقام کښې مومند پراته دي. زامونږ

تکړه او بهادر ملګرو ووېې چې په مومندو ضرور حمله
بېکار ده. خو ما انکار وکړو او بهترې مې دېکښې ولیده
چې دوئی نه ادرسبدله کړو او هغه کار کوم کار په
نیت چې مونږ راوتي يو.[1]

"۱۵۰۸ع / ۹۱۳ھ کښې د مهمند (مومند) قبیلې پښتنو د شورش
او بغاوت خبرونه مسلسل کابل ته رارسېدل. د سپرلي
موسم وو چې ما د نغرک په خواکښې ایا د مومند قبیلې باندې
د خپل فوځ په امداد حمله وکړه. هغوی مې لوټ کړل او د
هغه ځائې نه راواپس شوم[2]"

"دغه کال زه په کابل کښې وم چې د دریاخان زوئې یار حسین بهیره
ماته راغلو او په هندوستان باندې د حملې رائې راکړه. خو
ورځې سوچ وفکر نه پس مې فیصله وکړه چې زه دې په
هندوستان حمله وکړم. کوم کسان چې د هندوستان د
حالاتو نه واقف وو هغوئی نه مې مکمل تپوسونه وکړل
دې نه وړاندې ما چرې هم کرم ملک لیدلے نه وو. دې
طرف ته په کرم چشمه (یعنی کابل ارخ) د کیانی زنګیانی) قوم
یو مشر یحیی خان راغلو. هغه ما ځان تحفه په دې خیال ملګرے
کړو چې زما ر هغائی وکړي. دوه درې منزله پس مونږ

---

[1] بابرنامه (انګرېزي) جلد اول ص ۲۲۳ [2] تزک بابری

جام (جمرود) ته وُرسېدو. جام څخه نږدې د کورک تېرې (کورکهتري) مندر وو. هندوان به کلونو لرې نه د دې مندر زیارت له راتلل. جام کښې څه ساعت ایسارتیا نه پس زه د بکرام (باگرام) سېل له روان شوم چې کورک تېرې څخه جوخت پروت وو. خو زما لار شوو نکي سعید بکرامي ما نه د دې ځای حال بیان[1] سلا وو. خو په والپسي هغه زما نه معذرت وغوښتو. او خواجه مُحمّد امین ته یې ووې چې ما هغه (بابر) کورک تېرې ته بُوتلو ځکه چې د هغه ځائې لار ډېره تنګه او دشوار ګذاره وه.

دغلته مشکرو څخه صلاح وشوه چې کومه لار اختیار کړو. صلاح په دې شوه چې د دریا یې سنده[2] په طوف د تک په ځائې کهت (آداب عالمګیري جلد اول کهات. کهاټ = کوهاټ. کر. وید = سوسارټو

---

[1] د کهتي یا کهت "د پانیني کاته. دیجروید کاته. کتاکا، د راماتن کاته کالا په) په نوم ۷۵۸ ق م کښې د اېشیائي کوچک په سیمه یو طاقتوره قبیله او د ساکاقبایل یوښاخ د هند نسلي تاریخ ازجکر برتهي صفحه ۳ چې ۶۸۵ ق م کښې یې د اسور ربت خاندان د محمورابي بادشاه د سلسلې د بو کښتي نه د بابل سلطنت قبضه کړې اوله ۱۱ ق م پورې "د شپنو یامال څرونکو حکومت" په نوم غلته بادشاهان وو. ۱۷ ق م کښې د دې "نوري بادشاه سارګن دوم (۷۲۲ ق م تا ۷۰۵ ق م) د د وی تبولي نوري رکوچې راجد هانه ختم کړې او دغنې د کهت یا کهتي د کرد تاریخ د صفحا نه ختم شو. د کهتي ژبه پښتو ته ډېره نږدې وه او ځینې الفاظ لکه:

| سنسکرت | کهتي | پښتو |
| --- | --- | --- |
| ایکا وارتانه | اشکا ورتنه | یو وار |
| تواي وارتانه | تري وارتنه | دري وار |

پلولار شو۔ دَ دغه ځائې خلق مالداره دی او ډېر دولت به تر لاس کړو۔

مونږ چې جام نه روان شو نو د دریائې باړان (دریائې باړه) نه پورې دَ توا او دَ محمد تېنګ دامانی (شېخ محمدی) په خوا کښې پراؤ شو۔ دا دَ پېښور علاقه ده۔ دلته کاکیانی (ګګیانی) پښتانه اوسی۔ زمونږ راتګ نه چې هغوئې خبر شول نو ویرې نه هغوئې غرونو ته پلوه وتښتېدل۔ دغو غرونو کښې دَ پېښور خواکښې آباد کاکیانیا نو مشر خسرو کاکیانی وو۔ هغه اسلام له حاضر شو او ځان ئې خخه مې ملګرے کړو۔ او دَ دهٔ په راهنمایۍ کښې په نیم شپه دغه ځائې نه روان شو۔ ایله تر ختلے ووچې مونږ کهت (کوهاټ) ته ورسېدو۔ ډېرې غواګانې او مېښې راته بطور دَ غنیمت په لاس راغلې۔ مونږ په کهت کښې دوه شپې او دوه ورځې تېرې کړې او بیا مو دَ هنګو یا (هنګو) لار واخېسته۔ دَ کهت او هنګو یا تر مېنځه

---

| پښتو | کهتی | سنسکرت |
|---|---|---|
| پېنځه وار | پانځه ورتنه | پانکاوارتانه |
| اووهٔ وار | ساتا ورتنه | ساپتاوارتانه |
| نهه وار | ناوورتنه | ناوه وارتانه |

لکه چې یوشان نښکاری - رد هند نسلی تاریخ ص۱۹۲، ۶۲

دَ شمالی وزیرستان په سیمه دریابې کېتو لکه چې کهت نخنه اخذ وی۔ دَ کهت قبائل یوه لو یه ده له لکه چې دَ دریابې چناب رهیند راوت) او هیفاس ترمنځ آباده. سنګالم رسیالکوټ) یې داره لخلافه وه۔ دَ دې ځائې جنګجوا و شمشیرزن کهت قبائل دَ سکندر اعظم سخت مزاحمت وکړو خو شکست یې وخوړو۔ دَ کهت په مناسبت کاتهیاوار، کهت مانډو، کهتمنډو وغیره له دَ بابر دَ زړک په وخت دلته دلهزاک وسېدل۔ ممکن دَ چې ګګیانی ورنخنه دَ وصلیانو په حیث ډېره وو۔

یوه دره ده. دې طرف ته د پښتنو زمونږ په سورو حملې شروع کړې او ډېر کسان یې را نه وُ وژل. خو آخر په دوې کښې مونږ یو نیم سل[۱۵۰] پښتانه ژوندي گېره کښې راوستل. د دغه نه مونږ څه وو وژل او څه مونږ ونډي ونیول (د بابر د وینا مطابق) د پښتنو دستور دے چې هر کله چې شکست ومني نو په خوله کښې واښه ونیسي او په ننواتې راشي دغه پښتانه هم په خوله کښې واښه نیولي راغلل خو مونږ د هغوی دستور او طریقه قبول نه کړه دوئ ته مو پوره سزا ورکړه او د دوئ سرونه مو پرې کړل[۱].

$\frac{۱۵۱۰ م}{۹۱۵ هـ}$ کښې د هندوستان په اراده دوېم ځل روان شوم د باجوړ او سوات علاقه مې په قبضه کښې راوسته. د دغه ځائې مشري د یوسفزي قبیلې سردار شاه منصور مقرر کړو. د شاه منصور لور بي بي مبارکه (افغاني آغاچه)[۲] مې واده وکړو او د دغه ځائې نه مې دهلي ته سفارتونه ولېږل. په واپسۍ چې مونږ پېښور ته راتېر شو نو د غلتیو امزري بر پرانګي وهلے تېرېدې. مونږ آسونه ورېدل او یو خوا بل خوا ونښتېدل. ډېر سواره آسونه پرې راپرېوتل. خو خلق زیات وونوا مزرے حلاړ کښې پټ شو. مجبوراً ته یو مېښه وتړله امزرے څه ساعت پس بهر راووتو او په مېښه یې حمله کوله چې مونږ

---

[۱] تزک بابري ص۹۷ [۲] همایون نامه د بي بي مبارکه نوم افغاني آغاچه ښائي ځکه چې بابر څخه واده نه پس په دې خطاب نامځلي شوې وه.

خلور واړه وړو اړخونو نه د غشو په باران ورته پسا ورکړ او بیا مو په تښتکو وو هلو.

دغه ځای نه بیا له ورځ پېښور پلو روان شو. د بګرام خوا کښې ډېره شو او د کور کهتړی سیل مو وکړو. دلته مو په دلهزاک پښتنو مال غنیمت تقسیم کړو. د دوی شپږ و مشرانو ته مو سل سل مثقاله چاندی سرې سر د کېږدې پونتهان، هر کس ته دری دری خوا کانی او یو یو مېښه ورکړه. د دوی نورو ملګرو ته مو هم څه ناڅه ورکړل. بیا دې ځای نه علی مسجد پلو روان شو. د دغه ځای یو دلهزاک سردار مونږ ته خلو بېنت ګډان، دوه یورغه ورښې او آته چیلی د مېلمستیا په توګه راکړل[1]. هو کله چې کابل ته ورسېد و نو څه موده پس بیا خبر راغلو چې یوسفزی پښتنو اړې ګوړې سازه کړې. مونږ بیا کابل نه یوسفزو پلو روان شو او د سوات لاره مو ونیوه.

د دلهزاک مشر سردار موسی خان زمونږ خدمت کښې حاضر شو او مشوره یې راکړه چې هشت نغر (هشتنغر) کښې ډېرې داسې قبیلې دی چې ورځه کانی غله ده او دوی ته د غه غله اخستل پکار دی او د پېښور قلعه کښې یې محفوظ کول ضروری دی. دا تجویز منظور شو. مونږ په دوېمه ورځ هشت نغر پلو روان شو او بیا د غه ځای د خیبر غرونو خواله ورسېدو چې په باړه[2] کښې د آفریدو پښتنو څه جوپې پرتې دی او بیا غله ورځه ده

---

[1] تزک بابری ص ۱۶۱ [2] د موجوده نوښار بالمقابل د سیند په بله غاړه د نوښهرې کلان نو ژړپوم او د محمدزی قبیلې اخری کلے باړه وو نه پوهېږو چه بابر د کومې "باړه" ذکر کوی.

نو په دویمه ورځ مونږ دره خیبر ته ورننوتو او علی مسجد کښې مو پړاو وکړو[1]

مونږ بابر ۱۴۹۵ع (۹۰۰ھ) نه تر ۱۵۲۴ع (۹۳۰ھ) د سمرقند، فرغانه، بخارا، بدخشان

کابل او قندهار په مېدانونو کښې د امیرانو د پرېوتو الټمر دی خپلو عزیزانو

او اناریکو تخته په جنګ بوخت وینو ـ د هندوستان د تخت د نیولو کاله دوران کښې

هغه د نورو د پرېښتنا او د اس د تلا نه بل هېڅ نه وینی ـ

د هندوستان د فتح او دغلته د فېصله کن جنګ په نیت هغه پوځ

بیا په ۱۰ اکتوبر ۱۵۲۶ع (۹۳۲ھ) د خیبر د تنګو غرونو نه راښکته شی او د بګرام خوا

کښې پړاؤ شی ـ بابر لیکی:

„ دلته رارسېدو او پړاؤ نه وروستو مونږ بله ورځ سحر وختی

ښکار له ووتو مونږ د بګرام بالمقابل سیاه آب[2] (دریایی باړه) نه

پورې وتو او د ښکار په غرض موکښې واچوله ـ او د تالی ښکته پلو مو

تلاش شروع کړو ـ لږه لحظه پس یو کس خبر راوړو چی بګرام تخته زمې

ځنګل کښې یو ګېنډه ده، او دېر خلق ترې راچاپېره شوی دی ـ مونږ

دېر تېزی تخته دغلته ورسېدو ـ ګېر چاپېره تاوشو او شور پکې

موجود کړو ـ ګېنډه ابهر را ووته او منډه یې کړه همایون او د

هغه ملګرو دې منظر نه ډېر لطف پورته کړو ـ همایون دې نه مخکښې

کله هم ګېنډه لیدلې نه وه ـ مونږ تر دوو میلو دې پسې تعاقب وکړو ـ

---

[1] تزکِ بابری ص ۱۴۷ ـ

[2] نکه چې د نمه وخت باړه کښې د سپادې خوړ او یه ویو ـ

ACKU

او په ډېرو غښتو مو ورا یسار کړه. دغه دوران کښې مو دوه نور ګنبدې هم ووهل لې. زما د زړه دا لوی ارمان وو چې ګنبده او هاتي خپلو کښې مخامخ شي نو چې دوئ به څه کوي. مهاوت یو هاتي راوستو او دغه ګنبدې ته یې مخامخ کړو. خو هغه ورته مخامخ نه شو او مخ یې ترې اېل پلو واړولو.[1] "

مونږ وروستو ګورو چې دسمبر ۱۵۲۶ء / ۹۳۲ھ کښې د پاني پت په مقام د بابر او ابراهیم لودي ترمینځه یوه زبردسته تاریخي معرکه وشوه کومه کښې چې بابر بریالے شو او د دهلي تخت پښتنو نه مغلو قبضه کړو. بابر د هندوستان په سیمه نورو معرکو او فتوحاتو نه وروستو ۱۵۳۰ء / ۹۳۶ھ کښې د آګرې په مقام وفات شو او د وصیت مطابق په کابل کښې ښخ شو

بیا له پسه د دهلي بادشاه بابر شو
چې یې کار د پښتانه په برکت دو

(خوشحال خان خټک)

د بابر حملو او قبضه که یو خوا د پښتنو د بادشاهت او فتوحات د تباهئ او جمود سبب شو نو بل خوا د پښتنو قبیلو د ګمنامئ تاریخ نه پرده پورته شوه. تزک بابري مونږ د ځینو پښتنو قبیلو لکه آفریدي، یوسفزي، اورکزي، بنګش، توري، دلزاک، ګګیاني، مومند

---

[1] بابرنامه انګریزي ترجمه جلد دوم ص ۱۵۱

محمدزی. لوهانی، نیازی، عیسی خیل، خلجی او وزیر څخه او ځینې علاقو لکه پیښاور (پیښور) باجوړ، سوات (سوات) کهټ (کوهاټ) هنګو (هنګو) کورکهټری، خیبر، علی مسجد او جام وغیره څخه متعارف کوی. بابرنامه روښنه معلوم کتاب دی چې د پښتون قوم د څو قبیلو ذکر نی په واضح ډول کوی. او د پښه پس پښتانه مورخین د ځیل اصل نسل په حقله قلمطرازی کړی دی. او د پښتون تاریخ لیکی؛

---

ACKU

# دریابي باره

ب

بې او به د لنډۍ سیند یا د باړې دی
چې په خوله مې ترشربت لاړې شیریني
که او به سرې په تنده په خواره څښي
د با ړې او به خوتر ناحقه ، وځښي
(خوشحال خان ختک)

د کائناتو په دُنیا کښې چې کله نه د نه ملکې وجود موجود دے هغه راسې ډدې په مخ د د ننګولوړو غرونو او او وچتو ونکو او غونډو وجود هم را روان دے۔ او د خبرا و تیراه دغه لوړ دنګ غرونه هم د دغه سلسلو یوه برخه او حصه ده۔ دغه دنګ لوړ غرونه او څوکي چې د باران په صفا ستره او بو خپل مخ وينځي نو کله خاوريني شکلې او به لاندې را اوړتا وکوی او د سيلابي نالو او رودونو شکل اختیاره وی۔ دغه سيلابي رودو نو څخه یوه ناله دلته مُونږ د پښور په سیمه د دریابي باره په نوم پيژنو چې د تيراه وادي يا سیلابي

او به یې یکښې کالوسر بهیږي.

دَ قدیم تاریخ له مخه د ,,باره،، ذکر موجود دے. البیرونی په خپل کتاب ,,القانون المسعودی،، کښې ,,باره،، په ۵۰ - ۹۰ طول بلد او ۰ - ۰ عرض بلد ښائي او دا ځائې دَ جم کوټ یا جمه گرد (جرود) طول بلد ۰ - ۹۰ ۱ عرض بلد ۰ - ۰ په علاقه ښائي. دَ البیرونی مطابق ,,جم کوټ علاقه کښې دَ باره ښار دے.

او دا ځائې دَ فارس انتهائي مشرقانه دے

البیرونی دَ هند په حواله دا ځائې دَ یوجین (ربنیر) یو ښار ښائي او وائي!

,,جم کوت او باره دَ هند شمال مغرب علاقه ده. دَ ایرانیانو په نزد دا ښار کیکاؤس یا جم (جمشید) دَ سمان ره ښا دپرلوي مشرق کښې آباد کړے وو۔،،

دَ حدود العالم په دې حیاحیده چي باره (باره) مشرق نه مغرب ته په ۹ طول و بلد پروت دے. دَ مختلفو بیکوالو دَ بحث محور شوے او دې نامعلوم ځائې په حقله یې خپله قیاس ارائي کړے ده. البیرونی دَ غه باره پته اوا اوانگریز محقق مینورسکی ورته په خاص دلائل ,,باره،، وائي.[1]

دَ اوستی نو ښار مخامخ دَ نوښهره کلاں په مقام دَ محمدزی قام

---

[1] حدود العالم- مینورسکی ۱۸۹-۱۸۸

آبادی هم دَ «باړه» په نوم مشهوره وه چې دَ مغلو راتګ او دَ اوسنی نوښار تعمیر نه وړاندې مشهور مقام وو. دَ سرای باړه (نوښهره کلان) بالمقابل زین خان کوکا دَ یوسفزیو او مومندو خلاف دَ مهم دوران یوه نوې قلعه تعمیر کړه او نوښار څخه چوخت دَ کابل په سیند دَ پورې واوتو ګذرګاه او ګودر یې دَ خیرآباد په لار اټک ته منتقل کړو او دَ دې ځای نوم یې نوښهره (نوښهر - راه) کېښود و دا ئې چې همایون به دلته دَ شترمرغانو ښکار کوو.[1]

دَ البیروني دَ «باړه» ذکر لکه چې جم ګوټ[2] څخه سم راځي نو بې شک دا ځای دَ نوښار «باړه» نه دی او نه دا دَ تهوبي (مولي) ته مفکتي توبیله بند څخه چوخت «باړه» نومې ځای دی. نه دا ځای (سال پور) لاندې «باړه بانده» دی او نه دا ځای دَ ملچینی «باړه» معلومیږي بلکه دا ځای دَ پېښور (ښار) غرب دَ خیبر په لمن کښې «باړه» ښکاري.

«باړه (باړه) په معنی دَ لویې لار «بار» سنسکرت ۲ لویې او «ره» (راه = لار) ده. دا لویه لار یو زمانه دَ هند او ایران تر منځ دَ کاروان

---

[1] تزک جهانګیری ص۲

[2] دَ راما ئڼ په نظر دَ جم راج دَ تاورا و طاقت دیوتا دی سره بنیو ګاني دَ جم راج به رنګ پر غضب دی او دَ هغوی بدن نه دَ دینو سیلاب بهروان دی ص۲۶۸ سره رام چندر جي دَ ګو ټاکي لکشمن ورور ته پاس او چت شه ته خو دَ جم راج دَ بهکشو او دَ دیوتاګانو لمافظیني ص۲۷ سره بیا هغه دَ جم راج په شان غضبناک راپاسید و ص۲۷ سره بهګوان دَ سل کرور جم راجګانو په شان هیبتناک دی ص۶۲

ACKU

او تجارت شاهراه وه. د نوښهره کلان ته ورنوم "باړه" او د صوابۍ تحصیل نه ښکته د دریای سند په غاړه "باړه"، په دغه لویه لار د قافلو د آرام ځای بانډه او سرای وې او کښتک نه تر مغل د اهمیت څوکه مقامات وو. خو د اکبر بادشاه په زمانه چې زین خان کوکا د موجوده نوښهره (نو = نوے، ښهر = ښار، ره = راه) یعنی د نوی ښار په لار د نوښار بنیاد کیښود. نو د "باړه" وقعت او اهمیت کم شو. د "باړه" نوم متروک او هیر شو او دغه مقام د نوښهره کلان په نوم مشهور شو.

بابر بادشاه په خپل کتاب "تزک بابری" کښې څو ځایه د "باړه" ذکر کوی لکه چې هغه په مختلفو ځل پېښور ته راورسي نو لیکي چه

"مونږ چې د جام (جمرود) نه را روان شو نو د دریابې باړه (د سیابې باړه) نه پورې وتو او د محمد شیخ دامانی (شیخ محمدی) په خوا کښې مو پړاو وکړو."

بیا دویم ځل چې د دې علاقې د تسخیر په ۱۸۱ ده راځي نو داسې لیکي

"مونږ چې د خیبر د غرونو څخه راغلو نو د علته پته ولګیده چې په "باړه" کښې د آفرید و پښتنو څه جوپې پرتې دي او نیغ د ډیره غله ورځخه ده."

بابر چې ۱۵۲۶ء / ۹۳۲ھ کښې د هندوستان د فتح په نیت او د علته رلېږ فیصله کړې ځنګ په ۱۰ ده پېښور ته راورسي نو د پېښور خوا کښې ډېره شي هغه لیکي "د ښکار په نیت د بګرام سیند (آب سیاه: د سیابې باړه) نه پورې وتم او ګېنډې ښکار می وکړو."[۱]

[۱] پېښور ګزټیر ص ۱۸۲۷-۹۸ (9)

باړه د تیراه د میدان د باغ د چینو او خوا و شا غرونو نه
سرچشمه اخلي او د شلوبر نه مکه خړوبولو نه پس د کوکي خېل قبیلې
برید ،، دوه توییې ،، ته رارسي. دغلته د سپین غر د مورګي راجګل
توییې ورڅخه یوځای شي او مخ په ښکته مخه ونیسي. د دوه توییې
نه تر ممانۍ او عین تر باړه قلعه علاقه په ،، باړه دره ،، مشهوره ده.
د ممانۍ پورې د آفریدي قبائل زمکه اوبه کولو نه پس مخ په ښکته رارواڼ
شي. د میدان د جنوبي اړخ د اورکزي تیراه مستوره یا تیراه توییې
اوبه ورڅخه د باړې قلعه نه څه لس میله پورته یوځای شي او د
کجوري او اکاخېل قبائل تر منځه خپل منزل جاري وساتي. د دې معاونو نالو
او سرچینو نه علاوه د تور درې اوبه. د بکدال اوبه او د خوخ اوبه
هم دېته راګډیږي. دریابې باړه چې د تیراه تورو د ګو غرونو نه
راوځي نو د خلیل مومند په علاقه راداخل شي. د باړې قلعه په مقام
دوبندیه یا په دوه مختلف ناوکینې د خلیل مومند په ور زمکه داخل
شي. شمالاً د خلیل قوم او جنوباً د مومند قوم ته یا سپلاڼه ده. د دغه دوه
غټې سپلاڼي نالو بیاکن شمیر ورکوټي لختي او سپلاڼه دي چې د خلیل
مومندګانې علاقه خړوبه وي. د دغه دوه غټو ناوکو نه یا تې پاتې سپلاڼې
اوبه مخ په ښکته مشرق پلو خپل منزل جاري ساتي او د مومند قبیلې
کوز پراته فصلونه اوبه کوي. او ناڅاپه اوبه دریاب لنډې ته پرېوځي.

۱۸۸۰ م کښې انګرېز سرکار د خلیل مومند سپلاڼې تالونه یو
میل پورته د خلیل تېپې اړخ د سرکاري چاونۍ د فوځ د باړه د اوبو

دَرسد په غرض یوه بله تاله جوړه کړه. څو اصلي مقصد یې دَ خټکو دَ اوبو په ځای دَ چاونړۍ او څواوُ شا سرکاري جایداد او باغات اوبهٔ کول وو. عن چې بیا وروسته دَ چاونړۍ دغه وله ۱۸۹۴ء کښې پېښور ښار ته هم ورواوړه شوه او کچه وله پخه شوه. دَ باړې قلعه په څوا کښې دَ څرو اوبو صفایۍ دَ پاره څلور لویې تالاوُنه جوړ شول. او مزید صفا او ربړو اوبو دَ پاره دَ ټپېشته څره په مقام تالاوُنه تعمیر شول. او چاونړۍ ته دَ خالص صفا سپېڅلو اوبو دَ رسد بند ولبست وشو.[له]

دَ سرکاري حاجت په غرض دَ کافي اوبو حصول نتیجه دا شوه چې دَ خلیل مومند په ځمکه اوبهٔ کمیاب شوې او دَ دې غم اثر دَ خلیل قوم په مزکه پرېوتو. دغوی څو وار سرکاري نالې نه پوره ته دَ خیلی نکې جوړولو کوشش وکړو. خو چونکه دَ نوې نکې په تعمیر مومند متأثره کېدل نو په دې وجه مومند هغوی دَ نوې نالې تعمیر ته پرې نهٔ ښودل. دغسې دَ دواړو قبیلو ترمینځه یو نهٔ ختمېدونکې جنګ شروع شو او په مختلفو موقعو کانی کښې کسان قتل شول. ۱۸۵ جولائی ۱۸۸ جنګ په دغه کښې قابل ذکر دے چې دَ باړې په اوبو دغه انښته کښې دواړو اړخ ته کښې شمېر کسان مړهٔ او ټپیان شول.

,,باړه،، دَ خیبر غرونو جنوبي اړخ مغرب نهٔ مشرق طرف بهېږي

---

له ګزټیر ۹۸-۱۸۹۷ء ص ۳۲۹

خوړ مستوره یا تیرا له توییږي په معاونت د اخیل اړخ لر شمال مشرق طرف تاؤ کړي. خو هر کله چې د غرونو نه را بهر شي او د پېښور په حدود داخل شي نو دا یو ځل بیا تنګ شي او مغرب نه مشرق ته تبدیل شروع کړي. د هزارخانۍ نه لاندې ځي په شمال او د تهکال چوګېرو خوا کښې ځي په نښکته د خمکنو او جهګړانه لاندې بیا دوباره ځي په شمال او د اکبرپورې خوا کښې ځي په مشرق روانه وي او اخېرکار د دریاب کابل سره یو ځای شي.

سه د کال په اکثرو موسمونو کښې دلته او به بهیږي د ستمبر نه واخله تر مارچ اپریل پورې په دې کښې د چینو او د مئی میاشت نه واخله تر اګست پورې په دې کښې زبردست سیلابونه وي چې ځینې وخت د خواوشا علاقو د ابادۍ او فصلونو د پاره د تباهۍ او بربادۍ باعث وي. ۱۸۵۲ء کښې سیلاب ښه تباهي وکړه[1] او ۱۸۶۰ء کښې د دې سیلاب په وجه پېښور ښار ته زبردست نقصان او زیان رسیدلے وو[2] او ۱۸۸۶ء کښې د دې بارړي سیلاب د لنډي یرغنجو[3] ارباب سرفراز خان ډوب کړے وو.

د بارړې د سیلاب او به که یو خوا د بربادۍ او تباهۍ باعث دي نو بل خوا د دې سیلاب خړه خاوره ډېره طاقتوره لګه د فصلونو د زرخیزۍ او ودانۍ باعث ده. د دې نه ورآورا د تیرو سیلابونه که یو پلو

---

[1] تاریخ ضلع پېښاور ګوپال داس ص ۲۹۴ [2] ګزیټیر ۱۸۹۷-۹۸ ص ۳۶۹

[3] یرغه په معنی د مستي تېزي. او جُو، وله یعنی مستنه تېزه وله.

دَ خیل مومند د وینده شلوی او په نښېي علاقو خصوصاً اکبرپوره هوار بهېدل او په دغه اساس داحتمال چي « باران به تیراه د شو او خوځ یې دَ اکبرپورې یوړل »

نو بل پلو دَ خیلو مومند و ځمکه چې دَ باران په سرې به تېرې پرته وه، خوب شوه او سبهٔ سبا استه شته فصلونه به زرغون شول.

دَ بارې په ځوبو او بو به یو زمانه دَ سبهٔ قسم وریژې کرلے شوې او دغه وریژه د دنیا په ځ دَ سبهٔ قسم وریژو څخه حساب وه. دَ سکهانو په دور حکومت دَ هر سکه سردار له طرفه حکم وو چې دَ وریژو صفا ستره رشه به اول هغوی ته حواله شوه دَ هغوی د لنګرانو تحت دَ دغه وریژو یو نبهٔ قسم برخه دَ تخم، بله برخه دَ رنجیت سنګه او دریمه برخه به زمیندار ته مخصوص شوه. دَ دغه وریژو شهرت ووچې امیر عبدالرحمان[5] والي کابل دَ بارې قلعه جنوب ته د پېښور دَ مومندو په سیمه دَ سبهٔ قسم وریژې دَ حصول په غرض سبهٔ کاڼي ځمکه په بیعه واخیسته او دغه ځمکه نو ننه دَ حکومت افغانستان په نوم دَ کاغذات مال په پاڼو موجود ده.

دَ سکهانو په دور حکومت کښې بارې قلعه څخه جوخت هغه مقام چرته چې دریایې باړه نه دَ خیل مومند سېلابیه شمالاً جنوب ته بېلیږي مقدس او پاک ځای ګڼلے شو.

بل پلو دَ خیل مومند عقیده وه چې دلته که هندو یا غیر مذهب ولامیل نو دَ بارې او به په کښېد وشي. دلته نه یارت څخه یو کانړے دے چې دَ تهو یک په کولو ولېدی نو وینې ترې رواني شي. دغه وجه ده

چې دلته ډېر زيات دي۔

Narrative of various journey in Baluchistan , Afghanistan and Punjab by Charles Masson. P-233.

د خيل مومند دا هم عقيده وه چې د ابو ډكي په وخت د بابا صاحب (رشيخان) د زيارت خواكښې د غوا مېښې قرباني پېښ كړي نو باران به كېدې او به سېلاوونه او ا رومرو سېلاب راتلې۔

د باړې او به صحت او وجود د پاره ښه او طاقتورې وې نو دغه مقام نه به روزانه بند لو ښو كښې سكه سردار لوله او به تللې او عن چې دغه څوند وړې، طاقتورې او به په رنجيت سنګه له هم لېږلې شوې د سكه دور نه پس انګرېز سركار هم د باړې د اوبو اهميت محسوس كړو او مكمل انتظام نه وړاندې هغوئي ته هم په لوښو منګوكښې بند دغه ځائې نه اوبه راوړے شوې۔ د دريائې باړه دغه مقدس مقام څنګه چې وخت سكهانو د دوئ مقاصد وتحت يو قلعه جوړه كړه او لكه چې دا قلعه په هغه مقام جوړه شوه چې ۱۵۸۰ء كښې د باړه كلې په مقام شاه بېګ تعمير كړې وه[۱]۔ دغه كښې يو مقصد خو ظاهر وو چې غرض يې د خيل مومند ترمېنځه د باړې په اوبو شر فساد ختمول وو۔ خو حقيقتاً د هغوئي غټه منشا د غه طرف نه په پېښور د حملو بچاؤ وو ځكه چې اوركزي، تورې بنګش، افريدي او عن چې نوشي د پېښور د پښتنو اول هم د دره باړه

---

[۱] اكبرنامه ابو الفضل جلد سوم۔ انګرېزي ترجمه بېورېج ص ۸۰

په لاره راتلل.

د دریابې باره مختلف ادوار کښې خپل محل وقوع لکه چې څو وار بدل کړے وي. د بابر بادشاه په زمانه داسې ښکاري چې او سنۍ شاهي کټه باره وه او د ښار څوا کښې بهېده.[۱] د سیلابې او بوله ویرې د پېښور ښار د رتدیم ښار د کور ګهټړي ګېر چاپېره په لوړو ډېکیو او دا غونډۍ څه خو فوجي نکته نګاه څخه او خصوصاً دریابې باره نه د بچاؤ په خاطر د خوا و ښاعلاتې خاورونه راپورته کړے شوې وه د پېښور ښتانه که د شاهي کټه په غاړه علاقه «د ولې غاړه» په نوم پېژني نو د تیراه په سیمه آبادو غاړه آفریدي او س هم شاهي کټه د دریابې باره په نوم پېژني.

تاسو که د پېښور ښار په موجوده آبادۍ کښې د یو لوړ کور یا بلډنګ په چت ودرېږئ نو بېخېده به محسوس کړئ. لکه چې واقعي باره د تیراه غرونو نه راوتي لېږ په ترخ د سنهري مسجد (صدر بازار) نه وا خله د لیډي ریډنګ هسپتال او کور ګټړي تو مېنځ ښځه دریابې کابل څخه بوځائې شوې دی. او که موږ دا حقیقت و منو چې باره یو زمانه د پېښور ښار څوا د منا کښې بهېده. نو د هغه زمانې په لحاظ چې د دریابې باره نن او کس

---

[۱] د دې خبرې ثبوت ۱۹۸۹ ء کښې سوئيکارنو چوک څخه د پرنیکته کړ ای ده چې ښکته صفا د بچوانې باره آثار ښکاره شول.

اوخ دَخلیل مومند سیلابي جوړېږي شوي نهٔ وي او نهٔ په تېره کښې دَ دریابي باره زرخېزه اوبهٔ چا په کار راوستي نو مونږ به دا حقیقت اومرو منتوچي دَ هپکا ټیبش (۵۰۰ ق م) کسپاپوروس اودَ هیرودوټس (۴۵۰ ق م) «کسپاتوروس» واقعي او سغه پېښور ښار وو ځکه چي په دغه اساس دریابي باره کښې په اکثرو موسمونو دومره ښیاتي او بهٔ جهېږي چي په هغې کښې هغه وخت او زمانه کیشتي را ښخهٔ ناشونکي او نا ممکنه خبره نهٔ وه- او دَ ایران دَ داریوس بادشاه په زمانه امیرالبحر سکائي لیکس خپل بحري سفر دریابي باره کښې دَ خپلې کشتۍ ورکلو ولو نه شروع کړے وو.

دَ خلیل مومند قبائل تقسیم او وېش هم دریابي باره کوتله محسن خان او لنډي یرغجو جنوبًا ظاهره وي- دَ دغه وخت دَ وېش او تقسیم مطابق خلیل دَ دریابي باره شمالاً او مومند جنوبًا آباد وو- او دریابي باره دَ دواړو قبیلو ترمېنځ حدِّ فاصل وو- کوتله محسن خان او لنډي یرغجو مومند قبائل دي او دَ پرخه وارعه په زور دوی به اوموو دَ دریابي باره شمالاً آباد وو- دَ غه زمانه باره دَ لنډي اخون محمّد جنوبًا او دغه کلي ځخه جوخت شمال شرقًا کږلېچ کښې سکندر خان کړه نه لاندې او بیا دَ دېن هوتل جنوبًا دَ شاهي کټه په لاره بهېدله- اندازه ده چي قلعه بالا حصار دَ دریابي باره شرقًا یا غربًا تعمیر وو او دا هم امکان دے چي دریابي باره دَ غلته په دوو برخو کښې وېش وه او قلعه بالاحصار دَ دغه

دوه ډیلی شاخونو ترمنځه د کنشک، محمود غزنوي یا بابر په زمانه
جوړ وو. دا هم ممکن ده چې د بالاحصار شرقاً د دریایې باړه او
غرباً د دریایې باړه د اویو لوټې پرنده تحمیل وو چې بابر دې حمله
اوریه آسانه قلعه فتح نه کړي. حقیقت هرڅه چې وي خو د
دریایې باړه اوچته سطح. د پېښور ښار ترقي او ابادي او د
زیات زیات سیلاب تباهي د دې لامله د موضع اوچر او لنډي یرغجو
ترمنځه کړه. او دغه سلسله تر ۱۸۸۲ قایمه وه. خو د ارباب سرفراز خان
مرګ د دغه رود نصیبت مزید بدل کړو. لنډۍ اخون محمد څخه
کړ لیچ بېرته شو او سپېره نه نیغ په نیغه د بهادرکلي په منځ څخه
ورکړے شوه چې اوس هم په دغه شکل بهیږي.

باړه چې یوه زمانه د پېښور ښار د تباهۍ او بربادۍ یا
د اوچر او بهادرکلي د فصلونو د زرخېزۍ او ښاغلي باعث وه او اوس
د سپېره دېم او د کانې شګې او سا جرې په اخراج بې نقصانه
ده. د سپېره دېم نه جنوباً د اکاخېل مېره او شمالاً د سه پایو
ملک دین خېل، قمبر خېل، د کوکي خېل تر ساه ګس او د جمرود حیثیت
برخه او بڼه کېږي. د ډنګ هم او باجړي زیات زیات استعمال
کړې سطح لاندي او زوره کړه. او لکه چې یوه زمانه پېبا کلي او
شاروته ورانول، فصلونه تباه کول او پیا د پرمختګ د سیلابونو
د لاسه د پېښور سیمه ورانه وېجاړه او ځنګل وو او اوس کم نقصانه
او محدود ده. خو د دې هر څه باوجود د خپل مومندو مکونو زرخېزه

ACKU

وداني او س هغه مزه او خوند نشته کوم چې پخوا وو. د انګريز سرکار
په دورِ حکومت کښې د مرګ رېتې کښت زيات ښه بور د زړنګوا نی لاندې
پرېښتن سپرنټنډنټ انجنير او د محکمه آبپاشۍ يو مقامي افسر
خان بهادر شېخ شېر محمد خان په امداد جولائی ۱۸۹۲ء کښې د ورسک
په مقام د دريابې کابل نه يو نهر وويستلو چې د ميچنې نوښار نهر
په نوم مشهور دے. دغه نهر د کافورن د ېړې تواکيښې. بيا د تهکال
په کوله د مادې و لګري خواکيښې راستړيدونه په دريابې باړه او
ناندي ته تېر شو او يو سيلاب يې ځېره ګټونکې. او بانده شيخ اسماعيل ته
او بل ښاخ يې بياور د شو د پېښور ښار او چا و هغه تر مېنځه
سو ر پړی، مرشي زئ او ور مړونه وکښلے شو او د خليل مومند
نا د کونه اپکره نا مکه دغه نهرونه او نبه شوه او چرد ې علاقه د زراعت
په ميدان کښې يو نوي انقلاب راغلو او چې هر کله د پاکستان په
دورِ حکومت د ورسک دغه دوه نهرونه د خليل مومند په زمکه
راغلل نو دغه نهرونو خخه تمول کي پوره شو. خو د ې هرڅه باوجود
د دريابې باړه په سيلابې او بوچې کوم ګټه د فصلونه کيدل هغه
ناپيدا او مفقود دی. او د خليل مومند زميندارا او کاشتکار د باړې
د سيلابي او بوار ماني دی.

# باګرام

„هُم نغمې کاندي هُم رقص کا هُم خاندي
دَ رحمان په شعر ترُکې دَ باګرام"

„دَ باګرام دَ لاله زار بلبلان واړه
دَ حمید خوښ کو یې کړلهٔ خاموشه"

باګرام یا بګرام دَ پرشاور، پشاور یا پېښور دَ سیمې زاړه او قدیمي مرکزي ښار دے او که څومره چې دَ پېښور نوم نحوانے او قدیم دے دغسې دَ تاریخ په پاڼو کښې قدامت او زاړه والي په لحاظ دَ بګرام ښار هُم ډېر قدیم او نحوانے دے۔ ډېره زمانه مخکښې دَ څو کچه آبتو او دوکانونو تر حده دا محدود ښار دومره خور وور نهٔ وو بلکه دَ شاه ډهنډ او خواوُ شا علاقې دَ خاورونه روغه ډکه او ډېره دَ کورکتهوري نه خواوُ شا پورې محدود وو او چې کوم باګرام نن موږ وینو کوروکَ زمانې او حالاتو مطابق وخت په وخت خور وور شوی دے دَ دې آبادي خصوصاً هغه وخت ډېره سیوا شوه چې کَ پنجاب په سیمه مهاراجه رنجیت سنګه یو مضبوط سکه سلطنت تشکیل کړو۔ او دَ

پښتون جاګیردار او مسلمان کارندهٔ او کروندهٔ ګار خلاف یې د بربریت او ظلم بازار ګرم کړو او په نورو کو نو مسلمانان د هغهٔ د لښکر او زیاتی نه په پېښور پلو را وتښتېدل او دلته یې د پېښور په علاقه کښې پناه واخسته.

د پېښور د سیمې د اهمیت، ابادۍ او نورو د پرښار و ټوګو اباد پرېو ترمخه تن حال دا دے، چې د پېښور هغه فراخه او خوره وره وادی چې یونه مانه یې د اوسنی پېښور او مردان د ویښن تهول علاقه احاطه کوله. تن د غه نوم لکه د پخوا هسې اهمیت نهٔ لري او د دې محدودیت او د نورو علاقو د اهمیت نتیجه دا ده چې د باګرام ښار او س د پېښور ښار په نوم یادیږی او د باګرام هغه تاریخي نوم اوس ناپید او د ورکې په تیروکښې ورکېږی.

باګرام د سنسکرت ژبې لفظ دے. «با» په معنیٰ د لوېې او غټ دے او «ګرام» په معنیٰ د کلی. یاندې د شنونه خبره کوے شو و بېهو په مینځ کښې خوکو رونه) تصبې علاقې او وطن دے. یعنی لویې کلے. د پښتو په سیمه نور هم داسې ډیر زاړهٔ کلی موجود دی چې د کلی په معنیٰ د «ګرام» دا ټکے د بل لفظ په اشتراک د یو ځای ځائیګی نوم بر خبره کوی لکه اوډی ګرام (ودهٔ = لویې ګرام کلے) جولا ګرام (د جولا کلے) بټه ګرام (د کانو کلے) اونوګرام (نوے کلے) دغسې کټ ګرام (کند اف صوابی)، شنګرام، میرا ګرام، موره باګرام (چترال) چهل ګرام. کوټګرام. کابل ګرام (سوات)

د روښانی تحریک نامتو شاعر مرزا خان انصاری رښها (دت ۱۶۳۱ع / ۱۰۴۰هـ) وائی:

مقصود نه دے له تالوي       لیږي سیل په خپل ګرام کړه

د پښتو نړۍ هر د لعزیز شاعر عبدالرحمان بابا د ځای ځانګړی په مناسبت «ګرام» په دې ډول بیانوی:

دا جهان د مسافرو یو رباط دے
تلل دی تلل دی له دې «ګرامه» راشه راشه

د مغل دور د حکومت او تواریخو لیکنې د پېښور ښار نوم «بګرام» دے. ممکنه ده چې «بګرام» د مشهور هند و شهنشاه «بکرماجیت» د نوم په مناسبت په یو بل وجه دلته متعارف وی. د بکرمی سن د میاشتو نومونه نن هم د پښتونخوا په سیمه عام رواج لری.

د افغانستان دائرة المعارف له اړخه د «اریانه» په نوم د پښتو انسکلوپیډیا چې د صوبه پروان په علاقه د پنجشیر رود په غاړه د کوم لرغونی ښار «بګرام» ذکر کوی، دې باګرام نه بېخی جدا او ځانګړی دے. عجیبه ده چې د نې ښاره لرغونیو شاعرانو د بار بار ذکر یا وجود هم «اریانه» د پېښور د باګرام څه ذکر نه کوی.

د پېښور دا لویه پراخه سیمه که یو زمانه محض ځنګل ښاره او غیر آباده وه. او د دې سیمې دا ورکوټی ښان ښار «باګرام» د شپنو، غوبانو او مال څروونکو د دمې او شپې تېرولو ځایی او ډېره وه. اوښیا د هندوستان، چین، کابل، بخارا، وسط ایشیا، ماوراالنهر

غزنی، ایران، یونان وغیره علاقو ته ترمنځه د امدورفت او تجارتي کاروان سوایي لارې ده وه. او بیا د هندوستان په زړه پورې او آباده علاقه د کوه کل درلوده. آریا - یونانیانو، ساکا، کښتان او هون وغیره قبایلو د حملو پړاو او منزل وو. د سکندر د فوځ ځنې برخه هم د دې بکرام په خوا کښې نږه شوي ده. دا هغه بکرام دی چې د کنشک په زمانه د بده مت د تعلیماتو یو اهم مرکز وو او د هغه د راجدهانۍ صدر مقام وو.

د پېښور په سیمه د مسلمان او هندو مت ترمینځه معرکه یعنی د سبکتګین او راجه جې پال او بیا د محمود غزنوی او انند پال ترمنځ د جنګ مرکز هم د بکرام ښار او پیوست علاقه وه. د بکرام په دې ښار کښې په رومي حُل ۹۷۸ء کښې د سلطان سبکتګین له اړخه ابوعلی د لښکر ناره لښکوڅخه د پېښور کورنر مقرر شو.[۱]

سـ۱۰۰۱ء کښې محمود غزنوی د پېښو رحاکم اعلیٰ یو نومسلم سېوک پال مقرر کړو. مـ۱۰۱۷ء تا سـ۱۰۲۳ء بکرام په هندوستان د محمود غزنوی د حملو او یلغار مرکز وو او د غزنویانو د سلوکالو نه زیات دور کښې دا ځائې د غزنی سلطنت ماتحت ښار وو.

محمد قاسم لیکي: "شهاب الدین غوری په کال ۱۱۸۰ء/۵۷۵ھ کښې د پېښور قلعه ځایونه هم فتح کړل چې په تاریخ د بکرام، پرشور، او فرسور په نوم مشهور دی."[۲]

---

۱؎ گزیتیر ۹۸-۱۸۹۷ء، ص۵۰ ۲؎ تاریخ فرشته ص۲۱۲

درې سوه کاله چُپه چُپیا او خاموشي نه وروستو ۱۴۶۱ع / ۸۶۵ھ خواوُشا دکشمیر سلطان شهاب الدین دا ستګر (هشت نګر) په لار په پېښور (بکرام) قابض شو. بې شماره کسان یې ووژل او هند وکش پورې یې ورسېدو.[۱]

د بګرام په دې وړکوټي شان ښار کې کله سکوت او خاموشي او کله نوکله د تور روښر نګا اوخر په هار وو. عن چې څه موده پس بابر په منظر ښکاره شو او د دې ښېمې د مرکزي صدر مقام بکرام ذکر په صفا واضح الفاظو د تزک بابري په صفحات ظاهر شو.

۱۵۰۸ع / ۹۱۴ھ کښې مُونږ جام ته را ورسېدو. جام څخه نزدې یا د کورک تیري منډ روو. لرې لرې نه هندوان کد ئ امندرن یارت له تلل جام کښې څه ساعت ایسارتیا نه پس نه د بکرام سیل له روان شوم چې کورک تیري څخه جوخت پروت وو. خو نا مالار نشو ونکې سعید بکرامي مانه د دې ځای حال پتې ساتلے وو.

سه ۱۵۲۶ع / ۹۳۲ھ کښې بکرام ته را رسېد و او پراو نه وروستو مونږ سحر ختې ښکار ته وو تو. مونږ د بکرام بمقابل سیاه آب (دریایې باړه) نه پورې د تو او د ښکار په غرض مُوکېږه واچوله او د نائې ښکته پلو مو تلاش شروع کړولو په لحظه پس یو کس خبر راوړو چې بکرام څخه نزدې یې په ځنګل کښې یوه ګېنډه ده او ډېر خلق ترې را چاپېره دي.

---

[۱] تاریخ فرشته جلد دوم ص ۹۲.

مونږ دېره په تجربه دغلته ورسېد او د کې پر چاپېره تاو شو. نو یکړ
مجبور کړو چې ګنبده پهراډو ونلم او منډه یې کړه.[1]

د بابر د وفات نه پس دلته قابض دلزاک پښتنو د باګرام قلعه
وېرانه کړه. دا قلعه تر هغه وخته ورانه پرته وه ترڅو چې همایون د خپل
ناسکه ورور مرزا کامران په تعاقب په ۱۵۵۲ء کښې بګرام ته را ورسېد و
همایون د بګرام دغه ورانه قلعه په خپلو کښو خلقو او د ورځو کښې د ننه
سر دوباره تعمیر کړه. او د سکندر خان ازبک ما تحت یې دلته څه فوج
دېره کړو.

"د همایون د سختو او تکلیفاتو ملګرې بایزید هم پېښور د
بګرام په نوم یادوي.[2]

کله چې بګرام خواکښې د سلطان پور په مقام ۱۵۳۳ء خوا و شا غوریا خېل
(خلیل، مومند، داؤدزي) او دلزاک تر منځ یو زبردست جنګ او
معرکې نه پس دا سیمه او کله چې رماسوایې کلپانیې مردان علاقه
مرکزي اصد رمقام باګرام د غوریا خېل پښتنو په قسمت ګټ شو. غوریا
خېل قبیلې په خپلو کښې ولیشي او برخه وارې نه د باګرام ښاربېګ
ساتلو. دا ښار د کوټکهتري په مقام په او چته د پلکه پروت وو او
کله چې ښار اباد ی هغه زمانه یکدم زیاته شوه چې کرنجیت سنګه د

---

[1] بابرنامه (انګرېزي) جلد اول ص ۴۵۱

[2] نوټس آن افغانستان اینډ بلوچستان از راورټي ص ۳۸

بربریت او ظلم وستم نه کېږي شمېر مسلمانان دپنجاب علاقې ته دلته راورسېدل دلته آباد شول او چې هرکله رنجیت سنګه په پېښور قابض شو نو دلته دکوټها او دبکره وغېره په مېدانۍ علاقه کې شماره مسلمانان آباد وو او چې ابوطبیله ددې آبادۍ نه فصیل راتاوه کړ لو نو دغه نوې آبادي هم دد غه فصیل دننه شوه .

دهمایون د وفات نه پس دهغه زوئ مرزا حکیم د پېښور ګورنر شاه بېګ ارغون مقرر کړو . دې نه پس جانش خان او معصوم خان دپېښور حاکمان وو .

دابوالفضل اکبرنامه دپوهایه دبګرام ذکرکوي هغه یو ځای کښې لیکي :

" په ۲۵ جولائی ۱۵۸۱ چې اکبر بادشاه پېښور ته راورسېد او نو دلته دبګرام خواکښې ډېره شو هغه (ابوالفضل) څه لحظه دګورکهتړي سېل وکړو . دلته یو غار دے چې د جوګیانو منددے داځومره اوږدے دے چې اندازه هېڅ ته نشته . ددې دلارمنځوما نه کښې دپخوانۍ زمانې دمقدس خلقو بېټې کوړې ته یوه بله لاره تللې ده . خو دغه لاره دومره ګرانه او د تورتیب تیاره کښې وه چې خلقه رسېدل ګران دي . دلته صرف هغه خلق عبادت کولے شي چې شپه او پاک وي هغه راکبر بادشاه ) خپلوځو نوکرانو ځغه ورننوتو لار دومره اوږده وه چې دپتکره ځوانان هم دمینځ لاره نه والپس راجار وځي . بادشاه چې دغه ځای نه فارغ شو نو دبګرام په قلعه کښې آرام وکړو . دې وطن ته پرشور وائي

او عام خلق دَ دې ځائې ښار هُم په دې نوم یادَ وی. دَ دې ځائ گورنر یار علی دے۔[1]

علامه ابوالفضل دَ بگرام په حقله یوبل ځائې لیکی:

"دَ اکبر بادشاه سلطنت په دولسو صوبو تقسیم دے. دغه نه یوه دَ کابل صوبه ده. دَ کابل صوبه په شل[20] پرگنو یا تومان تقسیم ده چې ادغه کښې تومان سواد، تومان بنگش او تومان بگرام هُم شامل دی۔"

او بیا دَ تومان بگرام په حقله لیکی:

"دَ قندهار او سمرقند په شان په کابل کښې هُم پرگنه ته چې هغې کښې قصبې او کلی شامل وی، تومان وائی. تومان بگرام ته پرښاور وائی. پرښاور کښې دَ هند وانو یوه لویه پرستش گاه ده چې ورته گورکهتری وائی[2]"

جهانګیر بادشاه په ۲۶ محرم ۱۰۱۶ھ/۱۶۰۷ء دَ بگرام خوا کښې دَ سردار خان په باغ کښې پړاؤ شو. هغه لیکی:

"گورکتهری چې دَ جوگیانو مشهور عبادت گاه ده. دې باغ ته نزدې ده. زهٔ هلته په دې خیال سیل له لاړم چې گوندې هلته څوک داسې فقیر وی چې دَ هغهٔ دَ صحبت نه فیض بیا مومم لیکن داسې کس هلته عنقا وو البته څو جاهل مال خورونکی ښیا نهٔ او غوبا، په نظر راغلل دَ چا په لید وچې نې دَ بد مزگی او کوفت نه بغیر بل څهٔ حاصل نهٔ شول[3]"

---

[1] اکبرنامه ابوالفضل جلد سوم ازاڈیم ببورینجم ص۵۲۸

[2] آئین اکبری ص۱۰۹۵ ؞ [3] تزک جهانگیری ص۲۰

او بیا هم په دې دور کښې د احمد افغان روښانې او مغل ترمنځ ډېر سخت جنګ نه پس د باګرام په ښار کښې د شپږ و سوو شهید پښتنو د سرونو مینار تعمیر شو.

مآثر الامرا ایکي:

"په دېرشم کال جلوس اکبري سید حامد بخاري ابن سید مبارک، کتورمان سنګه څخه کابل کښې مقرر شو. هر کله چې پېښور ته راغلو چې د ده جاګیر وو نو د بګرام قلعه کښې په عېش عشرت مشغول شو او ټول کار یې موسی نومې یو نا تجربه کار ته حواله کړو ده لالچ وکړو او په مومند او غوریا خېل چې لس زره کوره یې پېښور کښې وسی. سختی یې شروع کړه. د دوئ عزت او مال و اسباب یې لوټ تالان کړو. مذکوره قبائل جلال تاریک خېل سردار جوړ کړو او بګرام څخه جوخت یې بغاوت وکړو. د یو معرکې دوران د سید حامد بخاري آس په یو کنده کښې پرېوتو او ۱۵۸۵ء کښې مړ شو.[1]

د مغل دور د آخري سلګو دوران ۱۷۳۸ء کښې باګرام د نادر شاه دُراني ظلم او لوټ تالان وُلید و. او بیا لږه موده پس باګرام د احمد شاه ابدالي پښتو دولت او شرافت نه هم سرفرازه شو. د تیمور شاه په زمانه د ټول ملک د سیاست مرکز او د بادشاه

---

[1] مآثر الامرا جلد دوم ص ۴۲۴

ACKU

دارالسلطنت شو. تیمورشاه نه پس باګرام د سدوزي ورونو خانه جنګي او پادشاه ګردي ولیده او ۱۸۱۸ ع کښې د بارکزي سردارانو د سرګرمو صدر مقام شو. د یار محمد خان، سلطان محمد خان د سازش او غدارۍ اماجګاه شوه. د سکهانو لوټ تالان شو. محلونه، کورونه وران او وسوزېدل. د وینو سیلابونه وبهېدل.

د سید احمد بریلوي خلاف څه ونه شول. د هزار خاني فیض الله خان مومند او قاضي مظهر علي دلته شهیدان شول او ۱۸۳۴ ع کښې سکهان مستقل دلته قابض شول. دې ښار د هری سنګه ناوه او ابوطبیله ظلمونه او نیاتي وسهلي خو ابوطبیله د خپل حفاظت په غرض دا ښار لوې او ښائسته کړو او د باګرام ښار نه یې یو لویې کچه او پېړد کخته دیوال تاوکړو او د دغه فصیل کښې شپاړس دروازې وګلېدې او هغه دروازې دادي :

« رام داس. ډبګرۍ. باجوړي. کابلي. کوهاټي. اساميې کچهري. ریتي. رام پوره. هشت نګري. لاهوري ګنج ګیټ. یکه توت. سرکي. تهنده کوهي او طبیبان »

په ۲۳ مارچ ۱۸۴۹ ع د باګرام په ښار انګرېزان قابض شول هغوئ د خپلي چاوڼۍ د پاره ۱۸۸۰ ع کښې کابو بوه ناله د دریاب باړه نه را وښکله. باړه قلعه او پښنغره بایان څخه

بیې دغه ابو د صفایې د پاره تالاؤنه جوړ کړل او بیا د غلا له ۱۸۹۴ء کښې د باګرام ښار ته ور وړ ده شوه.

د انګریز دور حکومت ۱۸۶۱ء کښې د باړې د سېلابونو په سبب باګرام ته ځنې زیات نقصان بیا موند. انګریز سرکار د سېلابونو د تباهۍ نه د تحفظ په خاطر د باړې رُخ د باګرام ښار نه بدل کړو او اتنده باګرام د باړې د سېلاب نه محفوظ شو.

ګوپال داس لیکي:

"پشاور اور قصبہ بگرام دو نام علی الاکثر مشہور اور بتحریر مروج دفاتر سرکار ہیں۔ کتب تواریخ میں لکھا گیا ہے۔ کہ اول بانی اسکا ہو شنگ پیشدادی نبیرہ کیومرث بادشاہ فارس کا تھا۔ پھر بعہد راجگان ہندو راجہ بگرام حاکم وقت نے از سر نو آباد کیا جس سے قصبہ بگرام مشہور ہو گیا۔ مصنف کتاب عقول عشرہ اِس کو بلاد اقلیم سوم میں سے تین نام مندرجہ ذیل سے لکھتا ہے۔ پشاور پیشاور۔ پُرشور۔ اِس میں شک نہیں کہ اصلی نام اس کا قصبہ بگرام ہے۔ علاوہ بر آں دوسرے ناموں سے مشہور ہونا اس کا بے سبب نہیں[1]"

ګوپال داس د قصبهٔ باګرام په حقله مخکښې لیکي:

---

[1] تاریخ ضلع پشاور ۷۴ - ۱۸۶۹ = ۲۲ - ۱۲۱ -

"یہ خاص پشاور کا حلقہ ہے جو کہ قصبہ کے نام سے مشہور ہے اور پیداوار اس میں اکثر باغات و ترکاری کا ہے آبپاشی اسکو باڑہ و کٹہ جوئی شیخ یاچاہات سے ہوتی ہے۔ یہ باعثِ قربِ شہر اس جگہ ہر قسم کا پیداوار ہے لیکن پائین قصبہ جو شاہ ڈنڈ کے نام سے مشہور ہے کمی امدنی پانی فصل اچھا نہیں ہوتا"[1]

دَ ۱۸۹۱ء دَ مردم شمارۍ مطابق دَ باګرام تهوله ابادي ۹۳،۰۷۹ کسان وه چې کچاونړه ۱۲،۲۱ نفوس دي ځخه شامل نهٔ وُو.

"دا ښار "باګرام" نومې یو حکمران جوړکړے ووچې دَدې علاقې بادشاه وو. دَ هغهٔ درې نورورونړه هم ووچې یو ورور دَ جمرود دویم دَ هشت نګر او دریم دَ سوات حکمران وو"[2]

میجرهنری جارج راورتي لیکي:

"بابر بادشاه بار بار پېښور دَ باګرام په نوم یادوي. دَ هغهٔ په زمانه کښې دَدې علاقې ځنګل کښې ګېنډې عام وې او په یو موقعه هغهٔ یو بیا مونده او دَ دې ښکار یې خوا کښې په یو وړوکي ځنګل کښې یې دَ دې ښکار وُکړو جهانګیر بادشاه هم والي چې هغهٔ خپل پلار اکبر ځخه دَ باګرام په علاقه دَ ګېنډو ښکار وکړو وَ آئین

[1] تاریخ ضلع پشاور ص ۹۵۔

[2] گزیټیر ۹۸ - ۱۸۹۷ء ص ۳۶۹

اکبری مطابق دَ پېښور نه وړ نوم باګرام وو او دَ دې کتاب لیکونکی ابوالفضل تر وخت هم په دغه نُوم مشهور وو. دَ کابل سرکار څخه دا ترلې علاقه دَ باګرام تومان په نوم شهرت لری. خو دغه نه هُم ډېر پخوا دا علاقه دَ پورشاپور. پورشا پور په نوم مشهوره وه. څو تودې وخت دا ځائې دَ پښاور او پیښاور په نوم یادیږی.[1]"

حالنامه (تالیف و تصنیف علی محمد مخلص) لیکی:

"چند کسے را به طریق یرغمل طرف هندوستان برد ووطن را که زمانِ قدیم بگرام بود والحال به پیښاور مشهور است" ص۵۱۴

دَ سرکاری کاغذات او ریکارډ مطابق اوس هم پېښور ښار دَ باګرام په نوم درج دے او په دغې قصبه باګرام کښې شپږ ټکرې دی. ودغه ټکرې دَ باګرام قصبې برخې حصې دی.

ټکړه ۱؛ قصبه باګرام - شاهي باغ - هشتنګری - علاقه حسن ګړهی وتیراهي تا شرقاً برنه ډېره علاقه.

ټکړه ۲؛ قصبه باګرام: شاه ولی تمهنډ - قلعه بالاحصار شاه ډهنډ او دَ اخون درویزه دَ زیارت خوا وشا علاقه

ټکړه ۳؛ قصبه باګرام: کاکشال - بانه ماړئ دَ سید حسن پیر زیارت او کوټله محسن خان وغیره علاقه.

---

[1] نوټیس آف افغانستان اینډ بلوچستان مطبوعه ۱۸۷۰ء ص۳۶۷

تپکړه ع۴ قصبه باګرام: نوتهیه- د بړی باغبانان- چارخانه (چرخه خیل) اؤ سواتی علاقه-

تپکړه ع۵ قصبه باګرام: د پېښور ښار نه بهر ګلنډی اکوڅمد صیب نه د سربند جنوبي ارخ ته رند دپوري اوږد پټي شکل پرته زمکه او علاقه.

تپکړه ع۶ قصبه باګرام: خاص پېښور ښار-

۳۳ ۱۵ ز کښې د دله ژاک پښتنو اقتدار اختتام شخه د باګرام قصبه د غوریاخیل پښتنو قبضه شوه دوئ د کوکیلي او زمېنداره نه علاوه بل هیڅ پېشې ته مائل نهٔ وو- نو په دې اساس د تجارت او دوکانداره وغیره پېشه مختلف قومونو نیوه. هغوئ دلته مېشته اؤ آباد شول اؤ د کوټو نو جایېداد نومالکان اؤ قابضان شول-

باګرام قوم اعوان. نقیر، درانی، مغل، سید بخاری، ففیرجوګی باغبانان- کهتری برهمن، براکی، اورک زی، افغان رانی زی، افغان کیتانی، میاں خیل، محب خیل افغان، تلرزی افغان چونکہ یہ ایک شہر ہے اور اکثر مردم مختلف اقوام اس پر قابض ہیں. ؎

ډګوپال داس دې تحریر شخه:

،، تحصیل پشاور مشتمل ہے تین تپہ پر تپہ خلیل، تپہ مہمند تپہ قصبۂ باګرام- تپہ اول بہ اسم خلیل کل تحصیل پشاور

---

؎ تاریخ ضلع پشاور- گوپال داس ص۵۷-

خاص سے صرف قبضہ کا مالک ہے۔ مابین اس کی تقسیم اس
طرح ہوئی ہے کہ کل تپہ سے اول حکامِ وقت نے کچھ زمین
نکال لی اور اُس میں قصبہ باگرام آباد کیا۔ اور زمین متعلقہ
اُس کی اپنے اختیار میں رکھی جس کو اب قصبۂ باگرام کہتے ہیں[1]

دَ گوپال داس دې تحریر نخنه صفا معلومیږي چې قصبه باګرام دَ خلیل مومند دواړو تپو په مقبوضه ملکیت مشتمل ده. دَ دوئ دَ قبضې ملکیت نه څه حصه دَ وخت حاکمانو وُولېسته او دَ باګرام ښار یې په دغه تپو ته ئې مکه اباد کړو.

دَ پښتو ادب لرغوني کلاسیکي شعراء پېښور دَ باګرام په نوم یادوي
دَ خوشحال خان ختک دَ یو قصیدې شعر دے

„ دَ کوهاټ په عالم، واړه عالم ډک شو
دَ بنګښو کډه لاړه تر باګرامه "

عبدالحمید بابا وائي

چې حمید غوندې بلبل یې سر په کو رکړو
هغه ورځ به دَ باګرام په ګلو هسې وی

کاظم خان شیدا وائي

همېشه به یې بهار په باغ وراغ وی
که رنګین شعر مې یوسي تر باګرامه

---

[1] تاریخ ضلع پشاور ص۲۲۲

ACKU

کاظم خان شیدا د پښتو د شعر حسب وحال په موضوع باګرام
داسې ستائي ـــ

" د باګرام خطه دلکشه — د بهار د خاطر خوشه
چې راځي کلي په کلي — په باګرام ترده بره ملي
دا د روه قطعه تمامه — کله رسي تر باګرامه
تر هغه پورې باګرامه — په جهان مه شې بدنامه

نجیب سرنبدی $\frac{۱۷۶۵}{۱۱۷۸}$ وائي ـــ

چې رئیس د همه ترکو د باګرام دے
هم هغه مې د اختیار ورکړے زمام دے

علي خان وائي ـــ

د ختن ترکې دې ښار راځي سلام له
تن د نخت لائقه ترکه باګرامه ده

محمدی صاحبزاده وفات $\frac{۱۸۰۶}{۱۲۲۰}$ وائي ـــ

ستا په مینه کښې ارام په ما حرام شهٔ
له دې غمه سور انګار په ما باګرام شهٔ

عظیم رانیزے $\frac{۱۸۳۶}{۱۲۵۳}$ لیکي ـــ

ذ باګرام بانا ار به هو مره کرم نهٔ وی
لکه کرم د ے بانا د ک رانیزو "

---

# دَلازاک

بابر په دریمې حمله ۱۵۰۵م / ۹۱۰ه کښې د لغمان او د درهٔ خیبر په لار جام
(جمرود) ته راورسېد او د غلتۍ نه بګرام کښې د کوز کهټرۍ په سېل الغلو
او د دې ځایې فتوحات نه پس هغه د دلازاک، یوسفزي او کاکیاني
اقوام علاقې د دریاخان زوې یار حسین ته حواله کړې او بېخپله د
هنګو په لار کابل ته بېرته ستون شو. هغه نور درې کاله اُزبک
قوم او شیباني خان سره په جنګ بوخت وو. خو ۱۵۰۸م / ۹۱۳ه کښې لږ فرصت
څخه یو ځل بیا پېښور پلو را روان شو خو څه منزل نه وروستو
بېرته ستون شو ۱۵۱۰م / ۹۱۵ه کښې د هند د فتح په نیت باجوړ ته راورسېد
او د باجوړ فتح او قبضې نه وروستو د سوات د فتح په نیت مخکښې
روان شو. خو د یوسفزي مشر شاه منصور حاضر خدمت شو. د یوسفزي
مشرۍ او علاقه هغه ته حواله شوه. یوسفزي پښتنو خپله د مضبوطې
رشتې او رابطې په نیت هغه ته درخواست وکړ چې خپله لور شاهي حرم
کښې داخله کړي. شاه منصور د بابر درخواست قبول کړو او خپله لور
ئې د هغه په نکاح کړه. د دغه کال په ۷ صفر نهې ورځ دلازاک پښتنو

څخه مشاورت نه پس فیصله وُشوه چې فی الحال په سوات حمله ملتوی شي. د باجوړ نه دریاځ سِندهٔ پلوُ روان شو- او په بهیره خوشاب قبضې نه وروستو د اټک په مقام دریاځ سِنده نه بېرته راپورې وَتو او بکرام ته راورسېدو.

"دلته مُونږ په دلازاک پښتنو مالِ غنیمت تقسیم کړو د هغوی شپږ سردارانو ته سل سل مثقاله چاندی، یو یو تهان کپړه، درې درې غواګانې او یوه یوه مېښه حواله شوه او د دوئی نورو ملګروته هم څهٔ نا څهٔ تحائف حواله شول[1]-

بابر چې بکرام نه روان شو نو د علی مسجد په مقام پړاؤ شو. د دغه علاقې یو دلازاک سردار خلوښت کلهان، دوه بوری وریژې او اته څیلې د مېلمستیا په خاطر ورکړل او دغه ځائې نه د خیبر په لار کابل ته لاړو. څو ورځې تېرې نهٔ وې چې د یوسفزی قوم خلاف بیارا روان شو- د جلال آباد څواؤ شا دلازاک سردار موسٰی خان خپلو ملګرو څخه حاضرِ خدمت شو او د سوات په لور روان شول. د دلازاک سردارانو په مشوره د هغه د حملې رُخ هشتنغر پلو شو او د دره خیبر په لار علی مسجد ته راؤرسېدو- د دلازاک سردارانو د مشورې مطابق په هشتنغر حمله وشوه- خو د توقع خلاف د پره کمه غله په لاس راغله- دلازاک سرداران په خپل تجویز نادم او شرمسار شول- دغه دوران په بدخشان د سُلطان

---

[1] تزکِ بابری ص ۱۵۹

سعید خان د حملې خبر راورسېد. او بابر د ډېرې تېزۍ د خیبر په لاره بېرته کابل ته ستون شو.

د سوات، باجوړ او پېښور په علاقه د بابر لوټ تاړاک محض د کابل حکومت استحکام او اداره مقصد وو. د دغه باج و خراج په برکت هغه یو منظم فوځ ترتیب کړ او د دغه فوځ په ذریعه هغه ۱۵۲۶ع/۹۳۲ھ کښې د هندوستان د تخت مالک شو. ۱۵۰۵ع/۹۱۰ھ تا ۱۵۱۰ع/۹۱۵ھ متواتره موده کښې په دې علاقه د هر کلو رو حملو په وخت او موقعه د لاړاک پښتانه د بابر مرستیال او ملګري وو او د تزک بابري په وساطت موږ په ړومبي ځل په دې سیمه د پښتنو د لاړاک قبائل څخه متعارف کېږو. البته موږ ۱۵۲۶ع/۹۳۲ھ کښې د دلازاک پښتنو ذکر څخه بېخي محروم پاتې شو. چې بابر د بګرام په مقام پړاؤ سره وروستو د دریائې سِندھ نه پورې وتې. او د پانې پت په میدان د ابراهیم لودي لښکر ته شکست ورکړی. نه پوهېږو چې دغه زمانه د دلازاک پښتنو څه کردار وو. آیا دوی د هند د فتح په وخت د بابر عسکري قوّت کښې شامل وو او که نه. او که شامل وو. نو د تزک بابري په صفحات د دوی ذکر ولې نیشته او که شامل نه وو نو دا سې څه وجوهات او محرکات وو. چې دوی د بابر مرستې څخه لاس په سر شول.

د بابر د وفات نه وروستو د مرزا کامران او محمّد همایون د بادشاهت دوران د دلازاک پښتنو قبائل تاریخ په تیر وکښې پټ شی او وروستني مؤرخین د دغه دور واقعات ته هم قسم جامه وربخښلې کړي

ACKU

او دَ مرزا کامران په امداد خیل مومند دَ دې علاقې قابضان کړي.

حقیقت هر څه چې وي خو مونږ دَ جهانګیر په زمانه دلزاک د دیابائې سند هم نه پورې دَ اټک و بیاس تر منځ آباد وینو. خو جهانګیر دَ دې سیمې په وروستیو دوره دوئ دَ خپل غلط اعمال په سبب دَ هندوستان نورو علاقو ته منتقل کړي.

په ۱۵ رمحرّم ۱۶۰۷ع/۱۰۱۶ھ زه دَ حسن آباد نه امروهی ته راوُرسېدم دَ دې په خواکښې دَ کهر دوله راک قوم او وَهٔ زره کورونه آباد دی. دا خلق دَ هر قِسم ظلم و فساد او دَ غلا غولـتیا وار دات کوی. ما حُکم وُکړو چې دا علاقه او دَ اټک حکومت دَ زین خان کوکا زوئې ظفرخان ته حواله کړئ او زما دَ کابل دَ استنېد و نه وړاندې ټول دلزاک دې لاهور ته بوتلے شی او دَ دوئ لوئې لوئې سرداران دې ګرفتار شی او په نګرانۍ کښې دې وُساتلے شی."[1]

ظفرخان ولد زین خان کوکا خو ک چې ما دَ دلزاک پښتنو او دَ ګهکړ ذات دَ خلقو سوکونیه لـه مقررکړے وو. دا پښتانه دَ اټک و بیاس نه او دَ شا علاقو کښې مختلف قِسم شرارتونه کوی. ظفرخان دا خدمت ډېر په ښهٔ طریقه ادا کړو. دا مفسدان دَ چاچې تقریبًا یو لاکهه کورنۍ دي. وې ښکلې او حضوری یې لاهور ته یوُلل او بیا ما ته دَ لته دَ که (جلال آباد) کښې حاضر شو ظاهره ده چې کوم خدمت دَ هغهٔ په حواله وو دهٔ په ښهٔ طریقه یې سرته وُرسولو."[2]

---

[1] تزکِ جهانګیری ج اول ص ۱۹۹؛ [2] تزکِ جهانګیری ج اول ص ۲۲۷.

ACKU

اخوند درويزه ليکي:

" بعد ازاں دراندک مدت میان مردم دلازاک مردم یوسف زی عداوت افتاد تا دلازاک را بے مقام و بے وطن ساختند و از آب سیند گذرانید چوں درهزاره خلل انداختند شاه سلیم بادشاه ایشاں را به دکن فرستاد مع اهل و عیال و دریں مدت دلازاک چنداں خواری و حقیرے رفته که تمام آں در تحریر و تقریر نیاید ایں همه از شومی بدعت بوده[1] "

" دلازاک از همه افغانان مقدم تر دریں حدود آمده بودند[2] "

تاریخ مرصع ليکي:

" محمود غزنوي او بيا ورپسې د محمد غوري پر له پسې حملو د سوات، اشنغر او پېښور مردان علاقه د نهر و وسېدونکو نه خالي شوې وه حکه چې هغوئ د هر وخت حملې او ويرې نور مزيد طاقت نه لرلو. نو دغه خلق لاندې د هندوستان يا نورو غرشيز و علاقو ته وتښتېدل يو که څه لږ په سواتي، لغماني، ديګاني، او تيراهي پاتې هم ؤ نو هغه کم قوته وو. اول دلازاک راغلل او دا ملک ئې ونيولو بيا غوريا خيل راغلل او د دلازاکو پښتنو نه ئې دا ملک ونيولو[3] "

" د مير چه په ضلع کښې چې کوم د چهوټا شلجها ټوټه په نوم نبا دیه آباده ده دلازاک پښتانه دغلته آباد شول[4] "

---

[1] تذکرة الابرار والاشرار ص ۱۱۱؛ [2] تذکرة الابرار والاشرار ص ۹۳؛

[3] تاريخ مرصع ص ۹۵؛ [4] تاريخ مرصع ص ۱۹۲۔

مآثرالامرا ليکي:

"جهانګير بادشاه چې اټک ته خوخت د موضع آهروئي په مقام قيام پذير وو نو د غه ځاى ته وسيدونکو د ګهلتر قوم د زيادتي خلاف شکايت وکړ و چې داکوان ووا و په مختلفو طريقو ئې فساد پيدا کولو. داکې ئې اچولي او لاره ئې وهلې. د احمدبيګ خان په ځاى ظريف خان ولد زين خان کوکا د اتک جاګير دارشو او د بادشاه د حکم مطابق چې د هغه د کابل نه تر واپسۍ د غلته انتظار وي او فسادکوونکي د هغه ځاى نه بيرته کړي او لاهور ته ئې ور سو ي. د دوئي شر ګرفتار کړي او که دوئي ځانونه په ظلم ځه 'ختي وي ور ته ئې واپس کړي"[1]

وائي چې کوم علاقه ما ته مهابت خان د خان جهان سرکرد ګي تحت د دکن په لوري تلو نو د ځه فوځ کښې نورو نه علاوه د ريا زره دلازاک پښتانه هم شامل وو.

الفنسټن ليکي:

"د دلازاک دوه يا دري کلي اوس هم د دريائي سيند غرباً موجود دي خوزر کو نه دلازاک اوس هم د درياب شرقاً آباد دي"[2]

---

[1] مآثرالامراء جلد دوم ص۶۵۹.

[2] An account of the Kingdom of Kabul, P-46

موږ د الفنستن د تحریر څخه مکمل اتفاق لرو چې د جهانګیر بادشاه په حکم که یو څو اته ر کورنه د لازاک پښتانه لاهور او بیا وروستو دهلي پلو منتقل شول نو بل خوا د دلازاک پښتنو کانې کورنۍ غرونو پلو فرار شول. د دغه پښتنو کښې شمیر خلق اوس هم د هزاره جات په کلیات کښې آباد دي او ځان د "کرلاڼي" نیکه اولاد ګڼي.

# محمد همایون بادشاه

د بابر بادشاه د وفات نه پس د هغه د دریو ښځو زامن یعنې د ماهام بیګم
نه ویې محمد همایون (i) د ګل رُخ دوه زامن مرزا کامران او عسکري مرزا او (iii)
د دلدار بیګم زوی مرزا هندال وو. محمد همایون په ۶ مارچ ۱۵۰۸ء کابل کښې زیږیدلے وو
د پلار د وفات ۲۱ دسمبر ۱۵۳۰ء ۵ جمادی الاول ۹۳۷ھ نه پس هغه د اګرې په مقام د
هندوستان (ما سوائې پنجاب) بادشاه شو. خو هغه موده تیره نه وه چې د همایون خلاف
د هندوستان ټول روهیله پښتانه یو موټې او یو آواز شول او د سهسرام جاګیردار
شیرشاه سوري[1] تحت را لوړته شول هغه همایون له روميې په ۲۷ جون ۱۵۳۵ء
له

1. Humayun was driven from India within two years by Sher Khan an Afghan chief of Chunar,on the lower Ganges,who established what is known as sur dynesty-almost the first that can be called pure Afghan-becoming emperor of the Delhi in 1540 A.D. under the title of Sher Shah. The new Shah's family claimed descent from Ghor and hailed from near Peshawar, where it had always been looked on as illustrious.
( Afghanistan by Lt. General Mac Munn P-42 )

دَ چوسه په مقام او دوباره په ۱۷ د مئی ۱۵۴۰ ء دَ قنوج په مقام یو سخت
شکست ورکړو. همایون پنجاب پلو وتښتېد. شیرشاه سوری پسې
تعاقب وکړو. خو هغه دې ځای نه سند ه پلو لاړ و. دلته دَ امرکوټ
په مقام اکتوبر ۱۵۴۲ع / ۹۴۹ھ کښې اکبر پېدا شو. همایون دَ ټهټه په لار
قندهار ته لاړو او محمد اکبر ئې خپل ورور مرزا هندال ښخه کړو.
هغهٔ اول قندهار ته عسکری مرزا او بیا کابل ته مرزا کامران ته
ورسو. همایون جنوری ۱۵۴۳ع / ۹۵۰ھ کښې دَ قندهار په لار هلمند نه پورې وتو
سیستان ته ورسېد وچې دغه موده دَ ایران تحت علاقه وه دَ دغه
ځای ګورنر احمد سلطان شملوئي ډېر نهایت قدر و عزت وکړو او
په ډېر درناوی ئې دَ ایران دَ صفوی خاندان شاه طهماسپ (۱۵۲۴ع / ۹۳۰ھ
تا ۱۵۷۶ع / ۹۸۴ھ) په لور رخصت کړو همایون ۱۵۴۴ع / ۹۵۱ھ کښې هرات ته ورسېد
او بیا دَ ایران دارالخلافه قزوین ته لاړو دلته شاه طهماسپ ورځنه
دَ خاص مصلحت تحت ئې ډېره مهربانی وکړې بیا ئې خپل ایرانی قزلباش
لښکر دَ مراد مرزا (پسر شاه طهماسپ شاه ایران) تحت ورځنه کړو. هغهٔ
ړومبې دَ ایرانی قزلباش لښکر په امداد عسکری مرزا نه بُست قبضه
کړو. او بیا ئې په قندهار حمله وکړه دواړه اړخ ته ښهٔ خونریزی
وشوه او دَ ډېر ایرانی لښکر تباه شو خو اخیر کار محمد همایون ستمبر ۱۵۴۵ع / ۹۵۲ھ
کښې قندهار قبضه کړو او بیا ئې دَ ایرانی لښکر په امداد نومبر ۱۵۴۵ع / ۹۵۲ھ کښې
کابل محاصره کړو او فتح ئې کړو.

« بے جنگ گرفت ملکِ کابل از وے »

همایون نامه لیکي:

"۱۵۴۵ع / ۹۵۲ھ کښې کابل ته داخبر راورسېد چې همایون ایران نه واپس راغلو او د شاه ایران فوځ هغه پسې ور دوستو را روان دے"[1]

د مآثرالامرا جلد اول ص۳۴۲ مطابق:

"جب ہمایون نے قندہار فتح کرنے کے بعد شاہ ایران سے وعدے کے مطابق قندہار قزلباشوں کے سپرد کیا تو پھر کابل کی فتح کا ارادہ کیا"

یا د مآثرالامرا جلد دوم ص۵۵۳ په نزد:

"جب ہمایوں نے ۱۵۴۴ع / ۹۵۱ھ میں ایران پہنچ کر بادشاہ ایران سے مدد طلب کی کہ جس وقت قندہار پر قبضہ ہو جائے گا تو شاہ ایران کے آدمیوں کے سپرد کردونگا۔ چنانچہ جب پہلی مرتبہ قندہار فتح ہوا تو بوداغ خان قاچار کے سپرد کردیا کہ جو قزلباش لشکر کا سردار اور ہمایون کے فوجی مددگار سلطان مراد مرزا کا اتالیق تھا۔"

مرزا کامران څخه په مختلف موقعو جنګ او څو ځله فتح و شکست نه ور دوستو چې آخر کار مرزا کامران د آدم خان ګکهر په وساطت ګرفتار شو او روند کړے شو۔ نو همایون د کابل مستقل حکمران شو قندهار د خاص شرائطو تحت شاه طهماسپ صفوی ته حواله شو او قزلباشي د کابل تو او شا په جاګیرا و مراعات سرفراز شول۔

---

[1] همایون نامه ـ ګلبدن بیګم ص۲۰۸

همایون نومبر ۱۵۵۵ع / ۹۶۱ھ کښې د هند د فتح په نیت روان شو او منعم خان (د بهرام خان زوی) یې د کابل منتظم او شاه ولي بکاول (شکي رسپه سالار) یې د مرزا حکیم سرپرست مقرر کړو. دغه وخت محمد اکبر تقریباً د دولس نیم کالو وو. هغه خپل زوی محمد اکبر څخه د جلال آباد په لار دسمبر ۱۵۵۵ع محرم ۹۶۲ھ کښې بګرام (پېښور) ته ورسید و. دلته پېښور کښې یې پړاو وکړو. د پېښور ګورنر سکندر خان ازبک په ښه کارکردګۍ د "خان" په لقب مشرف شو په ۳۱ د سمبر ۱۵۵۵ع ۵ صفر ۹۶۲ھ دریاب سنده ته ورسید و. دلته یې درې ورځې پړاو وکړو. دا هغه زمانه وه چې د سلیم شاه سوري جانشین خپلو کښې د تخت نشینۍ په خونړي جنګ بوخت وو او ۱۵۵۳-۵۴ع / ۹۶۱-۶۲ھ دوران برلاسي عادل شاه. ابراهیم شاه او سکندر شاه بادشاهان شول.

محمد همایون چې دریاب سنده نه لاهور پلو روان شو نو لاره کښې یې د سوري بادشاه ناراض پښتون لښکر د روهتاس (جهلم) په مقام هیڅ مزاحمت ونکړو او همایون بې مزاحمته لاهور ته ورسید و لاهور یې نصیب خان افغان نه قبضه کړو او د سرهند په مقام یې د سکندر شاه سوري یو لوی لښکر ته شکست ورکړو او دغسې په ۲۰ د جولائی ۱۵۵۵ع / ۹۶۲ھ د دهلي د تخت مالک شو خو د دهلي تخت یې تر ډېره عمره نصیب نه شو او په ۲۸ د جنوري ۱۵۵۶ع / ۹۶۳ھ د مطالعې په وخت پوړونه راوغورزید او مړ شو.

# مرزا محمّد کامران

دَ بابر دَ وفات نه پس محمّد همایون دَ هندوستان او دَ هغهٔ

ناسکه ورور مرزا کامران (په لمریز کال ۱۵۰۹ء) دَ کابل او پنجاب حاکم شو او

دَ کامران مرزا سکه ورور دَ قندهار په ولایت حاکم شو

دَ تُزکِ بابری مطابق:

« مرزا کامران یو صالح او قابل ځوان دے »

خو دَ همایون نامه لیکونکې گلبدن بیگم بنت بابر بادشاه په نزد:

« مرزا کامران یو ناآهله او حرصی انسان دے »

دَ ځینې مؤرخینو خیال دے چې مرزا کامران خلیل مومند او داؤدزی (یا

رغوری خیل) قبیلو څخه ښه رشته او تعلق زیات کړو او دَ دوی په امداد

او دَ دوی دَ پښتنو په سیمه غالب او قابض شول.

« ۳۴-۱۵۳۳ء کښې دَ مرزا کامران په امداد خلیل مومند دَ دریائې کابل

په جنوبي اړخ قابض شول[1] »

1.A Glossary of the tribes and casts of Punjab and NWFP
by Sir DENZIL IBBESTSON &ROSE P-297

همایون نامه او اکبرنامه په دې موضوع هیڅ تحریر نهٔ لري.

البته متأخرین مؤرخین لکه چې دا اندازه د خلیل مومند و په هغه امداد او پناه بنا کوي چې مرزا کامران څخه دوئ په سخت وخت ملګري وو "د پېښور دو ټبرو مومند و څخه ئې پناه واخسته[1] او د همایون خلاف یې د هغهٔ پوره مرسته او د مال و ځان قرباني ورکړه.

د اکبرنامې لوستو څخه ښکاري چې د شېرشاه سوري د لاسه شکست نه پس د همایون مقصد خپل ناسکه وروڼو مرزا کامران یا مرزا عسکري څخه پناه نهٔ وه. بلکه د یو خاص مصلحت او سازش تحت ځان د ایران شاه طهماسپ پلوڼ سول او د قزلباش په امداد د قندهار و کابل په سیمه قبضه او سلطنت دو. د مرزا کامران او مرزا عسکري غفلت او ځان خاني او د قندهار په سیمه د مرزا عسکري شکست او د همایون فتح د مرزا کامران د تباهۍ او شکست پیښې څخه شوه.

همایون چې کابل فتح کړو نو مرزا کامران تهتهه او بهکر پلوړ لاړو هلته ئې یو لوئې لښکر تیار کړو. غزني یې قبضه کړو او بیا ناساپي په کابل حمله آور شو. او د همایون په غیر موجودګۍ کښې ئې کابل بېرته قبضه کړو. خو همایون چې د بدخشان له مهم بېرته راستون شو نو مرزا کامران ئې مزاحمت کابل پرېښودو. همایون د هغهٔ په تعاقب بهادرخان. محمد قلي برلاس و غیره سرداران مقرر کړل خو هغه علي غار او علي شنګ زړوته وتښتېدو او دغه ځائې نه خلیل مومند څخه په پناه اخستو مجبور شو. شاهي لښکر د غاړو

1. A History of Afghanistan by G.B. Malleson P-171

شهیدان کلي ته واپس شو او کامران مرزا د خلیل مومند یو لوئی لښکر تیار کړ او د جلال آباد ښوا کښې چار باغ څخه جوخته قلعه ئې محاصره کړه همایون چې د مرزا کامران د دې حرکت نه خبر شو نو ځنې څخه جلال آباد پلو روان شو. مرزا کامران د همایون په رارسیدو د قلعه محاصره پرېښوده او غرونو طرف ته لاړو. څو ورځې پس بیا د خلیل مومند لښکر څخه کابل ته ورسیدو. نو په عین موقع د قندهار نه بیرم خان راورسیدو او هغهٔ د کابل د محاصرې اراده ترک کړه او لغمان پلو لاړو. همایون او بیرم خان ئې په تعاقب جلال آباد ته ورسیدل. خو کامران مرزا د کانور او نورګل دروته لاړو او دغه ځائې نه نیلاب (دریائې سنده) ته ورسیدو - بیرم خان او محمد همایون د دکې نه واپس شول.

څو ورځې تیرې نهٔ وې چې کامران مرزا د خلیل مومند په امداد بیا جلال آباد محاصره کړو. همایون د غزنی، گردیز، بنګښ او لوګر جاګیرداران ورور مرزا هندال څخه د دهٔ خلاف را روان شو. شاهی لښکر سرخ آب ته راورسیدو. د مرزا کامران خلیل مومند لښکر د شپې په تیارهٔ کښې د سرخ آب او کندمک ترمینځه د حیدر محمد آخته بیګی تحت د شاهی لښکر په یو دسته حمله وکړه. حیدر محمد زخمی شو. ډیر شاهی لښکر قتل شو او هر څهٔ ئې لوټ شول او مرزا کامران د شپې په تیارهٔ کښې غائب شو.

څو ورځې پس چې د لښکرګاه په یو کلي چارپیار کښې شاهي کیمپ نصب

ACKU

دوځا سوسانو خبر راوړو چې مرزا کامران به د شپې پر ومنې پارکېنې د خلیل مومند په امداد په شاهي لښکر چپاو کوي. همایون په مختلف ځایونو خپل اهلکار مقرر کړل. د اتوار په شپه ۲۰ نومبر ۱۵۵۱ع (۲۱ ذوالقعده ۹۵۸هـ) خلیل مومند په شاهي کېمپ حمله وکړه زبردست جنګ وشو چې مرزا هندال په دغه جنګ کښې قتل شو.

وائي چې « مرزا هندال د خلیل مومند پښتنو د شبخون په اراده خبر شو نو هغه د خپل حفاظت ټول بند و بست برابر کړو. او بیا لږ آرام د پاره خپلې خېمې ته راغلو. دې کښې د پښتنو د حملې غږ شو. او بیونا ساپي د هغه په خېمه حمله آور رادننه شول. دغه وخت سخته تیاره وه او مرزا هندال چې د هغوئ د حملې تنبولو تیاری کوله نو هغه بیا د هغوئ د حملې د ننه دلاندې وو. د هغه خلق مذبذب او پرېشان شول. او هر کس د خپل اس په تلاش شو. د غشی لیندې د استعمال وخت هم تېر وو. مرزا هندال یو حمله آور دښمن ختخه په پرېو ونو شو او هغه ئې قتل کړو. د دغه مقتول ورور چې آرنده (د اقبال نامې ترتیب) نومې سړے چې په قوم مومند (بار ه مومند) وو. مرزا هندال ئې په زهریلا شلګی داسې وو هلو چې بلې دنیا ته ئې رخصت کړو. د مرزا کامران د ملګرو وینا وه چې دغه جارنده مومند ته د مرزا هندال د کوتي د خاص مهر دیه په لاس ور غله. هغه د حقیقت نه بې خبره دغه دیه مرزا کامران له راوړه او ټول واقعات ئې ورته بیان کړل. مرزا کامران چې د کوتي د مهر دیه ولیده نو پوهه شو او ډېر په افسوس ئې خپل پټکے سر نه لاندې را ګوزار کړو او دي د پل چې دا خو مرزا هندال

ACKU

دوچې شهید شو[1]"

"دَ شپې په دغه تیاره کښې چې دَ جنګ علامات ساړهٔ شول نو دَ مرزا هندال ملګرو کښې ابراهیم بدخشي دَ هغهٔ لاش وپېژندو او محمد همایون ته ئې خبر ورکړو هغهٔ دغه لاش کابل ته وُرسوو او دَ بابر دَ قبر پښوته ئې ښخ کړو. دَ مرزا هندال عمر دغه وخت شلور دېرش کاله وو."

دَ مرزا هندال قتل ـ دَ مرزا کامران او پښتنو مخالفت او خپل شکست

دَ همایون په زړهٔ لکه دَ اَنهٔ غوچوکه کېدل. هغهٔ دَ مرزا هندال ټول جاګیر او نوکران، خپل لس کلن زوئې محمد اکبر ته حواله کړل. بیا چپله یو لوئې لښکر څخه خلیل مومند پلو روان شو. هغهٔ دَ حسین خان ما تحت محمد خان. محمد قراق، شیخ بهلول او شیخ قلی نارنجی غوند ئې جرنیلان مقرر کړل او دېر په تېزۍ هغه خاص مقام ته راوُرسېدو چرته چې دَ خلیل مومند قبیلې خورې ورې پرتې وې. پته نهٔ لګېده چې مرزا کامران چاڅخه دے. عین په دغه وخت مهام علی قلی خان او باباخزاری دَ شاهی لښکر په لاس کښېوتل ـ چې دَ مرزا کامران له اړخه دَ مندړو ملک محمد پلو روان وو. دوئ نه دَ مرزا کامران تپوس وُشو. مهام علی قلی دوئ ته یو داسې ځائې وُښود لوچې هلته مرزا کامران نهٔ وو. خو باباخزاری دَ هغهٔ صحی درک ښکاره کړو. شاهی لښکر دَ شپې په تیاره کښې په دغه مقام حمله وُکړه. دېر خلیل

---

[1] اکبرنامه جلد اول ابوالفضل ص ۵۸۳.

ACKU

(مومند) يې قتل کړل او بې شمېره ماشومان او زنانه ئې بنديوان کړل. ځينې شاهي اهلکار هغه خېمې ته ورننه شول چېرته چې مرزا کامران وو. د دغه خېمې دوه تنو نه يو کس بېګ ملوک ګرفتار شو چې د مرزا کامران خاص ملګرے وو. ولې بل وُتښتېدو. وروستو پته وُلګېده چې فراري تښتېدونکے سړے مرزا کامران وو. د پښتنو ځينې مشران لکه شيخ يوسف کوراڼي او ملک سنګي جنګ ته تيار شول خو بيا وروستو وُتښتېدل. د پښتنو ډېر سامان و سامان د شاهي لښکر په لاس شو. مرزا کامران دغه ځائې نه د هند په لور لاړو. او محمد همايون دې ځائې نه واپس شو"[1]

د اکبرنامه په حواله:

"محمد همايون او د هغه نوټي محمد اکبر نومبر ۱۵۵۲ع / ۹۵۹ه کښې د ګردېز په لاره کښکش په علاقه حمله آور شول. عبدالرحماني او برمزيد قبيلې لوټ تالان شوې. فتح شاه افغان ئې نه بردسته مقابله وُکړه خو د منعم خان لښکر نه ئې شکست وُخوړو او زخمي حالت کښې وُتښتېدو. په دغه موقعه د آدم خان ګکهړ له لوري يو وفد را وُرسېدو او د هغه يو خط ئې پادشاه ته حواله کړو. په دغه خط کښې د هغه د وفادارۍ اظهار او د هغه په علاقه د مرزا کامران موجودګي او په څه طريقه د ګرفتارۍ ذکر تحرير وو.

وائي چې مرزا کامران څو ملګرو څخه هند پلو روان شو. نو هغه د خيبر نه شاه بداغ خان د هند بادشاه سليم شاه سوري پلو واستولو او يو بل

---

[1] اکبرنامه جلد اول. ابوالفضل ص ۵۹۴.

قاصد علی محمد اسپ راسپ: اسپه: یوسفزی ئې هم ور ولېږلو. د سلیم شاه او مرزا کامران ترمېنځه د بان (پنجاب) په مقام ملاقات وشو په دغه ملاقات کښې مرزا کامران څخه چېل ملګری بابا جوجک، ملا شفاعی بابا سعید کبکاق - شاه بداغ. عالم شاه. سبحان قلی خان. صالح دیوانه. حاجی یوسف. علی محمد اسپ. تیمرتاش. غالب خان. عبدل کوکا او غیر شامل وو. خو د سلیم شاه (سوری) رویه مثبت او نه وه. هغه زیات مایوس شو. او شاه بداغ ئې ملامت کړو چې کوندی ئې د هغه په وینا او مشوره زه د شاه هند څخه په ملاقات مجبور شوم.

سلیم شاه سوری چې د پنجاب معاملات نه فارغ شو. نو دهلی ته روان شو. او مرزا کامران ئې هم په تشو وعدو خان سره روان کړو. مرزا کامران چې د سلیم شاه سوری په منفی رویه پوی شو نو هغه د تښتېدو په ژر کودر شو. هغه د نږدې سیمې راجه باخو نه خپل نږدې نوکر جوګی خان ولېږلو چې د هغه د خلاصی څخه نه وسیت وکړی. راجه د هغه د خلاصی وعده وکړه. او یوه ورځ چې سلیم شاه سوری د ماسیواړه دریاب نه پوري وتو نو مرزا کامران په ډېره خاموشه بابا سعید څخه د خپلې خېمې نه بهر شو او د خان په ځای یې یوسف آفتابی سملولو. د سلیم شاه سوری له وېرې راجه باخو هغه د کالهلو راجه پلو واستولو. خو دغه راجه هم د سلیم شاه سوری له وېرې مرزا کامران د جمون راجه پلو ولېږلو. د جمون راجه هغه د سلیم شاه سوری (وفات اکتوبر ۱۵۵۳ ع ـ ۹۶۰ هـ)

ACKU

له ډېرې نجیله علاقه کښې پرې نه ښودو. هغه مان کوټ طرفته لاړ او نه ځای نه یې د کابل اراده وکړه او د کابل په لاره د هغه آدم خان ګهکړ ته ورسېد. آدم خان ګهکړ په ده پیرې مقرر کړه او محمد همایون یې د ټول واقعات نه خبر کړو. محمد همایون ډېر په تېزۍ خپل زوی محمد اکبر څخه د بنګش علاقې نه دریای سنده پلو روان شو او د آدم خان ګکهړ علاقې پرهاله ته ورسېد. هغه مرزا کامران محمد همایون ته حواله کړو. او د هغه په حکم مرزا کامران نومبر $\frac{۱۵۵۳ء}{۹۶۰ھ}$ کښې په دواړو سترګو ړوند کړے شو.

محمد همایون بیرته دریای سنده پلو راستون شو. د دریای سنده په غاړه مرزا کامران د حجاز په لور د سفر اجازت وغوښتو. محمد همایون د هغه دغه درخواست منظور کړو. او د هغه د خواهش مطابق مکې ته ولېږلے شو. هغه د دریای سنده نه ټهټهه او دغه ځای نه مکې ته ورسېد. هغه څلور ځل حج وکړو او اخېرکار په $\frac{۱۵ \text{ اکتوبر } ۱۵۵۷ء}{۱۱ \text{ ذی الحجه } ۹۶۴ھ}$ مکه کښې وفات شو. د همایون نامه مطابق

"تمام مؤرخین کہتے ہیں۔ کہ کامران مرزا کی ارغون بیوی ماہ چوچک نے اندھے شوہر کا ساتھ دیا۔ ہمایون کے ملازمین میں سے ایک شخص چلمہ بیگ نے بھی بدنصیب کامران کی رفاقت کی۔ اندھے کامران نے چار بار حج کرنے کی سعادت پائی، اور بالآخر ۵ اکتوبر ۱۵۵۷ء میں اس دنیا سے رخصت ہوا۔ ماہ چوچک اپنے شوہر سے سات مہینے بعد تک زندہ رہی۔"[1]

---

[1] ہمایون نامہ۔ اردو ترجمہ رشید اختر ندوی ص ۲۲۵

ACKU

د همایون او مرزا کامران ترمنځه د اقتدار د جنګ نقشه تاریخ فرشته په دې ډول بیانوي:

"د همایون او مرزا کامران ترمنځه د دریائې پنجهتر (د دریائې کابل د یو شاخ نوم دے) په مقام جنګ وشو. کامران بېلوده. او د کوه هندوکش او لغمان غرونو پلو وتښتېده. خو څهٔ یو کال پس کامران یو ځل بیا د یو ټیم نارکسانو سنګر راغونډ کړو. همایون ورپسې کابل نه روان شو. خو هغه د مهمندی خیل پښتنو او د لغمان سردارانو څخه سند هـ پلو وتښتېده. همایون واپس کابل ته ستون شو. کامران د دریائې سند هـ د غاړې نه بیا پښتنو ته راغلو او ښاد دې آغانا کړو. همایون دوباره فوج کشي وکړه او مرزا کامران بیا لغمان نه په منډه پېښور ته ورسېد و. او بیا ئې کښې او کړد نړ په لار غزني ته لاړ و خو هلته د ئه نه څکېنې بېرم خان رسېدلے وو. کامران مجبوراً پېښور ته بېرته ستون شو او لښکر ئې را غونډ کړو. همایون چې دې نه خبر شو. نو پېښور ته روان شو. د خیبر په خوا کښې مرزا کامران او د هغهٔ پښتنو لښکرو په شاهي لښکر ۹۵۵ کښې شبخون وهلو سېنهٔ جنګ وشو چې نورونه علاوه مرزا هندال هم پکښې مړ شو. همایون څهٔ موده پس د پښتنو آبادیو پلو را روان شو. دې ځل هغهٔ د خیلزي او مهمندي قبیلې تباه و برباد کړې او دوی ئې ولوټل. مرزا کامران د دې ځائې نه وتښتېد و او سلیم شاه سوري ته ورسېد و. هغهٔ نه مایوسه د پنجاب سلطان آدم ککهر څخه ئې پناه واخسته. هغهٔ ګرفتار کړو او د همایون حواله ئې کړو. همایون ورته

ACKU

ستر کي وبنکلې. اخیر کار مرزا کامران ۱۵۵۷ع / ۹۶۴هـ کښې په حق ورسیدو[۱]

دَ مرزا کامران دَ لیدلو دَ محرومۍ واقعه سید بهادرشاه ظفر په دې انداز بیانوی:

„ په مقرر ورځ یو جراح او دوه څلور امیران دَ مرزا کامران خېمې ته ورغلل. هغه ئې خېمه کښې راخملولو نه ئې ورله وُترلې. دوه تنه ئې په سینه سواره شول. او بیا یې او د سرو سیخونه ئې دَ هغهٔ په سترګو کښې ننوواره وو هل. دَ دې دهشت ناکې کارروائۍ دوران کښې کامران دَ ډیر استقلال او جرأت مظاهره وُکړه او اُف، تر دې هم وُنکړو. ولې کوم وخت چې په سترګو کښې ئې ورله دَ تروو نیمبوانو او به څڅولې نو دا سوے هغهٔ برداشت نکړو او دوه مره یې ووئیل:

„ظالمانو! نور راته څه کوئ- دې نه

خو نن ما مرګ بهتر وو-“[۲]

محمد همایون چې دَ مرزا کامران نه بېغم شو نو پېښور ته راغلو دَ بکرام قلعه ئې دَ پهلوان دوست دَ نګرانۍ تحت سر دوباره ۱۵۵۳ع / ۹۶۱هـ کښې جوړه کړه. چې پښتنو ورانه کړې وه. دَ فوځ یوه ټکړه دسته ئې

---

۱ تاریخ فرشته جلد اول صـ ۲۴۳

۲ پښتانهٔ دَ تاریخ په رڼا کښې صـ ۵۹۲

په دې قلعه کښې د سکندرخان ازبک تخت مقرر کړه. او پخپله د کابل په لور روان شو. د محمد همایون واپسۍ څخه سم خپل مومند پښتنو په قلعه یوه لویه حمله وکړه. خو سکندرخان ازبک د پرې بهادرۍ څخه د دوی دفعه حمله وشنیوله او دوی ته یې شکست ورکړو.

مرزا کامران یو سنی شاعر او عالم وو. د همایون د فرار په وخت دے او د ده کشر ورور مرزا عسکری د کابل، پنجاب او قندهار حاکمان وو. د هغه اِیکی یونه وې لسلی کلن ابوالقاسم ۱۵۵۷ء کښې اکبر خپله د سلطنت د پاره خطرناک حریف محسوس کړو. اول یې ګوالیار کښې بندیوان کړو او څو کاله پس یې د پرېه بې دردۍ قتل کړو.

## یوسرسری

# تبصره

دَ مرزا کامران او محمّد همایون تر مینځه دَ قندهار جنګ او دغه جنګ کښې دَ خلیل مومند شرکت، کردار او قربانی محض پښتونولی او پښتو وه. دَ بابر دَ وفات نه وروستو محمّد همایون دَ هندوستان او مرزا کامران دَ کابل و پېښور حکمران تسلیم شول. خلیل مومند دَ مرزا کامران رعیت او هغه ئې بادشاه شو. دَ بادشاه سخت وخت او بیا په تېره تېره دوئ څخه پناه دَ هغوئ ذمه داری شوه. چې لکه دَ یو سپه نر پښتون دَ خپل فرض احساس ؤکړی او خپل مال وځان دَ پښتونولۍ په دوٌ قربان کړی.

دې کښې هیڅ شک نشته چې همایون دَ ایرانی لښکر په زور او دَ قندهار په عِوض دَ کابل و پېښور بادشاه شو. خو دَ خلیل مومند په نزد هغهٔ ظالم او دَ بل په حق ډاکه وهونکے وو. هغوئ دَ دې سیمې جائز وارث او حقدار مرزا کامران تسلیموؤ. او محمّد همایون ئې دَ قزلباش لښکر لاس کښې ګوډاګے لیدو. دَ ایرانی شاهی لښکر مخکښې دوئ غیرمنظم او جنګی

چال نه ناواقف وو۔ خو بیا هُم دَ دوئ دَ تکړه بهادر ځوانانو په برکت مرزا کامران خوواره کامیابي حاصل کړې. دَ شاهي جنګ تو دمیدان کښې شکست دوئ ورو ستولو بیې تباهي او بربادي ځخه مخامخ کړل او نه یوازې داچې همایون لتاړا او بربادکړل. بلکه دَ هغهٔ زوئ محمّد اکبر هم پښتنو ځخه په جنګ ورکوټي لوئ شوے وو، دَ ز ړهٔ زنګ او خیرے لرې نکړو او دَ خپل بادشاهت په وخت ئې دَ دوئ په ګکړو واسې کو زارونه وُکړل چې دَ دغه ځرَپ نه خونه او پرهرونه په زمانو جوړ نهٔ شول. دَ شاهجهان ناکړدې او دَ اورنګ زیب پښتو ن دُشمن پالیسي پرې لا دَپاسه وه چې دوئ ئې نبهٔ وزبوُل او دَ دوئ په سرونو بیې امیناړونه تعمیر کړل.

دَ تخت و وراثت په دغه شاهي جنګ کښې کهٔ هر څو خلیل مومند تباه وبرباد شول او په نورو علاقو پښتو هم په قبضې په ځائې خپلو سیمونه هم دستبردار شول او په دغه دَ مغل شهنشاهیت وفادار، خیرخواه او ملګرې آباد شول. خو دَ لوظ قول پابندې او دَ پناه غوښتونکی امداد دوئ دَ اُصولي سیاست او پښتو نولی په اوچت مقام مامور کړل او دَ آدم خان ګکهر هسې کردارئې ادا نکړو. چاچې دَ دُنیا دې لالچ په خاطر پناه غوښتونکے دَ پناه په ځائې دُښمن ته حواله کړو.

دَ پښتنو دَ تاریخ بد قِسمتي ده چې مرزا کامران ناکام او محمّد همایون بربیالے شو او کابل او پېښور نه علاوه دَ هندوستان دَ سوریا پښتون سلطنت هم واکمن شو. دَ سلیم شاه سوری کوتاهي او بېوقوفي وه

چې هغهٔ دَ ښا تړک وخت احساس ونکړو او دَ هغه مرزا کامران امداد ئې وُنکړو چاته چې دَ خپل موصنډ مرسته او امداد حاصل وو او دَ ایرانی قزلباش لښکر او محمد همایون خلاف دا پارېدلی وو. دَ پښتنو دَ ډېرو قبیلو دَ سردمهرۍ او غفلت نتیجه وه چې را تللونکی وخت کښې ایرانی نژاد شیعه مغل سردارانو دَ سُنی مسلک پښتنو مال ومتاع پائمال او تباه و برباد کړل او دَ خپل بادشاهت په خاطر مغل شاهانو دعئ او راجپوت لکه دَ اور وشرمخانو دَ دوئ په خونبو بوخت کړل.

دَ مرزا کامران شرافت او سرتیوب دو چې ۱۵۴۲ع / ۹۴۹ھ کښې محمد همایون هندوستان نه په تښتېدو دَ ایران په سفر وو نو خپل روئې محمد اکبر ئې مرزا هندال څخه مرزا کامران ته وُلېږلو. مرزا کامران دَ دوئ ښهٔ طبع تسلی وُکړه او هغهٔ دَ جوئې شاهی په غاړه کا نړ رخبزه نه مکه دَ محمد اکبر جاگیر مقرر کړو چې وروستو دَ غه ځائې دَ جلال آباد په نوم مشهور شو[1] او چې هر کله درې کاله پس ۱۵۴۵ع / ۹۵۲ھ کښې محمد همایون کابل فتح کړو لو محمد اکبر صحیح سلامت خپل پلار ته حواله شو خو پلې خوا هُم دغه محمد اکبر چې دَ هند بادشاه شو نو دَ مرزا کامران ایکی یوزو وئې انتقام ئې قتل کړو حالانکه:

"یہ بات خود اس بات کی دلیل ہے کہ کامران اکبر کا دُشمن نہ تھا اگر کامران اکبر کا دشمن ہوتا تو جبکہ وہ کئی بار اس کے ہاتھ آیا وہ اُسے ضرور کوئی نقصان پہنچا تا۔ مگر اُس نے اُسے کوئی نقصان نہیں پہنچایا"[2]

---

[1] اکبر نامه جلد اول ص ۴۸ [2] ہمایوں نامه ترجمہ رشید اختر ندوی ص ۲۲۲۔

دَ مرزا کامران او خلیل مومند دوستي او تعلق دَ ورو ستنو مؤرخینو دَ تبصرو او بحث مرکز شو. دَ مرزا کامران امداد او پناهي نه بې دَ «بیدل» رنګ ورکړو. او دَ پښتو رپه سیمه دَ دلازاک شکست او دَ خلیل مومند فتح دَ مرزا کامران امداد څخه تعبیر شوه. اکبرنامه او همایون نامه چې دَ دغه وخت مستند کتابونه دي. دا قسم هیڅ ذکر نهٔ لري. دَ خلیل مومند مرسته او امداد محض دَ خپل بادشاه وفاداري او تابعداري ده. محمد همایون دوئ دَ پاره غیراو دَ ایراني قزلباش سپکر په لاس کو ځکه وو. دَ ایراني قزلباش موجودګي او هغوئ ته په مختلف پښتني علاقه دَ جاګیر بخښش او دَ قندهار په سر سودا، دَ دوئ په غرت نفس آزادۍ او حق زیږ دستګوزارو و. خلیل مومند دَ مرزا کامران په شرافت او سرپتوب قائل وو او هغه بې خپل وجود او وقار دَ پاره ګجه ضرر کیدلو هغوئ نهٔ غوښتل چې کلمه کښې دَ «علیٌ ولي الله وصی رسول الله خلیفة بلا فصل» اضافت وشي دغه وجه وه چې هغوئ دَ ایران دَ صفوي خاندان شیعیت مسلک نهٔ خوښوو.

دَ مرزا کامران او محمد همایون ترمنځه تقد ارنه علاوه دَ اسلامي مذهب دَ دوو مختلف فرقو سُني او شیعیت ترمنځه جنګ وو. مرزا کامران څخه دَ خلیل مومند دلـه او مرسته لکه چې سُني مسلک څخه تر ون اصلي سبب وو. دَ محمد همایون فتح دَ شیعیت کامیابي وه او دَ شیعیت کامیابي دَ خلیل مومند خصوصاً او پښتنو دَ پاره عموماً دېره لویه خبره وه. دَ قندهار په سر سودا دوئ دَ پاره یو چیلنج وو.

«همایون چې قندهار فتح کړو نو شاهِ ایران ځخه د اقرار او وعدې ترمخه یې دغه علاقه ایرانی سپه سالار ته حواله کړه او بیا په د کامران خلاف کابل پلو روان شو.»[1]

قندهار د خلیل مومند پلار ګنې تا تو بې او موروثي ځای او جا ئیداد وو. دوی که هر ځای وو خو دغه مرکز ځخه د دوی رشته قائم ووائم و ه خو د ایرانی قزلباش شیکی قبضه او فتح دوی مجبور کړل چې د مرزا کامران په امداد او پاد ورد ر ببری او د هغه هر قسم اعانت او امداد وکړی. د مرزا کامران ناکامی او محمد همایون کامیابی دوی د خپل موروثي جائید اد نه قطع تعلق کړل او د الرحلم په سیمه د دوی په جایید اد د عام خلق قابض او موروثیان شول چې د روستو د غلزوئي یا غلجي، په نوم مشهور شول.

د محمد همایون ظلم او مرزا کامران صبر و وچې همایون ځخه تخت و بخت وځا ونیکړه او هغه کال پس په حادثاتي مرګ مړ شو خو مرزا کامران دوه کاله نور هم ژوندے وو او دې واره د حج د ادائیګۍ نه وروستو د حجاز په مقدس سرزمین وفات شو او دغلته ښخ شو.

د مرزا کامران مظلومیت وو چې حریص او خود غرض آدم خان ګکهړ تباه ک انجام ته ورسید او محمد اکبر هغه تل عمري قید او د هغه زوئي لشکري ئې قتل کړو.

د مرزا کامران او محمد همایون د ا تضاد ار جنګ د سني شیعه رسه کښي،

---

[1] دربارِ اکبری۔ حسین آزاد ص ۱۶۳

دَخیل مومند دُورانه ښتی او دَ هام پښتنو اقتداری یا مذهبی مسلکی جنګ څخه قطع تعلقی. خاموشی او سکوت ځینی داسې اسباب وو چې همایون نه ترمحمد شاه رنګیلا دَ پښتنو سیمه راجپوت او شیعه منصبدارانو دَ خپل مخصوص مذهبی. سیاسی او معاشی مصلحتونو تحت داسې پایمال او تباه وبرباد کړه چې پښتانهٔ پخپل ملک او جایداد غلامان شول او را تلونکی وخت دَ مغل و پښتون ترمنځه دَ یو مسلسل جنګ سلسله شوه. او ترځو چې احمد شاه ابدالی بادشاه نهٔ وو نو بقول رحمان بابا او عبدالحمید بابا ــه

په سبب دَ ظالمانو حاکمانو

کوراو اوراو پښور دریواړه کړی

غریب خلق مرګان پکښې ویښیږی

ظالمان نکیر منکیر پښور ګور شو

دَ اکبر په زمانه میر شریف آملی صوبیدار کابل $\frac{۱۵۸۶ع}{۹۹۴ه}$ وروسته شیعه منصبداران وو. دَغسې حکیم مسیح الدین ابوالفتح. خواجه شمس الدین خوافی. وغیره

دَ شاهجهان په زمانه. علی مردان خان. لشکرخان ابوالحسن مشهدی مهابت خان زمانه بیک. خان زمان بهادر مرزا امان الله (پسر مهابت خان) ظفرخان. خواجه احسن الله. دانش مند خان. سزاوار خان بن لشکرخان ابوالحسن. اصالت خان میرعبدالهادی. وغیره.

دَ عالمگیر په زمانه، سید امیرخان خوافی، مهابت خان لهراسب خان محمد امین خان. فدائی خان. امیرخان. شفقت الله بن سزاوار خان

ACKU

افتخارخان سلطان حسين (حاكم پيښاور) امانت خان ميرک معين الدين احمد. ارشد خان مير ابوالعلاء. آغرخان پير محمد. كنج علي خان عبدالله بيگ. شمشيرخان. مكرم خان او محتشم خان وغيره اميران او منصبداران د شيعه مسلک پيرو كاران وو چې د سني مسلک پير و كارپيتنو څخه ئې هر قسم ظلم روا او جائز گڼهلو.

مغل تاريخ كه هرڅو د مغل شاهانو په مذهبي مسلک خاموش دے ولې د مغل طرز عمل ښائي چې همايون نه تر اخيره د دوئ رجحان او رغبت رافضيت څخه وو.

"وعظ کے دوران چند مغل نادے جنکی وضع قطع اوباشوں کی تھی کربلا کی تسبیحیں گردن اور بازو پر لپیٹے مجلس میں آکر بیٹھ گئے"

(منتخب اللباب جلد چہارم ص۲۰۱)

"همایون نے شیعوں کا لباس زیب تن کیا اور شیعہ مذہب کے سنوت اختیار کئے"  (سلطنت مغلیہ کا عروج وزوال از محمد شفیق ص۸۲)

د غسې د اكبر په زمانه راجه كنورمان سنگه نه واخله راجه تهودرمل. راجه جگ ناته. راجه بهگونت داس. رائے درگا سيسوديه. مادهوسنگه كچهواهه. د شاهجهان په زمانه، راجه كشن سنگه بهدوريه. راو امر سنگه راجه جگت سنگه. راجه جے رام بڑگوجر، راجه سيورام گور. راجه بيتهل داس مادهوسنگه هادا، مرزا راجه جے سنگه كچهواهه وغيره.

د عالمگير په زمانه كښې؛ راجه ديبي سنگه بنديله. كنور كشن سنگه بن راجه رام سنگه كچهواهه، راو دلپت بنديله. راجه جے سنگه سوائي. راجه جے سنگه

وغیره تہول امیران او منصبداران راجپوت هندوان وو. دَ هغوئ کوشش دوچې پښتانهٔ پائمال او نیست ونابود کړې چې دَ هند په زمکه دَ هغوئ بالمقابل دَ یو بهادر قوم وجود نهٔ وی.

مونږ دَ مغل تاریخ لږ په تفصیل وُکوروَ نو دا به صفا ثابته شی چې دَ کم شمیره مغل تول سلطنت کښې یو اړخ دَ بهادر پښتون په ضد دَ راجپوت په سر ولاړ وو نو بل اړخ دَ مغل حکومت سرکرده مسلمان منصبداران نیات تعداد دَ ایرانی نژاد شیعه سردارانو وو.

راجپوت غوښتل چې دَ هند په زمکه دَ پښتنو دَ سلکو نو کلونو دَ بهادرئ وقار او عزت تاریخ ختم کړی. نو دَ شیعه اهلِ کارو کوشش ووچې دَ هند او ایران ترمینځ دَ سُنی مسلک مضبوط کړه خند او دیوال پښتون ختم او نابود کړی او شیعه مسلک پیروکاری کړی. دَ ینکش او رکزی په علاقه دَ هغوئ دغه کوشش ترځهٔ حده کامیاب هم شو. ولې نور پښتون دَ هغوئ په مزاحمت او مدافعت وُدریده او په هر محاذیې دَ دغه نظریات مخالفت وکړو.

بقول بادشاه نامه:

" $\frac{۱۶۳۲}{۱۰۴۱}$ م جمادی الاول: چون قطان صوبۂ کابل که از طائفۂ سُنیہ حنفیہ اند از سلوک لشکر خان صوبدار آنجا بسبب مخالفتِ مذهب راضی نبودند. صوبۂ مذکور را به سعید خان که چغتائی وسپاهئ پاک اعتقاد است و به نسبت جدش میر غیاث الدین ترخان که از امرای حضرت قطب الملة والدین صاحبقران بود وُ دیگر نیاکانش که درین سلسلۂ عالیه بامارت رسیدا ند خانه زادهٔ کرسی است. و درین نزدیکی در کندن بیخ وفساد افاغنۂ پشاور

مساعیٔ جمیلہ بتقدیم رسانیده. مرحمت فرمودند. و فرمان قدر توان صوبہ داری را با خلعت فاخرو خنجر مرصع ارسال نمودند. و بمنصب چارہزاری ذات سرفرازی ساختند تھانہ دارئی ہر دو بنگش بہ شمشیر خان مفوض شد"[1]

مآثرالامراء جلد دوم ص۲۳۶ لیکی:

"دَ صوبہ کابل قطان چي حنفي المذهب وو. دَ دغه ځائ صوبیدار لشکرخان په سلوک او اختلافِ عقائد په بنیاد راپاسیدل خو دَ سعید خان بهادر ظفرجنگ تا ښدار بنگش په مدد د شادات ختم شول."

مآثرالامراء جلد سوم ص۱۹۹ لیکی:

"دَ صوبهٔ کابل سُنی حنفی مسلک پیروکار دَ لشکرخان څخه دَ مذهبی مخالفت په وجه دَ دهٔ په سلوک راضی نهٔ وو"

منتخب اللباب جلد چهارم دَ روهیله پښتون بارهٔ کښې لیکی:

"روهیلے ان افغانیوں سے تعلق رکھتے ہیں جو قزلباشوں کے حملوں سے بھاگ کر ہندوستان آگئے تھے"[2]

دَ مغل حکومت چې ترڅو ښهٔ مضبوط وو نو دَ هند په سیمه دَ شیعه، رافضي فرقې رواج او مني مانی وه. خو چې نوبت فرخ سیر ته راؤ رسید و

---

له بادشاه نامه. عبدالحمید لاهوری ص۱۵۴ (نیوسریز ۱۰۸ تالیف مجرلس)

[2] منتخب اللباب جلد چهارم ص۳۹۶

نو د هغهٔ په عهدِ حکومت نهٔ یوازې پاچې هند مسلم بلکه شیعه سُنی نسادات هُم شروع شول. چې مثال ئې د خواجه محمّد جعفر (شیعه) او شیخ محمّد عبدالله (سُنی) ترمینځه ورانه ده. د محمّد فرخ سیر د دربار قاضي شریعت خان او خانِ دوران کهٔ هرڅو شیخ عبدالله گرفتار کړو. ولې:

"اِن دنوں دھلی کی فضا بالکل بدلی ہوئی تھی. پہلے شاہجہان آباد دھلی کے ہر معرکے اور ہر بازار میں ائمہ اثنا عشری کی مدح و منقبت کا ذکر ہوتا رہتا تھا. مگر جامع مسجد کے ہنگامہ کے بعد دہلی کی گلیوں بازاروں میں رافضیوں کے مذمت کے سوا کچھ اور سننے میں نہیں آتا تھا"

"منتخب اللباب جلد چہارم ص ۲"

خپل ذاتي خیال لرم چې کهٔ د هند په زمکه د شیعه مسلک پیروکار مغل (ماسوائې بابر) برسرِ اقتدار نهٔ وے نو نن به د هند ټول باشندګان د سُنی مسلک پیروکار مسلمانان وو. د اکبر دینِ الهٰی او نورا اقتدار پسند مغل شاهانو طرزِ عمل د اسلام د سُنی مسلک په خوریدو نه کیني کهٔ هرڅو زبردست خنډ او رکاوټ وو. ولې د خیني اهلِ سُنّت وجماعت بزرګانِ دین په کوشش او جد وجهد بیا هم دیر خلق سُنی مسلمانان شول او د خپل مومنه د هغے، څو انسر د بهادر ننګیالو او شاه نه لمو تریاني بې خایه نقصاني او تلف نهٔ شوه چاچې د یو خاص مقصد په خاطر د مرزا کامران په حمایت خپل سرونه و شیندل او قربان شول.

# دَ شیخ تپور جنګ

اهلِ عرب دَ ایران دَ سلطنت دَ کوهِ البرز په شمال صوبه مازندران ته طبرستان وئي دَ طبرستان نوم په نیموا تو پهلوی بسیکو تپورستان درج دی یعنی سیمه دَ تپور. دَ دې تپور په مناسبت هغه زمانه دَ خلیل او داؤدزي په علاقه دَ شیخ تپور په مقام یا مانکوټ نوښار خخه بوخت دَ شیخ تپور په میدان دَ خلیل او یوسفزو ترمنځ دَ یو جنګ ذکر راځي چې اول ځل غالباً دَ تذکرة الابرار والاشرار په صفحات ښکاري:

„تا زمانیکه نوبتِ سرداری این اولس خان کجو آمد درین این مردرا با مردم غوری خیل محاربه عظیم افتاد. در موضع شیخ تپور مسماع است که مردم غوری خیل دوازده هزار سوار بودند همگی کیسر تافتند اکثر ایشان به تیرهائے این مردم دوخته کشته شدند. مگر اند که سماع است که در یک زر بر نبد اسپ یک سوار دوازده تیر غلتید بودند تا فتح بنام این مردم شد"[1]

وائي چې دَ سلطانپور (اوسنی هزارخانی یا خواوشا ځائي) په مقام دَ غوریاخیل او دلازاک ترمنځ جنګ کښې غوریاخیل فاتح شول او دلازاک شکست وخوړلو دلازاک سنه ۱۵۳۳م کښې جانقراء او ترمیری غرونو په لاره وو دریاځي سند نه پورې فرار شول. او دَ هزارزمانګو دلازاک ځمکې پیاوړسته او ګرپیسو ورخپره وادی دَ غوریاخیلو قسمت لیک شوه. دَ یو روایت په اساس دَ سلطانپور په مقام (هزارخانی) تقسیم شوه او دَ خیبر نه تر دریاځي سنده پورې او دَ آدم خیل نه تر میچنی او شیخ تپو تمول وادی دَ یوسفزو خانانو ملکیت او مقبوضه علاقه او جائیداد وګرځید او دَ دریاځي بار هخیو یا مومند دشما لا خلیل او داؤدزي آباد شول. مومند دوه برخې او خلیل داؤدزي دَ یو یو برخې مالکان شول. دغه زمانه رواج وو چې خیلو کښې دَ تنازعات او جنګ جګړه دَ ختمي په نیت دَ زمکو او آبادیانو تبادلې کیدې. دَ خلیل او داؤدزي ترمنځ دَ سرس او نرسي یا شم او بد جائیداد ترمنځه هم فیصله وشوه چه هر دیرش کاله پس به دَ زمکې او علاقه جات تبادله وي او دغه رسم ورواج دَ احمد شاه ابدالی تر زمانې قائم وو.

[1] تذکرة الابرار و الاشرار ص ۹۶ -

اندازه ده چې د خیل یوسفزی د شیخ تپور د جنګ په وخت
خلیل د داؤدزی او داؤدزی د خیل په اوسنیه علاقه آباد وو. د خپل
زوږ عداوت او د چارمنګ د شکست په عناد خیل د یوسفزی په علاقه
د بلوسپدل او د ترمی په موسم خصوصاً چې د سپند ونو نالو او بډ
په کمې وې نو د دوئ سوارهٔ به د شپې په تیارهٔ کښې سپند ونو نه پورې
د یوسفزی علاقې ته لاړل غرونو نالو کښې به پټ شول او سحر
وختی به ئې د بهرام ډیری. کردی نکه. وریه. ګړیه. پشاؤ. سلطان
شهی. کاجکله. کلپانی. تکیاړی. ملاکنډ او څینې نور کلی لوټ تالان
کړل. د دوئ مال و اسباب او څاروی به ئې په زوږ وستل. دې
نه علاوه د خیبر په لار د یوسفزی کاروان لوټل د دوئ ځنې کسان
وژل او د ګګیانی قبیلې سردار ملک محمد خان بن سلطان ګګیانی
چې زنې دردیه ځنې وژل. داسې واقعات وحالات وو چې یوسفزی
د خان کجهو په مشری کښې راغونډ شول او فیصله ئې وکړه چې خیل نه
د دغه ظلم بدل واخلی. د تاریخ حافظ رحمت خانی مطابق[1]:

"دغه وخت اکثر مومند ننګرهار کښې وسپدل او تول
خلیل د پېښور په سیمه آباد وو. او د دوئ سردار ملک بازید
ابن محمود خلیل اسحاق زی وو چې د نصیرالدین محمد
همایون بادشاه خاص دوست وو. د پېښور په سیمه چې
کوم مومند آباد وو. د هغوئ مشر سلیمان شاه ابن زنګی
مهمند او دی زی وو چې د خپل وخت یو بهادر انسان وو[1]

[1] تاریخ حافظ رحمت خان صـ ۲۱۲.

ACKU

دَ یوسف زي سنبکر دَ شیخ تپور بالمقابل دَ درې باب یؤ غاړه او دَ خلیل داؤد زي او دَ پېښور په سیمه آباد دغه مومند سنبکر دَ شیخ تپور په مقام بله غاړه راغونډ شول. دَ صُلح صفایي کوششونه ناکام شول دَ جنګ تیاري شروع شوې او اخیرکار دَ یوسف زي سنبکر دریابُ کابل نه راپورې په شیخ تپور ۵۰-۱۵۴۹ء[1] کښې حمله آور شول دَ دواړو قبیلو ترمینځ سخت جنګ وُشو. دَ مومند قوم سردار میر محمکے مومند مریم زي خېل پنځه سوه سورو تخته زبر دست مزاحمت وُکړو. خو غوریاخېلو شکست وُخوړو بې اندازې خلق ئې قتل او زخمیان شول.

"بیا دَ یوسف زي غوریاخېل تخته په شیخ تپور جنګ عظیم وُشو نقل دے چې دولس ۱۲۰۰ زره سواره دَ غوریاخېل په هغه آوان کښې وو. دیارلس ۱۳۰۰ سوه سواره اسلق سوار دَ خلیل په تپه کښې وو. په دا جنګ کښې اکثر پرپوتل. نقل دے له اخوند درویزه چې دَ یوسفو په نا پرسینده باندې په هغه جنګ کښې دولس ۱۲ غشي لګ وو. دَ خلیل تپه په غوریاخېل کښې له هغه ورځ کم قوته پاتې شوه. وائي چې اکثر وُمړل"[2]

دَ تاریخ حافظ رحمت خاني (تالیف ۱۷۷۱ء / ۱۱۸۴ھ) دَ یک تخته برښېي چې دَ جنګ اصلي سبب دَ خلیل قوم زیادتي وه خو دَ خلیل قوم دَ شکست اصلي وجه دَ دغه قبیلې دَ سردار ملک بازید بن محمود خیل اسحاق زي غیر موجودګي

---

[1] A glossary of the Tribes and casts of Punjab and NWFP P-297

[2] تاریخ مرصع ص ۲۳۳

ACKU

وه ځوک چې د همایون باد شاه په حضور کابل کښې وو. او دې ټول واقعات
نه ئې خبر وو. دوېم په دې جنګ کښې د مومند قوم شرکت جزوي وو.

د اکثرو مؤرخینو په نزد دا جنګ شاه عالم پل خخه جوخت د سپینډ
په غاړه شوے دے. خو شاه عالم پل خخه د شېخ تپور تعین کول هیڅ
معنیٰ نه لري. ځکه چې دا مقام د محمدزي قبیلې د حدّ فاصل دریائې لنډا
نه ډېر دا څوا شپه دننه د داؤدزي په علاقه دے. اندازه ده چې دا
جنګ د اوسني شېخ کلي په مقام واقع شوے وي. چې هغه زمانه به د شېخ
تپور په نوم مشهور وو. د شېخ کلي باشندګان محمدزي قوم خخه تعلق لري
ممکن ده د دغه جنګ د فتح په نتیجه کښې دوئ دغلته قابض پاتې شوي وي
خو دغسې د داؤدزي قوم څینې کلي هم د محمدزي په علاقه سپینډ سه
پورې د هغوئ په علاقه آباد دي. د سپینډ نه پورې راپورې د یوبل
په علاقه د دغه ابادئ موجودګي آیا د دغه جنګ نتیجه ده یا د سپینډ ونو
مخه اولاد رسېد لول یا نور څه وجوهات. خو د دې ټول واقعات اصلي سبب
او د دې رزمیه داستان باعث هم دغه د یوبل په علاقه او حدود قبضه او
تصرف وو چې دغه زمانه یو عام معمول وو.

ذاتي خیال لرم. چې د خلیل یوسفزي ترمینځ د شېخ تپور دغه
جنګ او معرکه نه شاه عالم پل او نه د شېخ کلي په مقام واقع شوې دے
بلکه دا جنګ که واقعي شوے وي لکه چې د تذکرة الابرار والاشرار تاریخ
حافظ رحمت خان تحریرات نه ظاهره ده نو دا جنګ به اړه مرود امان کوټ
(نوښهره) په خوا کښې د دریائې لنډا په هغه فراخه اوارت پاکېد ت

میدان کښې شوے وی چرته چې د شیخ تیمور میدان دے. دا هغه ځائې دے چې د وسط ایشیاء او هندوستان ترمینځ د تجارت آمد ورفت په دې کودر وو. دلته د خلیل مومند علاقې ته کاروان د محمد زئ او ورڅخه پس د یوسف زئ علاقې ته پورې وتو او بیا د هُند صوابئ په لار دریائے سِندھ نه عبور کیدو. دا سلسله تر هغه وخته جاری وه چې تر څو د مغل حکمران جلال الدین محمد اکبر په حکم د هغهٔ بخشي قاسم خان اټک څخه جونت د کیشتو پُل په ورومبئ ځل تړلے نهٔ وو چې محض د ژمي په موسم په کار راتلو.

# مرزا محمد حکیم

د محمد همایون بادشاه د وفات نه پس د هغه دوه زامن
محمد اکبر د هندوستان او مرزا محمد حکیم د کابل و پېښور بادشاه شو.
محمد همایون چې د آدم خان ګکهړ په سانه شي مرزا محمد کامران روند
کړو او د دریائې سنده نه بېرته کابل پلو ستون شو نو کابل کښې په
۱۹ اپریل ۱۵۵۴ء / ۱۵ جمادی الاول ۹۶۲ھ مرزا محمد حکیم پیدا شو او څه شپږ میاشتې پس چې
محمد همایون د هندوستان د فتح په نیت روان شو نو هغه منعم خان د
کابل منتظم او د مرزا محمد حکیم اتالیق مقرر کړو او هند پلو روان شو. د
محمد همایون د وفات نه پس د هغه زوئې محمد اکبر څه موده پس
منعم خان هند پلو را وغوښتو او د منعم خان نه وروسته غني خان د
مرزا محمد حکیم سرپرست شو. هغه ډېر ظالم وو. رعیت د ده خلاف
راپاریدو. غني خان دهلي پلو وتښتېدو او فضل بېګ او د هغه
نه وروسته ابوالفتح د مرزا محمد حکیم سرپرست شول. خو د کابل سرداران
او امیران هم د دوي د ډېره نه مخالف شول. ابوالفتح ئې قتل کړو. او
شاه ولی اتکه د کابل منتظم شو. شاه ولی اتکه هم ناکام او یو خوا ته شو.

او دَ مرزا محمّد حکیم مور ماه چوچک بېګم ټول بند وبست تر لاسه کړو محمّد اکبر ته دَ غنی خان شړل اُو دَ کابل دَ بد ترین انتظام خبرو نه متواتر رسېدل خو هغه دَ هندوستان په نظم و نسق کښې داسې ګیر وو چې دغه پلوُ فارغ نهٔ وو. اخېر کار هغهٔ منعم خان دوباره دَ کابل منتظم مقرر کړو او دې طرف ته یې راوُلېږلو. خو دَ مرزا محمد حکیم مور دَ کابل دَ بادشاهت په اندرونی معاملاتو کښې دَ اکبر مداخلت ته تیارنهٔ وه. هغه خپل کسان ته وئې او وفادار سپکر څخه دَ منعم خان په مزاحمت جلال آباد ته راورسېدو. هغې فیصله وُکړه چې منعم خان څخه به دَ لغمان په مقام جنګ کوی. دَ هغې خیال وو.

«که چرې کامیابي حاصل شوه. نو ډېره ښهٔ ده. او که نه شکست وُشو. نو خلیل مومند څخه به پناه واخلو»[1]

دَ لغمان په مقام دَ دواړو ډلو ترمېنځ جنګ وُشو. منعم خان شکست وُخوړو ټول سامان وسامان یې لوټ شو او بګرام (پېښور) پلوُ راوُتښتېدو. او دلته څو ورځې ډېر نه پس دَ خلیل مومند له ویرې پټ په پټه دریائې سند هند پورې وَتو او $\frac{1568}{975}$ کښې دِهېر ذلیل دَ اکبر بادشاه دربار ته وُرسېد و.[2]

$\frac{1569}{976}$ کښې دَ کابل ټول اختیارات دَ ابوالمعالی په لاس وو. هغه

---

[1] اکبرنامه - ابوالفضل ص ۲۹۱ جلد دوم.

[2] اکبرنامه جلد دوم ابوالفضل ص ۲۹۵.

ACKU

د پر ظالم وو. دغه زمانه د بدخشان حاکم مرزا سلیمان بن خان مرزا سلطان محمود بن سلطان ابو سعید چې محمد همایون هندوستان ته ګرځیدلی و په وخت د دغه ځائي والي مقرر کړے وو. په کابل حمله وکړه. هغهٔ خپله لور د مرزا محمد حکیم په نکاح ورکړه او د خپلې مرضۍ افسران ئې د مرزا محمد حکیم په امداد مقرر کړل. خو مرزا محمد حکیم دغه زمانه په هوش و حواس پوره وو. هغهٔ د مرزا سلیمان مقرر ناظم جلال آباد و پېښور قاضي خان وغیره معزول کړل او دغه علاقه یې عملاً قبضه کړه.

مخزنِ افغاني لیکي چې

"د شیخ اکا دوه ماشومان زامن هغه وخت د مغلو په قید و بند کرفتار شول چې د محمد همایون بادشاه زوئې مرزا محمد حکیم په پېښور حمله وکړه او د غوري خېل قبیله ئې تاخت و تاراج کړه. د دغه ماشومانو وروستو هیڅ پته معلوم نهٔ شوه"[۱].

مرزا سلیمان چې د مرزا حکیم د دې طرزِ عمل نه خبر شو نو د بیا په تېزۍ کابل پلو ته روان شو. مرزا حکیم چې د مرزا سلیمان د نیت نه خبر شو نو باقي کاکشال او نور سرکرده اعتباري امیران ئې کابل کښې پرېښودل او پخپله هم وفادار ملګرو خټه د جلال آباد. غریب خانه او علي مسجد په لار پېښور ته راورسید. د دلته قبیله حبیب خټه پراو شو او چې د خټې کله بان په ذریعه د مرزا سلیمان جلال آباد ته راتګ نه

---

[۱] مخزنِ افغاني ط ۶۶

خبر شو نو دریابِ سند ه پلوٌ لاړو۔ مرزا سلیمان چې د مرزا حکیم د دریابِ سند ه پورې تر تو نه خبر شو نو هغه پېښور نه واپس شو۔ د مرزا سلیمان دلته په کړتپه کښې هارون شنواری خخه زبردست جنګ وُشو۔ چې هارون او نور د پرشنواری په دغه جنګ کښې قتل شول[له]۔

اکبر اعظم د مرزا حکیم په درخواست یو لوئې لښکر د قطب الدین تحت د هغه امداد له وُلېږې لوا او کابل و جلال آباد ئې د مرزا سلیمان د سکښې نه آزاد کړو۔

مرزا محمد حکیم چې د مرزا سلیمان د دهشت او ذید بې نه فارغ شو نو خپل ځان ئې ښه مضبوط کړو۔ دریابِ سنده نه پورې وَتو او د لاهور قلعه ئې محاصره کړه۔ اکبر اعظم چې د مرزا حکیم دې حرکت نه خبر شو نو په ۱۷ نومبر $\frac{۱۵۶۶}{۹۷۳}$ مرزا حکیم پسې را روان شو۔ مرزا حکیم د قلعه محاصره پرېښوده او دریابِ سنده پلوٌ وتښتېدو او $\frac{۱۵۶۷}{۹۷۴}$ کښې ئې خپل ځان آزاد حکمران اعلان کړو۔ او د خپل نوم ئې خطبه نوستل شروع کړل۔

دسمبر ۱۵۸۰ کښې د مرزا حکیم له اړخه حاجی نورالدین یو لوئې لښکر خخه په لاهور بیا حمله وُکړه۔ خو دغلته ئې د اکبر اعظم سپه سالار حسن بېګ نه شکست وُخوړو او نا ځي حالت پېښور ته را وُرسېدو۔

دې وار مرزا حکیم د پېښور نه د شادمان سپه سالار تحت یو لوئې فوځ هندوستان پلوٌ واستوٌ لو خو شادمان هم د کنورمان سنګه د لښکر نه شکست وُخوړو او قتل شو۔ مرزا حکیم چې د شادمان د قتل نه خبر شو

له اکبر نامه جلد دوم صفحه ۲۶۳۔

نو نجیبله د لاهور په مهم روان شو او په ۱۵ فروری ۱۵۸۱ع ۹۸۹هـ ئې لاهور محاصره او قبضه کړو.

اکبر اعظم چې دې واقعات نه خبرشو. نوخپل ثانی فروری ۱۵۸۱ء کښې د فتح پور سکری نه د مرزا حکیم خلاف راروان شو

ځکه چې د مرزا حکیم مخالفانه حرکات د بهار و بنګال د پښتنو د بغاوت او وحدت علامات ګرځیدل.

اکبر اعظم چې جون ۱۵۸۱ء کښې دریائې سِند هـ ته راورسید و نو دلته ئې د اټک په مقام د یو قلعه د تعمیر حکم وکړو او د دې کار ذمه واری ئې د برهمن راجه بهربیل په غاړه کړه. هغهٔ محمد قاسم ته په دریائې سِند هـ د کیشتو پُل ترلو احکامات صادر کړل. خو د "دربار اکبری" په حواله هغهٔ د جړی باران او سیلاب په سبب د کیشتو دغه پُل جوړ نهٔ کړو او تهول لښکر کیشتو کښې راپورې وتو او د روند سامان ئې اټک کښې پرېښودو.[1]

مان سنګه ته د پېښور د قبضې حکم وشو. مان سنګه چې پېښور ته راورسید و نو مرزا حکیم دا شپاړس سوه ټولے وه او نجیبله کابل پلو تښتیدلے وو. وائی چې دغه وخت محمد اکبر څخه یو عیسائی پادری مانسربټ هم ملګرے وو چې په لاطینی ژبه یو داسې یرېښودې دے چې کوم مهم مفصل معلومات لری. د اټک نه لاندې مانسر کیمپ هم په دغه نوم شهرت لری.

---

[1] دربار اکبری از شمس العلماء مولانا محمد حسین آزاد ص ۵۲۶.

اکبر اعظم د دریائي سند ه په مشرقي غاړه یوه نیمه میاشت پړاؤ
نه پس پېښور پلو ړا روان شو. هغه چې پېښور ته را ورسېد و نو دلته
شهزاده مراد او کنور مان سنګه ته د وړاندې تګ او د خلیل مومند
او آفریدي وغیره قبائل نه د لارې د تحفظ احکامات جاري شول چې شاهي لښکر
محفوظ کابل ته ورسي. نیز قاسم خان انجنیر ته د خیبر د لارې
سمولو حکم هم وشو. چا چې د اکبر تر واپسۍ دغه لار ښه کشاده او پلنه کړې وه.

د دربار اکبري مطابق چې د اکبر عسکري قوت دریائي سند ه
ته را ورسېد و. نو د هغه امیرانو سردارانو ته دا ځائې یو نوې دنیا
وه د سرزمین حالت نوی، غلور وا لهکا ارخ غورونه، هر قدم د
ځان خطره. د ځنګل ځناور نوی. لباس خبرې او آوازونه نوې هر منزل ل
د بل نه سخت. په دې اساس هندي سپاهي په مخکښې تګ راضي نه وو.
خو د اکبر هڅه او ضد دوی په مخکښې تګ مجبور کړل.[1]

اکبر اعظم چې د خیبر په لار کابل ته ورسېد و نو د فریدون
او مرزا حکیم له اړخه معمولي مزاحمت نه وروستو هغه په ۹، ۲ اګست
۱۵۸۱ء کابل تر لاس کړو. هغه دغلته او دګه ورځې ایسار دو او چې مرزا
حکیم د خپل تېرو حرکات معافي وغوښته. نو هغه معاف شو او دوباره
د کابل حاکم مقرر شو اکبر اعظم د کابل نه بېرته راستون شو او چې د
خیبر غونو نه را بهر شو نو دلته د یوسم (ایلم کودر) په مقام هغه ته د

---

[1] دربار اکبري - محمد حسین آزاد ص ۲۴۵ .

بایزید روښنائی یا تاریکی زوئی جلاله پېښ شو. خود شاهانه رحم په شوددنه هغهٔ دغه ختلے نوجوان معاف کړو.

ماثرالامراء په دې حقله لیکی :

"جلال الدین د خوارلسو کالو په عمر ۱۵۸۱ء / ۹۸۹ هـ کښې چې اکبر بادشاه د کابل د سیل نه واپس شو او په درّه یولم کښې ئې پړاؤ وو. نو د اکبر بادشاه په حضور کښې حاضر شو. او شاهی نوازشاتو څخه سرفراز شو خو هغهٔ د خپل خواهشاتو په بناء شاهی توجه ته هیڅ اهمیت ورنکړو او بغیر اجازت لاړو او د خپل پلار مریدانو ته ئې ځان ورسوو. چې نیازیات تراورکزی، آفریدی او شرداد دو - او هلته ئې استوګنه اختیار کړه شه"

مرزا حکیم په ۳۰ جولائی ۱۵۸۵ء / ۱۲ شعبان ۹۹۳ هـ د نیازیات شراب خوری په وجه د یو دیرش کالو په عمر کښې وفات شو. اکبر اعظم چې د هغهٔ د مرګ نه خبر شو نو هغه ئې کنورمان سنګه د کابل په لور روان کړو - او ورپسې پخپله هم په ۲۲ اګست ۱۵۸۵ء د لاهور په لار روان شو.

---

---

له ماثرالامراء جلد دوم ص۲۴۶ .

# ایلم کودر

ایلم کودر، پولم گزر، دره پولم. اُلُم کودر، عِلم کودر، او عالم کودر ټول یو قسم الفاظ دي. خو د زماني او وخت په لحاظ لیکوالو او مؤرخینو ئې د خپلې ژبې د تحریر په مناسبت شکل و هیئت تبدیل کړ بدا ے. اندازه دا چې صحي نوم ایلم کودر دے او د ایران په ځمکه د ایلم هغه زوړ لوئ تهذیب څخه نسبت لري. چې ۶۵۹ ق م کښې د آتوریا حکمران آتوربني پال (۶۶۸ ق م تا ۶۲۶ ق م) د تولیز په مقام د یوه بردست جنګ نه وروستو اختتام ته ورسوو.

د ایلم آخري بادشاه تومان د جنګ دوران قتل شو. او د ایلم ټول سلطنت د آتوریا باجګذار ریاست شو. ایلم کودر او ایلم خو د پښتونخوا په سیمه لکه چې د دغه قدیم تهذیب یادګار او آثار دي البته د ایلم گزر نوم د مغل تواریخي کتابونو او تحریرات کښې پولم گزر، پولم گزر، دره پولم درج دے. ځیني پوهان خیال لري چې پخسور د علم او پوهې د مرکزیت په سبب دا ځائے علم کودر مشهور دے چې ببر د ني خلق دلته د علم د حصول په غرض په دې کودر راپورې وتل.

د باړې قلعه نه څه دربې میله پورته دا مقام که هرڅو اوس
د کتامه په تیرو کښې پټ دے خو یو زمانه د دې ځائې په عسکري لحاظ
لوئې اهمیت او شان وو. د ا یلم ګزر په لاس خوست، کو دېر، کابل، غزنی
قندهار، سیستان، ایران، روم او یونان ته تګ راتګ عام وو. دا د دریائې
کابل یا د لنډی کوتل د سېلابی نا لې د غاړې د لاس نه جُدا بېله لاره
د کاروان دا شاهراه یا باړه (لوېه لار) که هرڅو آباده او د کوهستان
د واؤ رنبو او بو په غاړه وه. خو د بهرنی قوتونو په دې لاس حمله
پېښور د پاره د تباهۍ او بربادۍ باعث وه. د بېرونی حملو د
تدارک او د پېښور د حکمران د پاره د مهلت په اساس د ایلم کو در
علی مسجد او غریب خانې فوجی نکته نګاه څخه خاص اهمیت وو. د
شاهراه تیراه یا باړه (باړه) د کوهستان دننه مختلف اطراف لوئې
ورکوچنی شاخونه وو.

(i) د کنډاؤ - مما فی - بارکی - میرو کنډاؤ - مری هنګو لار.

(ii) د ډبوری - غلجی - یخ کنډاؤ او زرګری لار.

(iii) د ناوې کمر - شین کمر - ضیاالدین - مستک - بکار - دوتوئې
باغ میدان - ډبوری لار.

(iv) بکار - سنډانه - درې نغری - منګل باغ - کنډاؤ - څخو بی.
بازار - لنډی کوتل لار

(v) کنډاؤ - مما فی - ډ سپو کنډاؤ - بوغرے - سرمېله - سپین دره
میدان - کوهاټ لار.

(vi) خیبر- شورنه- چوره- بازارلاړ-

(vii) علی مسجد- شاه گی- چوره کنداؤ- چینه-

(viii) علی مسجد- الاچی- کرمانه

(ix) گهړی لال بیگ- بوری پاس- بازارلاړ[۱].

دَ دغو لارو او څوسړکو نوکا ایجادنه گا هوکه حمل ونقل اوکاروان

تګ راتګ لارې عموماً دَغورولو- دریابونو اوسیندونو په غاړه وې چې

انسان وحیوان ته دَ اوبو رسد اوفراوانی میسر او آسان وي نو په دې

آساس دَ ایلم گزرلاروئي اهمیت وو- داهغه لاره وه چې دَ غزنویانو او

غوریانو په دوره حکومت دَ هغوئ امرکز غزنی او غورته ورته لنډه او

جوخته وَه- دالارتیګ رمیدان) څخه پیوست وه چې دَ آفریدی قوم

مرکز اوصدرمقام دے- دَ شنې لرګ ایسترن پرشین عراق

Eastern Persian Iraq مطبوعه لندن ۱۸۹۶ء دَ ص۱۳۱ مطابق تیرہ په معنی

دَ میدان دے- دغسې انګریز محقق ورتر هم دَ تیره مطلب میدان او

دشت (Planities , destrum.) شيائي[۲]- دَ اُردو ژبې دَ

یو شعرکې دې مصرئې دَ " تیره " معنی هم میدان بنکاری، " کیسے جاؤں جنگ کے تیره "

---

[۱] دَ پاکستانی دَ حکومت خیال دے چې دَ هنگو اندخیل- یولم گزرترمنځ لنډ سړک تعمیر کړي او دغسې دَ پیښور او هنگو ترمینځ منزل لنډ او آسان کړي.

[۲] دائره معارف اسلامیه جلد ششم ص۸۶۳ .

تراهیه رتیراه) د غزنی او پنجاب ترمنځ کوهستانی علاقه کښې واقع

ځائې دے۔ دغه کال سلطان شهاب الدین محمد غوری په دې علاقه حمله

وکړه۔ هغه چې کوم ځائې د تاؤ او قهر ضرورت محسوسوؤ هلته ئې د توره

طاقت نه کار واخستو او چې چرته د نرمۍ ضرورت وو هلته یې مهربانۍ

او مینې محبت نه مسئله حل کړه۔ د دغه ځائې خلق یې مسلمانان کړل

او د دې ځائې خلق او ککهړ تقریبًا څلور لکهه غیر مسلم مسلمانان شول او دغه

خلق تر دې وخته یعنی ۱۶۱۰ء / ۱۰۱۸ھ پورې مسلمانان دی۔ د دوئ ایمانونه

مضبوط دی او سنهٔ پاخهٔ مسلمانان دی۔

(تاریخ فرشته جلد اول ص ۲۲۹)

د اباسین گزر ذکر او تاریخ اهمیت دې خو مثالونو نه اندازه کړئ

"راجه مان کوکا د اباسین په لار کابل ته لاړو"[1]

"قلیچ خان د اباسین په لار تیراه ته ننوتل غونښتل خو د دغه گرانئ لار

په ذریعه هغه لاړ نه شو"[2]

"۱۶۱۴ء / ۱۰۲۳ھ کښې خانِ دوران د کابل او نوښار علاقو نه گذر

په دې غرض کړې وه چې احداد خان روښانی گرفتار یا قتل

کړی ـ نو په دغه موقعه د معتقد خان مخاطب لشکر خان د

کان لاندې د شاهی فوج یو لوئې لښکر یو لم گزر ته راورسیدلو

---

[1] اکبر نامه جلد سوم ابوالفضل ص ۹۸۲

[2] " " " " " " ص ۱۰۵۱

دغه جنګ کښې احداد خان شکست وخوړو او یونیم زرد (۱۵۰۰) ملاتړیې قتل شول. د شپږو سوو کسانو (پښتنو) سرونه پریکړې شول او پېښور کښې د دوئ د کسرو یو لوئې مینار جوړ شو[۱]

ملا محمد صالح کمبوه لیکي:

«دریولم گزر بهت کروہے پشاور بہ کمال الدین پیوستند و اونیز تارسیدن ایں بافغانان نواحی پشاور واشنغر و محمد زئی وگگیانی وخلیل ومهمند وداودزی ویوسفزی وترکلانی وامثال ایشان از طائفہ پریشان روزگار راجمع ساخته بود[۲]»

ملا عبد الحمید لاهوري لیکي:

«دریولم گزرکه بهت گرده پشاور است به کمال الدین ناقص خود پیوست تارسیدن که ل شقاوت مآل نیز الوسات پشاور واشنغر و محمد زی گگیانی وخلیل ومهمند وداؤدزی یوسف زی وترکلانی وغیرایشان را به مواعید کاذبه وتاویل باطله از راه برده گرد آورده بود[۳]»

افضل خان لیکي:

«فدائی خان د درست هند لښکر ورنخته شو

---

۱ تزک جهانګیري جلد اول ص ۲۷۰-۲۸

۲ ۱۶۳۰ع از دوست محمد کامل ص ۸۸

۳ ۱۶۳۰ع ص ۸۲

میاشتې په ایلم کو درې په جبرو دتېرې کړې. په شپړکېږې
په ځاني په هرلوری تر دد وُشوٌ[1]

"د نور شداني خان ایلم کو درلره ورغے هوُرې هم په بارې په
دوه تویو سنکرې شوني[2]."

مآثرالامراء لیکی:

"۱۵۸۱ء/۹۸۹ھ کښې جلال الدین روښاني گرفتار شو. دغه وخت
اکبر بادشاه د کابل د سېل نه پس ته راستون وو. دره
یولم کښې پراو وو. جلال الدین روښانی دغلته د اکبر
حضور کښې حاضر کړے شو. بادشاه په شاهی نوازشاتو سرفراز
کړو. خو دهٔ د خپل خواهش د تکمیل په ارمان شاهی توجه
او پام لرنې ته هېڅ وقعت او اهمیت ورنکړو نې اجازت ته
وُ تښتېدو. او د خپل پلار مرید انو ته ئې ځان وُرسوُلو
چې زیات ترآفریدی او اورکزی وو[3]" او هلته ئې استوګنه
اختیار کړه "

اللّٰه بخش یوسفی لیکی:

"جلالہ ۱۵۸۱ء میں جب اکبر مغلِ اعظم کے سامنے جو اٹک میں موجود تھا

---

[1]: تاریخ مرصع ص ۳۲۵

[2]: " " ص ۳۲۶

[3]: مآثرالامراء جلد دوم ص ۲۴۶

## پیش کیا گیا...[1]

اللہ بخش یوسفي د ایلم نه غلط مقام مُراد اخیستي دے او د ایلم د نوم سره د ناواقفیت په سبب ئې اټک درج کړے دے.

بهادر شاه ظفر د تاریخ فرشته په حواله د ایلم گزر لار داسې ښائي:

"۶۰۲ھ/۱۲۰۶ء کښې د تیراه کفار چې د غزنۍ او پېښور لار کښې د غزنو ټنه وُسېدل د مسلمانان وژل او تزنول ئې ثواب گاڼه. نو ځینې په مرضۍ او ځینې په قهر او جبر (محمد غوري) اسلام ته راواړول.[2]"

د جهلم په علاقه کښې سلطان محمد غوري د شهادت نه پس د هغه امیرانو د هغه جنازه راپورته کړه او د غزني په نیت پښبور ته راغلل. دلته امیرانو کښې مخالفت پیدا شو د سلطان وزیر مؤید الملک د کُرمې په لار غزني ته د تلو خواهش مند وو ځکه چې کُرمه کښې سلطان تاج الدین یلدوز حاکم وو چې د سلطان معزالدین محمد غوري وفادار او مخلص جرنیل وو.[3]

ایلم گزر د جنوب او جنوب مغرب پښتون قبائل اورکزی، بنګش، توري. وزیر محسود او خټک ښوځي ځکه هم د رابطې او پېوستون لار وه.

---

[1] تاریخ یوسفزی ص۱۴۳.

[2] پښتانه د تاریخ په رڼا کښې ص۳۹۵.

[3] " " " " ص۳۹۶.

خو د بابر د شهنشاهیت نه وروستو چې د کابل اهمیت زیات شو.
نو د کابل و پېښور ترمنځ د خیبر لاره عام شوه. د خیبر ذکر عرب جغرافیه
دان شریف الادریسی (۱۱۰۰ ع / ۴۹۳ هـ تا ۱۱۶۵ ع / ۵۶۰ هـ) داسې کوی:
"د کابل تحت ډېر ښارونه دي لکه ارزلان، خواش، خیبر"[1]
میجر راورټي د اکبرنامه په حواله لیکي:

"هندوستان نه کابل سرکار یا صوبې ته پینځه لارې دي
چې دغه کښې یوه د کرېږې لار ده... بله د خیبر ده. د خیبر
لار مشکله او ګرانه ده. خو د اکبر بادشاه په حکم دالارقاسم خان
څوک چې د دې کار نګران مقرر وو ترډېره حده ښه کړه.
چې د پایو ګاډی پرې په آسانه تېرېږي. دغه نه وړاندې
داسړک دومره خراب وو چې آسونه او اوښان پرې
هم تېرېدے نه شول. اوس دالار توراني او هندوستاني
عام استعمالوی. ۱۵۸۹ ع / ۹۹۷ هـ کښې اکبر د کابل په لور را روان
شو. خیبر باد تخته دریائې سند ه نه راپورې و تو کړې
ایاسی نه کور کهتری (پېښور) پلو راغلو. دې ځائې نه د که.
خواجه یاقوت، سفید سنګ جلګاه - باریک آب او کابل ته
لاړو او نومبر ۱۵۸۹ ع / ۹۹۷ هـ کښې بېرته هند پلوستون شو. د قاسم خان
ښه کارکردګی وه چې اکبر بادشاه ترې خوشحال شو او هغه ئې د کابل
ګورنر مقرر کړو"[2]

---

[1] هندوستان عربوں کی نظرمیں جلد دوم ص ۲۲۸ [2] نوټس آن افغانستان اینډ بلوچستان ص ۳۹-۳۸

دَ تاریخ نه څرګندېږي چې:

،، دَ هندوستان دَ فتح په نیت شاو دوو ناد زیاتو حملو کښې او دَ خیبر په لاره راغلي دي. دَ مسلمانو تاریخ نویسانو مطابق محمود غزنوي صرف یو ځل دَ خیبر په لاره راغلي دے. بابر او همایون څو واري په دې لاره راغلي دي. نادرشاه ګورانی خپله لاره بدله کړه. احمد شاه ابدالي یو یا دوه ځل په دې لار راغلي دے. دغه مثال دَ شاه زمان دے. دَ خیبر په لاره هر کم حمله آور راغلي دي او دغه وجه دَ لار خرابي او مشکلات وو.[1]

Both sides of the road from Burj Hari Singh to the Khyber, more especially that portion to the left towards the Besai spur, were well covered with jungle about this time and Isaw good-sized herds of revine deer, ten to fourteen in number, on the occasion that I first, journey in that direction in 1870-72."
( Eighteen years in Khyber by Robert Warburton P-30 )

دَ وار برټن په نزد:

،، دَ خیبر لار دَ کاروان. تجارت او مسافرو تګ راتګ دَ پاره په اکثر بنده وه. هم البته مضبوط بهادر تکړه کسان به پرې کله نا کله دَ خپل قوت وطاقت په زور

---

[1] نوټس آن افغانستان اینډ بلوچستان ص ۳۹

دا تہ پرشول. دَ شلمانی او مُلاگوری قبائل علاقہ کنِبې دَ ناترہ
لاس کۀ هرڅو کړا نه او مشکل وَه خو دَ کابل حکمرانا نو
به دَ دغه ځاے قبائل صلاح کړل او دغه لاس ئې اکثر استعمال
کنبې دا وسته او دغسې کاروان به دَ متهراپه لاره دَ مُلاګوري
علاقه کنبې داخل شو. دَ براء ئې ګړ. لوئې شلمان غانبې نه
په اوړېدو به ډکې ته ورسېدو.

**Eighteen years in Khyber Warburton Page 112**

دَ خیبر دَ درې دَ غرونه دَ خیل و مومند داؤد زی او آفریدی
وَ غیره پښتون قبائل مورچه اوکین کاه وَه. دَ پېښور پښتانه مجبوره وو
چې دَ هر حمله او مزاحمت او مدافعت دَ غریب خانې. علی مسجد او
اېلم ګودر به مقام وُکړی. دَ شکست په نتیجه کنبې دَ دوئې کورونه وران
او مال و اسباب ئې لوټ تالان وو. دَ خیبر دَ درې لوړ دنګ غرونه
دُښمن دَ پاره دَ خوف و دهشت علامت وو او دَ دوئې دَ تحفظ ضامن
وو. دَ دې غرونو په هره دره او وادۍ کنبې دَ تُورو شړنګا، دَ ټوپکو ډزا،
دَ هاتیانو ئې واکه برړانګې، دَ کاڼو رغړېدل، دَ غشو باران او دَ سرو
وینو سېلابونه وو. مغل یا سکه انګریز سرکار وو. دَ دوئې اخراجات
کۀ هر څو دَ دې علاقې دَ محصولاتو نه ډېر سوا وو خو هغوئې دَ پاک و
هند دَ سلطنت دَ تحفظ په خاطر مجبور وو چې دَ برّصغیر په دې لویه
دروازه پرا ته پښتانه خپل اترو س موخوم دېدېلې او حاکمیت تحت محکوم
وُساتی او دوئې اقتصادی، سیاسی، تعلیمی او عسکری لحاظ تخه دومره

پست وشل کړي چې اینده د دهلي یا لاهور سلطنت پلو ونه پلوسي دغه ظلم بربریت او وحشت واقعي پښتون خپل عسکري، فوجي او سیه سالارانه صلاحیت نه داسې غافل کړو چې خپل ملک کښې غلام شو او هغه شمشیر زن. تورزن او بهادر پښتون چې عقابي نظر نه ځاد بل په سیمه وو، د غلامانه ذهنیت خاوندان شول. خپل ملک کښې داسې وېشلي تقسیم شول چې کور کښې هغه اتفاق او اتحاد بیا نه قائم شي.

سه

د بهلول او د شېرشاه خبرې آوره
چې په هند کښې پښتانه وو بادشاهان
شپږ اووه پېړۍ ئې هسې بادشاهي وه
چې په دوی پورې درست خلق وو حېران
یا هغه پښتانه نور وو دا څه نور شول
یا د خدائے دے اوس داهسې شان فرمان

(خوشحال خان خټک)

# جلال الدین محمد اکبر

دَ همایون دَ وفات نه پس اکبر په ۲ فروری ۱۵۵۶ع / ۹۶۳ھ دَ کلانور ضلع گور داسپور په مقام تقریبًا دَ څوارلس کاله عمر کښې بادشاه شو. اکبر ورکوټے وو. نو په دې وجه دَ دهٔ اتالیق بېرم خان (خان بابا ــ خانخانان) دَ سلطنت ټول کاروبار په خپل لاس کړو. دا هغه زمانه وه چې ټول ملک کښې اړے گړے وو. دَ پښتنو لودی. سوری. او نیازی قبیلې خپلو کښې مشت وگرېوان وې. دَ هیموں فوځونه دَ اکبر خلاف روان وو دَ پانی پت میدان کښې دَ زبردست جنگ نه پس هیموں شکست وُخوړو. او اکبر فتح یاب شو. دَ بېرم خان دَ شجاعت، سخاوت او تدبر په وجه دَ پښتنو هر بغاوت او نافرمانی وُچکېده. او دَ دهٔ په ذریعه سلطنتِ اکبری دَ پښتنو زورو شور او قوّت نه خالی شو خو دَ پښتنو دَ زړهٔ آرام هُم په دهٔ لګه دَ زهرو کار وُکړو. ټول درباریان ئې مخالف شول او دَ دومره لوئې رُعب او دبدبې خاوند دَ اکبر په نظر کښې ذلیل وخوار شو او آخر کار دَ پښتون مظلوم دَ لاسه قتل شو.

اکبر اعظم دَ هندوستان گوالیار. چتوړ. رنتمبور. کالنجر. سورت

ACKU

گجرات. بنگال. کشمیر. او برهان پور (دکن) وغیره علاقه جات فتح کړل او خپل سلطنت کښې ئې شامل کړل. د مغل سلطنت اصلي باني محمد اکبر وو. هغهٔ راجپوت څخه تعلقات استوار کړل او د هندو قوم په زړونو ئې قبضه وکړه. ځکه چې په کومه زمانه محمد همایون ایران کښې وو نو غلته شاه ایران طهماسپ صفوي څخه د هندوستان د حالاتو او انتظام لړ کښې بحث او ذکر راغلو. شاه صفوي همایون ته وویل چې مونږ ته معلومه شوې ده چې هندوستان کښې دوه قومونه د سپه ګرۍ او فوځي صلاحیت مالکان دي یعنی پښتانهٔ او راجپوت. په دې زمانه کښې پښتانهٔ ځان څخه کوزل پکار نهٔ دي ځکه چې په دوئ د مغل هیڅ اعتبار پاتې نهٔ دے دوئ د سپاهیتوب په ځائې سوداګر جوړول پکار دي او راجپوت ځان څخه کوزل پکار دي

اکبر بادشاه ته خپل پلار همایون د شاه ایران دغه خبرې د نصیحت په توګه ورکوتې وې کړې وې نو په دې اساس هغهٔ راجپوت ځان څخه کړل. او د هغوئ زیات مراسم ئې خپل کړل.[۱]

د اکبر اعظم پښتون دشمن پالیسي قدرتي امر او فطرتي وه. د هغهٔ پلار دهلي تخت څخه شیر شاه سوري دستبردار کړو د هغهٔ پیدا ښتې نه نړ بادشاهت محمد همایون د پښتون خلاف برسر پیکار وو. او د دغه ښتي د هغهٔ په ذهن زیات زیات تر ورثیت وُو. د پلار د

---

[۱] مآثرالامراء جلد دوم ص ۶۲۱.

مرګ نه وروستو هُم هغه د سوري پښتون بادشاه او سردارانو خلاف په جنګ وو. دغه وجه وه چې هغه د هند په تخت مستحکم شو. نو د پښتون تباهي د هغهٔ د ژوند اُصول شو. د مرزا حکیم وفات هغهٔ ته یو نادره موقعه په لاس ورکړه. هغه کهٔ یو خوا د مرزا حکیم وراثت کابل پسې لېواله کړو. نو بل خوا د پښتون قبائل ځکولو دا ډېره ښهٔ موقعه وه. هغه خپل موروثي او انتقامي جذبات سړولو په خاطر په ۲ دسمبر ۱۵۸۵ء راولپنډۍ ته. په ۱۳ دسمبر حسن ابدال او ۲۳ دسمبر ۱۵۸۵ء د دریاب سنده غاړې اټک ته راورسېدو. دلته درې میاشتې او دولس ورځې ډېره وو. او په ۳ اپریل ۱۵۸۶ء اټک نه لاهور پلو په دومره سُست رفتار روان شو. چې لاهور ته په ۲۷ مئي ۱۵۸۶ء ورسېدو.

د مرزا حکیم د سختې ناجوړتیا په وخت د هغهٔ ماما فریدون پېښور کښې وو. هغه ډېر په تېزۍ کابل پلو روان شو. خو د خیبر دره کښې د پښتنو د زښت مزاحمت په سبب بېرته پېښور ته واپس شو. دے لا پېښور کښې وو چې د پېښور قلعه کښې زبردست اور ولګېدو او د تجارت کافي سامان وسوزېدو. دې نه پس په بله کابل ته لاړو.[۱]

۳۰ جولائي ۱۵۸۵ء/۹۹۳ھ وو چې مرزا حکیم په حق ورسېدو. د هغهٔ د وفات خبر رسېدو څخه سم اکبر خپل راجپوت سپه سالار کنور مان سنګه پسر بهګوان داس ته حکم ورکړو چې سمدستي یو لوئ لښکر څخه کابل پلو روان

---

۱ طبقات اکبري ـ از نظام الدین احمد بخشي ص۱۱.

شي - او د دغه ځای بند وبست سم کړی - او په ۲۲ د اگست ۱۵۸۵ ء پخپله هم يو د پر لوی سپکر څخه د سيند درياب له پلو ډ روان شو - کنور مان سنگه چي د سيند درياب په ..... خيل لوی سپکر څخه رايبعدي وتو - نو د خوځ يو ه برخه ي د خواجه شمس الدين تحت آگاهو پيښور ته راولېږله. د پيښور حاکم شاه بيگ هيبت واخستو او کابل ته ولېږدو. کنور مان سنگه د پيښور حاکم سيد حامد بخاری مقرر کړو او د خيبر د لار د حفاظت هم د هغه په غاړه شول.

کنور مان سنگه چې د خيبر په لار کابل ته ورسيد و نو هغه د مرزا حکيم د ځينو مرحمتا کابل قبضه کړو - په ۱۵ د نومبر ۱۵۸۵ ء ي د کابل بندوبست خپل زوی جگت سنگه (رسکت سنگه) ته حواله کړو او په خپله د مرزا حکيم زامن شهزاده افراسياب شهزاده کيقباد او سرداران څخه په ۲ د دسمبر ۱۵۸۵ ء غان اکبر اعظم د راولپنډۍ ته راورسول او دغلته بادشاه څخه ملاقات نه د دوستو سمدستي د کابل په لور بېرته ستون شو - خو د غه زمانه د بدخشان والی مرزا سليمان او نمسی شهزاده شاه رخ د محمد سلطان د ازبک د لاسه لوار اختيار کړي و او د کابل کې ايسار وو چې کنور مان سنگه ور ورسيد و کنور مان سنگه هغه د بادشاه د اطاعت په غرض درياب سنده پلو ډ روان کړو - نو هغه يې چې د اټک ته ورسيدو - نو دلته جلال آباد څخه جوخت د پيښور په مقام سخت بيمار شو - او ايسار شو دلته هغه د سيد حامد بخاری د قتل (اندازاً ۱۰ د دسمبر ۱۵۸۵ ء) واقعات نه خبر شو.

د ابو الفضل د اکبر نامې مطابق د دې واقعې تفصيل څه په دې ډول دی:

،، د چاستورے چې په زوال شی نو هغه پاشمال شی او د خپلو
غلطو خیالاتو سرا بیا موهی. د مومند او غوری قبائل هم دغه
قسمت وو. د دوئ په پېښور کښې لس زره کوره دی. دوئ
خپل مشر کوتاه اندېښی او غلط جلال تاریک مقرر کړو.
سیّد حامد بخاری بن سیّد میران بن سیّد مبارک دوئ څخه
جنګ کښې قتل شو چې د پېښور حاکم او جاګیر دار وو او د
افغانستان د سرک د حفاظت په غرض مامور وو. ګفه خپل
سنګرهند پلو لاړو او د غفلت په خوب اوده د بګرام قلعه
کښې هغه خو مکر وخخه وو. هغه ټول بندو بست موسی
نومې کم عقل سړی ته وسپارو دو. موسی په دغه قبیلو
تادرنه یاتے شروع کړې او خپل لاس ئې د دوئ جائیداد
او عزت ته ورادږد کړو.

مومند چې د دوئ د ظلم نه تنګ راغلل نو باګرام
څخه جوخت ئې جلال تاریک څخه سانه یانه برابر کړو
سیّد حامد بخاری د کم فوځ په وجه د قلعه دننه بند شو
او د کابل او اټک د امداد په انتظار شو. خو وروستو
کم عقل شو او د په خپله اراده تا یم باقي نه شو. هغه
یو کس د دښمن حالات معلومولو له راولېږلو هغه د
خپل جهالت او بې پروایئ په وجه دښمن کم او بې نظم و
نسق ظاهر کړو. دغه هم تحقیق ونکړو او خپل یو نیم سل ملګرو

ACKU

څخه د قلعې ته بهر راووتلو او دښمن څخه په جنګ بوخت
شو. خو د جنګ ابتدا کښې په یو غشي وُ ټکېدو. ناڅې شو
خو واپس نهٔ شو. لاس په لاس جنګ کښې هغه یوکنده کښې
پرېوتو او قتل شو. د هغهٔ څلور پېټ خپل خپلوان هم قتل شول
دي نو پس پښتنو قلعه محاصره کړه. خو د هغهٔ نوجوان
زوئ سیّد کمال خپل ځو کسانو څخه مضبوط وُ درېدو او
قلعه ئې بچ کړه.

اکبر بادشاه چې دی واقعات ته خبر شو نو شاه قلی خان
محرم. شیخ فرید بخاری. تاش بیګ خان او نور درې سرداران
یې نومبر ۱۵۸۶ کښې د زین خان کوکلتاش تحت والړل
او کهٔ مزید ضرورت پېښ شو نو کنورمان سنګهه به کابل نه
امداد کوی. ما دهوسنګهه ته هم خاص هدایت وُ شو چې
د شاهی سپکر رسید و نه ورانډې د راجه بهګونت داس
سپکر څخه ټکر کوی نه د بکرام په لور روان شی.

مومند او غوری قبائل چې د قلعه محاصره پرېښې وه نو د
خیبر لار ئې بند کړه. یوسف زی او نور پښتانهٔ هم د دوئ
ملګری وو. "د پښتنو شل زره پیاده او پنځه زره سواره فوځ وو"
د شاهی سپکر راز سېد وته وخت دېر وو او کنورمان سنګهه

---

له طبقات ناصری. از نظام الدین احمد بخشی ص۱۲۴

دغه زمانه یوه نیمه میاشت ناجوړ وو. د پښتنو خیال وو چې کنورمان سنګه راځي نو مونږ به پرې حمله کوو.

څو ورځې پس چې هغه روغ شو. نو دریازره سورو څخه د پېښور په لور روان شو. د هغه خیال وو چې د ناروان په لار تیراه ته ورشي او دغه ځائې نه په آفریدو حمله وکړي. څوک چې د ټول فسادات جوړې دي او د شادي په لار علي مسجد ته ورسي. چې دغلته د وارو سنګري یو ځای شي او لا آزار ده نشي.

د مان سنګه د درباري زوئې ساکت سنګه او زین الدین علي چې کابل پلو روان وو. د سید حامد بخاري د قتل نه خبر شول. پېښور ته ورسیدل خو د سړک د نید برېه سبب دغلته ایسار شول.

مادهو سنګه د راجه بهګونت سنګه سنګر څخه اټک ته راورسید و - کنورمان سنګه ډیر په تیزۍ په پیښ بولاق ته راننوتا په (۱۳ دسمبر ۱۵۸۶ء) شپه په شپه روان شو او سحر چاهر چوبه (سرخوبه) ته راورسید و - ډیره واوره پرته وه. شپه په ګرانه په لوړو ونو ورو راتیر شو او بازارک ته راورسید و. بیا ورځ محمد قلي بیګ په آفریدو حمله وکړه. د لوټ تالان ئې وکړو. څینې ووې چې د لوټ مال اوړو. او بیرته په راشو. خودې رائې څخه چا اتفاق ونکړو. او خلکیني لاړل. دوئ د چورې په تنګو درونو تیر شول په غرونو واوریدل او د غوري قبیلې کورونو څخه تېر شول خو هغوئ په اطاعت منورو خان خلاص کړو. دوئ چې تنګو درونه ورننه شول نو جلال پرې وروستو ته راغلو. او پښتنو دوئ هوار خ نه کښېکښل ۱

تخته بیګ[1] او د وروستني سنیکر لوبهادر و په جنګ لاس پورې کړو. او
چې دوئ ته مشکلات پېښ شول نو مان سنګهه ئې امداد ته راورسېدو. د
سخت جنګ نه پس (دښمن زېښتانه) په شا شو. مان سنګهه خپل متوزوئي
جګت سنګهه وروستو سنیکر څخه پرېښود او پخپله علي مسجد پلو روان
شو. نو څه لحظه پس ښتانه بیا له هرلوري را غونډ شول. حالات نازک
شول. د غلته جنګ د پاره میداني علاقه هم نه وه او نه څه پناه ګاه وه
چې پکار راغلې وې. بس د غشو باران وو، د کانو راغورځیدل وو او هیڅ
کمې پکښې نه راتلو. آخرکار څه آزاد شان ځائي پیدا شو. مان سنګهه د
خپلو ملګرو د موضع خلاف د غلته مضبوط ودرېدو او تخته بیګ او نور
کابلي سنیکر د جنګ ابتداء وکړه. محمد قلي بیګ او نور بهادر کسانو د بهادرۍ
مظاهره وکړه او شکست ئې په فتح بدل کړو. ښتانه په یوه تنګه دره واپس
شول او دوئ د هغوئ په تیښته خوشحال شول. دغه وخت د ځینې کسانو
دائې وه چې دلته ایسار پرېوځو چې ماښام رانزدې دے. خو بر کسان په دې
صلاح نه وو او علي مسجد ته په تګ ئې اسرار کولو چې دغه ځائي نه د
دولس کوس په منزل لرې دو. بل دلته د اوبو هم کمے وو لو په دې وجه
دوئ روان شول. محمد قلي بیګ د فوځ د وروستني برخې مشر وو. تیارۀ
چې خورېدله نو دوئ د شادي په لار خپل مقام ته ورسېدل. حلاکه
د غلته په انتظار وو چې شپه پخه شوه نو ښتانه یو او بل ځائي نه

---

[1] د تخته بیګ په نوم اوس هم د جمرود په سیمه یوه علاقه ده.

را غونډ شول. مونږ کېږي د ځینو کسانو فیصله دا وه چې سحر سبا دې ځای نه ووځو او په دښمنۍ ور پرېوځو. خو د پرستومانه وو نو دا کارګران وو چې غرمه شوه نو ما دهو سنګه د راجه بهګونت داس لښکر څخه راښکاره شو. او د تاریکي لښکر فرار شو. د پرسر کرده کسانو ته چې مان سنګه دلته پاتې شي او ځینې سرداران لاړ شي د خیبر په لار لوی کاروان را وړی خو میرزا سلیمان. نور خاندان او سامان وسامان په خاطر مان سنګه د خیبر په لاس پیښې بولاتی نه روان شو او مرزا او کاروان ته د کړتې په لاس باګرام ته را ورسول. زین خان کوکا هم په دغه وخت خپل لښکر څخه را ورسید او او د تاریکي بنیاد او سکو د پاره سبه کافي کسان شول[1]»

مخزن افغانی د سید حامد بخاری د قتل واقعه داسې بیانوي:

« د اکبر بادشاه په زمانه حکومت چې سید حمید رسید حامد) د کابل گورنر وو. او د خپل زور و طاقت په اساس ئې غوری خیل ګنې وادځ کول غوښتل نو غوری خیل د لښکر دغه اراده د خپل توهین او بدنامی یو تور داغ وګڼلو. خو وخت او مصلحت مطابق ئې د لښکر د خپلو ه پیغام قبول کړو. هر کله چې د مغل جنګ راغلو او جنګیالو د یو دې په نیت خپله وسله پرانسته او ځان نه ئې بې پړته کینولو نو پښتنو تولې دروازې بندې کړې او په دوئ یو ناساپې حمله اور شول او تول ئې ووژل او د شاهي غیظ و غضب له ویرې تول پښتانه غرو نو

---

[1] اکبرنامه ص ۳۸۰ تا ۳۸۲

پښور فرار شول او دغلته ئې پناه واخسته

د غوري خېل قبيلې يو سرکرده مشر ملک رَهي بن مير (خېل) بن بازي خېل بن معروف بن علي زي بن مامون بن داؤد بن غوري دغه موده پېښور کښې مقيم وو. د ده په نوم سرکاري پروانه جاري شوه چې ستا د قبيلې قصور معاف شو او بېرته راځئ خپلو کورونو کښې مېشته شئ. ملک رَهي داؤدزي غورونو پلوړ لاړو او غوري خېل سرداران ئې د بادشاه پېغام نه خبر کړل نو هغوئ واپس راټک ته تيار نه شول ملک رهي داؤدزئ واپس پېښور ته راغلو په لاره کښې د مومندو قبيلې ځينې کسانو دے راايسار کړو او د ده کاروان ئې لوټل غوښتل. خو د شاهي امداد په برکت بچ شو او پېښور ته راورسېد و.

دوه کاله پس د مومند قبيلې ځينې نور کسان د ده خلاف راپورته شو؛ خو ناکام شول دغه دوران اکبر بادشاه حکم جاري کړو چې د غوري خېل قبيلې خلق دې يوسفزي ځمکه مېشته شي. د دغه حکم له امله غوري خېل ډېر تنګ شول. آخر کار ملک رَهي داؤدزي دولس[2] عراقي نسل اسونه ځخه د بادشاه خدمت کښې حاضر شو او هغه نه ئې د غوري خېل قبيلې د پاره معافي نامه حاصل کړه.

بادشاه ملک رَهي ته ووئېل:

"مونږ ستا د قبيلې په حق کښې فرمان بلکه اجازت نامه ورکړه چې بيا خپل ملک ته راشي او دغلته آباد شي"[1]

---

[1] مخزن افغاني صـ ۲۸۲

ACKU

د دې واقعې په حقله مآثرالامراء لیکي:

"په دیرشم کال جلوس اکبري ۱۵۸۵ء سید حامد بخاري بن سید مبارک د کابل صوبیدار کنور مان سنګهه څخه د دوهزاري په منصب مقرر شو. او د پېښور سیمه هغهٔ جاګیر شوه. هغه چې پېښورته راورسید و تود بګرام په قلعه کښې په عیش وعشرت مشغول شو او خپل ټول بندوبست یې موسی نومې یو نا تجربه کار اهلکار ته حواله کړو. د طائفه مومند او غوري خېل چې لس زره کوره د پېښور څوا کښې آباد وو. ده سخت په عذاب کړل. او د هغوئ مال و عزت ته یې لاس وراوږد کړو. مومند چې د دوئ د ظلم نه تنګ راغلل. نو جلال تاریکي یې خپل مشر مقرر کړو او بګرام څخه جوخت یې بغاوت وکړو. سید حامد بخاري د فوج د کمې په وجه ځان د پېښور په قلعه کښې محفوظ کړو او کابل و اټک نه د مزید کومک په انتظار شو. نو هغهٔ خپله دغه فیصله او اراده ترسره نهٔ کړه او د کم عقلو ملګرو په اسرار یې یو کس د باغیانو سرکوبۍ له ولیږلو. چا چې خپله بېوقوفۍ د باغیانو تعداد کم ګڼلی وه. ده (سید حامد بخاري) هم د وړاندېښۍ نه کار وانهٔ خستو او خپلو یونیم ۱۵۰۰ زر ملګرو څخه قلعه نه بهر راووتو د جنګ ابتداء کښې په یوغشي وولګېدو او جنګ نه منح نهٔ شو. د جنګ په دوران کښې د ده اس په یوه کنده کښې ارتاو شو او ۱۵۸۵ء / ۹۹۳ھ کښې مړ شو.

په دې جنګ کښې د ده خپل نږدې خپلوښت کسان ملګري هم قتل

شول. مومند قبیلې قلعه محاصره کړه نو د سید حامد بخاری کشر زوئې سید کمال بخاری د ډیر بهادری مظاهره وکړه او قلعه ئې بچ کړه.

د سردار جلاله تاریکی په مشری کښې مومند قبیلې په تیراه کې پناه واخسته. و د خیبر لار ئې بند کړه. تیراه یو کوهستان دے چې لمبائی یې ۳۲ کوسه او چوړائی یې ۱۲ کوس ده. مشرق ته پېښور، مغرب ته میدان، شمال ته باړه او جنوب ته تنده هار دے - او په د کښې ښکته پورته ډیرې تنګې لارې دی. د کابل ناظم راجه مان سنګهه نا روان نه تیراه ته راغلو. هغه آخر یوه قبیله چې د فساد جړه ده، لوټ کړه او علی مسجد ته راغلو.

نو دیرشم کال جلوس اکبری ۱۵۸۶ء کښې اکبر بادشاه د مومند غوری خیل د باؤلو د پاره زین خان کوکلتاش د کابل د پېښور صوبیدار مقرر کړو د غه زمانه جلاله تاریکی په تیراه او پېښور زبردست فساد شروع کړے وو. هغه د جلاله د فساد په خاتمه کښې ډیر کوشش وکړو او چې جلاله ډیر تنګ د پریشان شو نو په دوه دیرش کال جلوس اکبری ۱۵۸۷ء هغه د تیراه د تنګو لارو نه ووتو او سوات و باجوړ کښې پناه گزین شو.[له]

---

له مآثر الامراء جلد دوم صفحه ۲۴۷ - ۳۴۸ و ۲۵۴.

حالنامه لیکي:

« سید حامد د گجرات یو امیر و دچي اکبر بادشاه د پښتنو او روښاني فرقې خلاف د صوبه پېښور حاکم مقرر کړ و. سید حامد د دې ځای خلقو څخه د پېرنا روا سلوک را واخیستو او غوریاخېل ئې سخت تنګ کړل. ښکاره دې وي چې غوریاخېل درې قبیلې دي. مومند - خلیل - او داودزي. دغه زمانه غوریاخېل د مومند قبیلې د ماشک[1] زوی منو د مشرۍ تحت وو. د یوسف مخلص[115] کلن بوډا سپه خان چمند د وینا مطابق:

« ماته یاد دي چې زما پلار د سید حامد بخاري ملازمت کینې وو او زما عمر دغه زمانه د ځوانۍ وو چې سید حامد بخاري زما د پلار په وساطت د غوریاخېل مشران او ملکان راوغوښتل او بې موجبه یې قید کړل. د دغه په دې حرکت خلق سخت ناراض او خفه شول او اعتبار یې پاسېد و. جیات خان بن دریاخان بن ماشک خان چې ګرفتاره نه بچ وو د جلال الدین روښاني نه امداد وغوښتو او خپلو کینې ئې د سید حامد د قتل نیدلیت وکړ و. جلال الدین یو لوئې لښکر څخه د غر و نو نه راکوز شو ... ور څخه شول او یوناسا په د سید حامد په مخل لښکر

---

[1] د ماشک په مناسبت ماشکخېل. ماشوخېل.

ورځ غلل. کافي لښکر یې نیست ونابود کړو. سید حامد هم د
حیات خان بن دریاخان د لاسه قتل شو. خو د ځینو کسانو د
وینا مطابق سید حامد د جلال الدین روښاني د یو مرستیال
پاپای خان د لاسه قتل شو.

غوریاخیل دې واقعې نه پس د امن وامان لارې بندې ولیدې
جلال الدین یې حقیقت نه خبر کړو او ټول غوریاخیل
هغه ځغه د تیراه او بنګښ غرونو پلو لاړل.

اکبر بادشاه چې دې واقعات نه خبر شو نو د عبد المطلب
ولد شاه بداغ تحت یې د جلال الدین خلاف بنګښ پلو
یو لوی لښکر راولیږلو. د غه لښکر چې د بنګښ په
علاقه یوسف خیل ته راورسیده نو جلال الدین روښاني
هم د غوریاخیل افریدی، اورکزي او بنګښ لښکر ځغه
د عبد المطلب خلاف میدان جنګ ته راووتو. خو چونکه
جلال الدین روښاني د سید حامد د قتل نه پس غوریاخیل
په دې وعده د بنګښ علاقې ته راوستي وو چې دوی ته
ته به د بنګښ په فراخه نوره علاقه د آب دید وځای
ورکوي. خو د مغل لښکر په راسیدو د غه مقصد بلې
موقعې ته پرېښودے شو. بنګښ، جلال الدین روښاني
ځغه ډېر عقیده لرلو. خو په دې واقعات چې خبر شول چې زمونږ
ملک غوریاخیل ځغه ولېږلي کوي نو فکر واچستل چې

ACKU

هسې نه د جلال الدین جیو دَ مُغل خلاف کامیابۍ دَ دوئ
دَ نقصان باعث شي. دَ پاسني بنګښ مشران لکه شیرک
مرزا محمد. نظو محمد او دَ کوز بنګښ مشران لکه دَ جمال خان
بنګښ پلار مُلاحین. قاسم حاجي خیل. سلطان ابراهیم
کاري خیل. سلطان محمود بده خیل او مرزا علی
شا ملري خیلو کښې راغونډ شول او په دې صلاح شول چې
د جلال الدین شکست کښې زمونږ خیر او فائده ده -
بنګښ غداري ظاهره کړه او په دې معرکه کښې دَ جلال الدین
کې شمېر ملګري دَ مغل دَ لاسه شهیدان شول. جلال الدین
دَ شکست نه پس اهل وعیال څخه دَ تیراه دَ موضع جګل
دَ فیروز خیل آفریدو ځائې ته لاړو. بنګښ دَ یوجک نمر
دَ غابنې نه راکوز شول. عبدالمطلب څخه ملاقات وشو او
ورته یې وُ وې چې مونږ بخپله خوښه دَ مغل خلاف نهٔ
وو راغلي بلکه مونږ جلال الدین په زور راوستي وو.

غوریا خیل چې جلال الدین څخه ملګري وو. په دې
شکست او دَ بنګښ په غدارۍ نه زړه ماتي شول دَ آفریدي
او اورکزي دَ مصاحبت او ملګرتیا نه هم سترې وو. دَ
خیل قصور او غلطۍ (یعنې دَ سید حامد بخاري قتل) باوجود
وطن ته راغلل. دلته یې په منت زارۍ حاکم نو څخه
صُلحه راوسته - (حاشیه په ۱۲۳ مخ)

اکبر بادشاه هم نه په کښې خوشال شو خو حکم یې ورکړو چې د
دوئ خو مشران دې یرغمال هندوستان ته راوستے شي او د دوئ
وطن چې اول په بګرام مشهور وو او اوس ورته پېښور وائي، د دوئ په
قبضه کښې دې برقرار روي. خو د غوریاخېلو مشران حیات خان ولد دریاخان
ولد ماشک. سربدال. سرلغاني او څو نور کسان دې اهل و عیال سره
هندوستان ته بوتلے شي. د دوئ په تګ د غوریاخېل د حیات خان اربابي
او مشري د هغه د تره زوئ ملک محب بن خانو بن ماشک ته حواله شوه
حیات خان ته اکبر بادشاه د پوټ او ببیس تر دې دوه په کښې جائیداد
ورکړو. دوئ د غلته آباد شول چې اوس د غه ځائې په پلوار مشهور دے۔
(رحانامه ۷۴۴ تا ۲۵۴. تالیف و تصنیف علی محمد مخلص)

---

(رحانامه د ۱۲۲ صحفه نه) اکبر بادشاه چې قندهار ونیوو نو شاه بېګ ئې د دې ځائې
صوبیدار مقرر کړو او ورځخه ئې د غوریاخېل قبیلې بهائي خان بن
ملک محب مقرر کړو. د غلته کاسي خلقو غوښتل چې جلال الدین روښاني
څخه د عقیدت او محبت له مخه خپل ملک پرېږدي او جلال الدین ته
ستېراه لوړ شي. بهائي خان دوئ ته ووې چې اے کاسي خلقو! وا وړئ
چې مونږ هم یو ځل داسې غلطي کړې وه جلال الدین له ورغلي وو
د دغه هجرت انجام مو ولید و مجبور شو وطن ته واپس راغلو دې
د پاره خپل وطن پرېږدو نه دئ. رحانامه (ص ۴۷۶)

# د سیّد حامد بخاري د قتل نتائج

اکبر اعظم چې په ۲۰ د سمبر ۱۵۸۵ ء حسن ابدال ته راورسید و،
نو هغهٔ د پښتنو اتفاق و اتحاد منتشر او کړ او دکولو په غرض زین خان کوکا
دوه نیم زري منصبدار د یوسفزي خلاف په مُهم مقرر کړو.

د هغهٔ خیال وو چې هغه به یوسفزي په معمولي جنګ په خپله
علاقه راایسار کړي او دغسې به هغه په پُوره قوّت او طاقت د
خیل مومندو او دبا ؤ ختم کړي. او هغوئ ته به د سیّد حامد
بخاري د قتل بدل په داسې طریقه واخلي چې آئنده به د دوئ هر
قسم سرګرمیه ختم شي او د خیبر لاره به د مغل شاهي لښکر د پاره مستقل
آزاده شي. خو د هغهٔ د خام خیال برعکس کار د شو. دغه زمانه
ټول پښتانهٔ قبائل متحد، متفق وو. قبیلوي جنګ او فسادات که
څهٔ هُم لږ ډیر موجود وو. دلې د بهرني قوّت خلاف یؤ آواز وُو.
او د اکبر اعظم ارزو او خواهش پیکړې بیمه خوا شو.

د زین خان کوکلتاش لښکر د دانش کول په لار باجوړ کښې
داخل شو چرته چې د یوسفزي دریځ زره کوره وو. کله دغه ځائې

تبضې نه ورووستو د سوات په لور روان شو. چرته چې خلولښت زره یوسف زي ورسیدل. د سخت جنګ نه پس شاهي لښکر بریالے شو او د چکدره په مقام قلعه تعمیر شوه. دې ځائې نه زین خان کوکا د ښېر د قبضې په اراده اکبر بادشاه نه مزید کومک طلب کړو. بادشاه د مهیش داس دو هزاري منصبدار راجه بیربر (بیربل) او حکیم ابوالفتح تحت د هغه په امداد دیوبل لوئي لښکر ور روان کړو. زین خان که یو ښه سپاهي او سپه سالار وو. نو بیربل او حکیم ابوالفتح د بادشاه په مصاحبت مست وو. د درې متضاد خیال سپه سالاران په ۱۲ فروري ۱۵۸۶ء د چکدرې نه د کړاکړ غر پلو روان شول او بله ورځ د غه ځائې نه یو تنګې دره ته ورسیدل. دلته پښتانه حمله آور شول. او د دوئي کافي ساز و سامان ئې لوټ کړو. په ۱۶ فروري ۱۵۸۶ء دوئي د کړاکړ هوا کنې د کړاکړ په ملندرۍ په یوه تنګه دره ور داخل شول. د دوئي غلته ورننوتل وو چې پښتنو پرې قیامت جوړ کړو. د هر اړخ نه پرې راناوړ شول او دوئي ئې داسې په غشو او کانړو ورولو لا کړل چې هیڅ د تېښتې داؤ کو درې نه وو. آسونه، هاتیان په ویره شول او په خپل لښکر یې تباهي راوسته. کافي کسان قتل شول. زین خان کوکا بچ شو او حکیم ابوالفتح د پیرې ویرې نه یو اځغن بوټي لاندې پټ شو چې ورووستو زین خان بهر راووېستو. د اکبرنامه مطابق په دې موقع پنځه سوه کسان ته شول چې په دغه کښې راجه بیربل، راجه دهرم چند، خواجه عرب بخشي مرزا بیري، حسن بیتني، ملا شیري او جان محمد وغیره شامل وو.

خافي خان په خپل کتاب « منتخب اللباب » کښې د مړو تعداد د خلوېښت زره نه تر پنځوس زره ښائي.

ماثر الامراء[1] اته زره او تاریخ فرشته د طبقاتِ اکبري په حواله هم اته زره او اقبال نامه دغه تعداد د دوه زره نه واخله تر دري زره بیانوي. نوښکاري چې د خافي خان اندازه صحي ده ځکه چې په دغه جنګ کښې د مغلو مکمل ښکر تباه شوے وو. او زین خان د ډیرکم باقي کسانو سره اکبر بادشاه ته ځان له رسیدلے وو.

اکبر بادشاه چې د بیربل د مرګ نه خبر شو نو دغه د بیربل په غم کښې دا الفاظ وو یل:

« افسوس هزار افسوس چې د دې خم خانې (دُنیا) په شراب کښې رِش تل پوخا ئي دے او د دې دُنیا په خوږه کښې زهر ګډ دي. دا دُنیا تړ د یارانو دوکه ورکوونکے سراب دے. او دا دُنیا داسې ځائې دے چې نشیب وفراز نه لرې دے او د دې د محفل د مستۍ وروستو خمار د ٔ او صحت نه وروستو د مرګ تبه ده خپې پابند نه او ذمه داري داسې دي چې ماته پرېږدی ګټه نه به پخپله تلے وم او د بیربل لاش به مې پخپلو ستر ګو لیدلے وو »

کدام دل که ازیں واقعه جگر خون نیست — کدام دیده ازخون ناب جگر خون نیست

---

[1] ماثر الامراء جلد دوم ص ۱۲۲

زین خان کوکا او حکیم ابوالفتح چې اټک ته ناکام را ورسېدل. نو بادشاه دوه ورځې دوئي ځان څخه ملاقات ته پرېنه نښودل. هغه په دې سخت غصه او خفه وو چې د بیربل لاش کریاکرم (د تجهیز و تکفین رسومات) دپاره ولې رانهٔ رسولے شو. خو په درېمه ورځ چې د یوسفزی قبیلې په اټک د حملې خبر را ورسېد نو بادشاه سخت هېبت واخستو او دوئي یې مجبوراً د صلاح مشورې د پاره راوغوښتل.

د اکبر بادشاه په ذړهٔ د دې ساځې دومره زور راشو وو چې هغهٔ د یکم مارچ ۱۵۸۶ء پورې هیڅ قسم تقریب کښې شرکت ونکړو.

د یوسفزی او مومند غوری خیل تحریکات او مزاحمت اکبر بادشاه

دومره فکرمند او پرېشان کړو چې هغهٔ کهٔ هر څو غوښتل چې کابل پلو لاړ شي. خو د غه دوه بهادر پښتون قبیلو ویره. سهم او دهشت دومره غالب وو چې هغه نامراد او ناکام په ۳ را اپرېل ۱۵۸۶ء د دریائي سندهٔ نه واپس آګرې پلو ستون شو.

د سید حامد بخاری قتل او د راجه بیربل شکست و قتل د مغل سلطنت د پاره یو زبردست چیلنج وو. د اکبرشاهی ټول مغل لښکر په حرکت شو او د پښتنو په سیمه کې دربغه لوټ تالان او فوج کشی شروع شوه. کنورمان سنګه دېرپه تېزی سره علی مسجد ته راورسېد و. پښتانهٔ پرې را غونډ شول. خو د شابېګ خان او د هغهٔ د زوئي په بهادری خلاص شول. کنورمان سنګه د جمرود نه د یوسفزو په مهم تود رمل څخه امد ادی سپه سالار

مقرر شو او دَ کنور مان سنګه په ځای راجه بهګوان داس دَ کابل و زابل صوبیدار شو. خو راجه بهګوان داس چې څنګه د سیاپې سند ته نه راپوري وتو نو داسې خوف وسهم پرې غالب شو چې دَ هغهٔ په ذهن واعصاب څهٔ نفسیاتي اثر وُشو او پاګل شو. اکبر بادشاه چې د دې واقعات نه خبر شو نو ځلاّم وُ بیا کنور مان سنګه ئې دوباره دَ کابل صوبیدار مقرر کړو او دَ یو سفزئ په مهم ماد هو سنګه، سعید خان ګکهړ او ابو القاسم تمکین مامور شول.

کنور مان سنګه چې جمرود ته راوُرسېده د نو دَ پښتنو هڅت او دبدبې د دې وار په هغهٔ غالب شوه دَ جنګ وجدل نه ئې ځان په د ي وُساتهٔ او دَ جمرود د قلعې نه ئې په خېر ورخت تېر ولو او دَ مومند غوري خېل خلاف هېڅ قسم کارروائي یا جنګ ته تیار نهٔ وو. اکبر بادشاه چې دَ هغهٔ بُزدلۍ او کاهلۍ نه خبر شو نو مارچ ۱۵۸۹ کښې ئې کنور مان سنګه واپس دربار ته راوُغوښتو او دَ دهٔ په ځای یې دوباره زین خان کوکا دَ کابل وزابل صوبیدار کړو. زین خان دَ غوري خېل او مومند دَ ځکو د کاني هسه وکړه. خو ناکام شو.

(دَ افغانستان تاریخ از ملپسن ص۱۹۵)

دَ تاریخ حافظ رحمت خان مؤلف روشن خان دَ ګلیاڼي قوم تپه دوآبه ذکر کښې دَ پنجپاو کلي وُسېدونکو مومند و په حقله لیکي:

"دَ اکبر بادشاه نوح چې څهٔ وخت دَ راجه بیربل تحت دَ یوسفزي خلاف جنګېدو. نو دغه زمانه دَ پښتنو

اکثر قبیلې په دې جنګ کښې شریک وې. خصوصاً مومند د یوسف زی په امداد تلولو ته ورغلي وو. هغه موده د پښتو راوښار ترمینځ چې اوس ورته "خالصه" وائي مومند اوسېدل. خو دغه جنګ نه وروستو اکبر بادشاه د بدل اخستو او کابل پېښور شاهراه صفا کولو په غرض په مومند تو حمله وکړه او مومند ئي دغه ځاي نه په تېښته مجبور کړل. مومند غرونو ته وتښتېدل او اوس د دغه غرو نو اوسېدونکو مومند و ته بر مومند وائي.[۱]

محمد اکبر اعظم په ۹۸۷ ه کښې فیصله وکړه چې د کابل او د دریای سند ترمینځ لویه لار د پښتنو قبائلو د حملو نه بچ کړي. هغه د هلال آفتابچي په لاس کشیر وقم زین خان کوکلتاش ته راواستوه. چې د لویې لار په اهم او خطرناک مقامات سرائي تعمیر کړي. د هر ځائي او علاقې د سرائي د تعمیر انتظام مختلف سردارانو ته حواله شو. تخته بېګ ته ډکه. بنده علي میداني ته غریب خانه او شاه بېګ ته د اټک و باګرام ترمینځ د سرائي او ستانو د تعمیر کار حواله شو. د تعمیر کار په لږ وخت کښې ترسره شو. غوري قبیلې هم

---

۱ تاریخ حافظ رحمت خاني ص ۵۹

دغه زمانه کښې تیراو غلطو معانی و غوښته او د کابل کورته په ننواتې ورغلل. د هغه په سفارش دوی معاف شول. او څه زمانه جلال خان[1] خپله نږدې دوی ته د اوسېدو پوځای بخښش شو او بیا دوی ته د پېښور زمکه حواله شوه چرته چې د دوی کورونه وو.

په ۱۹ اکتوبر ۱۵۸۸ء د لوی اختر په ورځ چې یوسفزی د قربانۍ په مقدس فرائض ادا کولو اخته وو زین خان کوکا د مذهبي رسومات د احترام نه قطع نظر په دوی پته حمله وکړه او ډیر یوسفزي ئې د خپل نوم او وقار په خاطر په دغه مقدس ورځ شهیدان کړل چې محض د قربانۍ په غرض د غرونو پناه گاه او کمین گاه نه بهر میدانی علاقو ته راکوز شوي وو.

۳۱ اگست ۱۵۸۹ء وو چې اکبر اعظم اټک نه خیرآباد ته را ورسېد او په ۸ ستمبر ۱۵۸۹ء بگرام (پېښور) ته راورسېدو. شاه بیگ دغه زمانه د پېښور جاگیردار وو. بادشاه د اکبرنامې بیکونکي ابوالفضل کورکتهری ته وولېږلو او د زرکونو محتاجو احتیاج ئې پوره کړو.

دغه قاسم خان[2] د کابل صوبیدار او شهباز خان ئې د سوات کماندر

---

[1] اکبرنامه ابوالفضل جلد سوم ص ۷۹۲ [2] د حالنامه ص ۵۱۶ (ترتیب از علی محمد مخلص) مطابق قاسم خان د کامه په مقام احداد روښانی څخه د جنگ دوران کښې قتل شو. ماثرالامرا ص ۵۵ جلد سوم د قاسم د مرگ محرکات نور څه بیانوی.

مقرر کړو. ۱۵۹۰ء کښې پښتنو بغاوت وُکړو. زین خان دَ دوئ دغه بغاوت سوړ کړو.

۱۵۹۳ء دوځې یوسف زی. غوری خیل. بنګیانی او محمد زی وغیره پښتانهٔ قبائل راغونډ شول. دَ بګرام قلعه ئې محاصره کړه. او په محمد قلی ترکمان یې حمله وُکړه. خو زین خان کوکا په موقع راورسیدُ او پښتنو محاصره پرېښوده

۱۵۹۹ء کښې جلال الدّین روشنائی (زناریکی) دَ خلیل مومند او لوهانی قبائلو په امداد دغزنی فتح کړو او دَ غزنی کو زر شریف خان یې وُ زغلولو خو هزاره قبائل تخته دَ وُلجه او لوټ تالان په مال جنګ وُشو او دغه کښې جلال الدّین روشنائی په یو اتّفاقی کوله ولګیده او زخمی شو او وفات شو.

دَ غوری خیل او یوسفزی دَ مُغل خلاف مزاحمت او معرکې دَ اکبر تر وفات جاری وې. دوئ دَ مُغل خلاف په هر محاذ بر سرِ پیکار وُو. او مُغل هُم دَ دوئ په تباهئ او پائمالئ هره لمحه کمربسته وو. زرګونه یوسف زی، غوری خیل شهیدان او بندیوان شول. زرګونه ماشومان او زنانه دَ ایران و تُوران په منډیو کښې لکه دَ خارووُ خرڅ شول. خو اکبر په زړهٔ کښې دَ سیّد حامد بخاری او راجه بیربل دَ انتقام او ر دَ هغهٔ دَ ژوند تر آخېری سلګئ هُم سوړ نهٔ شو چې آخېر کار په ۱۵ اکتوبر $\frac{۱۶۰۵}{۱۰۱۴}$ء مړ شو.

[1] دَ سلطنتِ مغلیہ کا عروج و زوال از میاں محمد شفیق ص ۲۲۶)

# تبصره

دَ شېرشاه سوری دَ ژوند ځلور ارمانونو څخه یو دا وو:

"چې دَ روه ولایت وران کړم او دَ سیند (اټک) نه لاهور پورې او کوه ټنډ نه څخه واخله تر کوه شوالک پښتانه آباد کړم. چې آشنا یو مغل دې پلوشتو کې پورته نهٔ کړی څکه چې دَ کابل له اړخه په دې علاقه لښکرکشي څخه غریب زمیندار بېخي پائمال او زبون حال شي"[1]

دَ شېرشاه سوری دَ نهٔ دغه ارمان نو سرته وُنهٔ رسېدو. ولې دَ هغهٔ دغه ارمان اکبر اعظم برعکس عملي کړو. هغهٔ دَ دهلي او دریاب سند ترمنځ نهٔ صرف قدیم پښتانه جاګیردار ختم کړل بلکه دَ پښتونخوا په مرکزي سیمه ئې هُم تباهي راوسته هغه چې ۱۵۸۱ء دَ مرزا حکیم په تعاقب دریاب سنده ته راوُرسېدو. نو هغهٔ دَ دریاب سنده په مشرقي غاړه دَ یو قلعه او ور څخه جوخت دَ کښتو دَ پُل دَ تعمیر حُکم وُکړو. دَ کښتو دَ پُل تعمیر نه اګاهو په هرکاروان نوښار څخه دریاب کابل نه پورې وَتو او دَ دریاب کابل په شمالي غاړه سفر

---

[1] مخزن افغاني. نعمت الله هروي ص ۲۵

نه پس دریائې سند ه ته رسیږ و او د توبیلا ځنو بنا د باره "په تمام دریائې سند ه نه پوري وتو. د نوښار نه ښکته علاقه غیرآباد او نجروه او ترخیرآباد او نوره نظام پور سیمه د خیل مومند د ښارو څراه ګاوي چې بانډه وکښې د دوئ نوکران چاکران د مال موښی د دمو په حفاظت ماموروو. د کیشتو د پُل تعمیر ښځه د دریائې سند ه په غربي غاړه د مومند قوم په سیمه خیرآباد سرائې بوره شوه چې د ابوالفضل په اکبرنامه کښې ئې ذکر وارد کړے. د آټک قلعه او ورځخه بوخت د کیشتو پُل د مومند قوم په آزادئ وند یوته بردستاګذار دو د هند د سُلطنت حدود په روښي ځل عملی طور د دریائې جهلم مشرقي غاړې نه د دریائې سنده مشرقي غاړې ته مستقل منتقل شول او د روهتاس (جهلم) قلعه کهٔ د وسط ایشیا او نورو بهرنی قوتونو د حملونه د حفاظت په خاطر تعمیر وه نو د اټک قلعه او ورځخه بوخت نو اکښې د کیشتو د پُل تعمیر پلار کښ بغض وعناد دوچې د مومند یوسفزی خلاف د شاهی سنکو مُهمات آسان او با اثره شی. د اکبرنامه لوستو ښخه صفا ظاهر یږي چې اکبر اعظم د ځپل حسد وعناد تحت هر لحظه د مومند و یوسفزو په علاقه تاخت وباخت او لوټ تالان جائز وګاڼهٔ. هغهٔ انسانیت او سرپټوب پائمال کړو. د مومند یوسفزی نرښځي او ځوانان ئې شهیدان کړل او یا د فارس او توران په منډیو کښې لکه د ښارو خرڅ کړل. د دوئ تیار فصلونه ئې نیست ونابود کړل. د سیّد حامد بخاری او راجه بیربل قتل هغه داسې

خو تخوار او درنده ځناور کړو چې د دوئ په انتقام هغه هر اسلامي اُصول پائمال کړه او د دوئ قتل هغه د مغل سلطنت د پاره عار و شرم محسوس کړو. د دوئ قتل داسې ناګهاني شرک و چې اکبر شرم و ندامت نه شو وړلې امیرانو سردارانو څخه ئې نیوے نه شو او هلته ئې ناړه په قرار شو چې کنور مان سنګه زرګونه پښتانه شهیدان کړل او زرګونه ئې ګرفتار راوستل. وائي چې کوم لحه د کنور مان سنګه بنګال و ورڅخه زرګونه مومند غوري خیل قیدیان د بادشاه دهلي ته دغه راجپوت سردار په ډېر شان و شوکت و افتخار سره تېر کړل. نو په دغه موقعه د اکبر درباری شاعر شیخ ابوالفیض فیضی (۱۵۴۷ع تا ۱۵۹۶ع / ۹۵۴ھ تا ۱۰۰۴ھ) یوه قصیده بیان کړه چې پړ ومبي شعرئې دو

؎

فرخنده باد یارب بر مملکت ستانی — از مسند خلافت آغاز قرن ثانی
صبح سعادت است این بر روزگار طالع — تا باختر بگیرد این نور خاورانی[1]

د شېرشاه سوري د دې ارمان:

"زما آخیری آرزو دا ده چې پاني پت کښې د سُلطان ابراهیم لودهي په قبر یو شاندار مقبره تعمیر کړم او ورڅخه سم د چغتائي خاندان د هغه سردار مقبره هم تعمیر کړم چې ما څخه په مقابله جنګ کښې قتل دی او دواړه قسمه مقبرې داسې ښې ښائسته جوړې

---

[1] دربار اکبری از محمد حسین آزاد ص ۳۷ (ا) کلیات فیضی از اے ډي ارشد ص ۱۰۶

کرم چې زما په کار خپل پردی دواړه شاباش ووائی او نوما نوم تراَبده ژوندے وی"[1]

اکبر اعظم شیرشاه سوری نه دَ متضاد کردار خاوند وو. هغهٔ خیل مومند دَ مرزا کامران مرستیال. دَ سُنی مسلک یاخهٔ پیروکار او دَخپل پلار محمّد همایُون دُښمنان گڼل. هغهٔ دَخیل مومند قتلان او خاتمه کښې دَ خپل نه ورانتقامی جذبو سکون او آرام لیدو. دَ هغهٔ خیال وو چې دَ هند دَ نورو علاقو په شان به هغه په خپل پوره قوّت او طاقت دَ پښتنو سیمه هم ژر تر ژره تر خپل ولکې لاندې کړي، د ننه پائمال او غلام کړي. خو دریږ میاشتي دولس ورځې تیرېدو باوجود چې هغهٔ خپل مُهمّات ناکام وُلیدل او دَ خیبر په لاره دَ کابل په سفر ناکام شو نو اکبري ته نامراد ستون شو. هغهٔ خپل سرکرده سپه سالاران دَ پښتنو په سیمه دَ تاخت و تاراج په غرض مامور کړل. دَخیل مومند او یوسفزی په علاقه دَ اکبری فوځ لوټ تالان دَ بادشاه تر مرګ ۱۶۰۵ء جاری وو. خو غم نه لو زمانه غوری خیل او یوسف زی پښتنو من حیث القوم دَ اکبر اعظم آمرانه نظام تسلیم نکړو. او دَ هر ایثار و قربانی په عِوض ئې خپل خود مختار حیثیت برقرار وُساتهٔ.

اکبرِ اعظم دَ راجپوت او هندی عسکری طاقت په ناکامی دَ پر دې را سیکو په غرض ورو ستو خپل فوجی مراکز کښې پښتانه سپاهیان

---

[1] مخزنِ افغانی نعمت الله هروی ص ۲۵

بهرتی کړل او دغو پښتانهٔ عسکرخیل کورکلی نه لرې علاقو کښې تعینات شول. خو د پښتنو سیمه د مغل خلاف هرقسم هیجان او هنګامو نه ترهغه وخت په قرار نهٔ وه څو چې د اکبر اعظم د مرګ خبر خورنهٔ وو.

د ابوالفضل د "آئین اکبری" په حواله " د اکبر بادشاه سلطنت په دولسو[1] صوبو کښې ویش وو چې دغه یوه د کابل صوبه وه د کابل سرکار په شل تومان یا پرګنو ویش وو.

(۱) سواد (سوات):- دې تومان کښې بونیر، سوات او باجوړ شامل وو. د باجوړ او کابل ترمنځ د تنګ راتګ په درې دروکښې آسانه دړه د دانش کول لار وه. د سوات تومان کښې یوسفزی وُسی.[2]

(۲) بګرام:- د قندهار او سمرقند په شان کابل کښې هم " پرګنه " چې هغې کښې کلی قصبې شامل وی، تومان وائی. تومان بګرام ته پرشور هم وائی. پرشور کښې د هندوانو یوه لویه پرستش ګاه ده چې ورته کورکتهری وائی.

(۳) بنګش:- تومان بنګش کښې د پښتنو عسکری تعداد په دې اندازه دے

---

[1] آئین اکبری جلد اول حصه دوم ص ۱۹۸.

[2] آئین اکبری جلد اول حصه دوم ص ۱۱۱۱.

| شمیر | قوم | پیاده | سواره | کل تعداد |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | مومند | ۵۰۰ | ۵۰۰ | ۱،۰۰۰ |
| ۲ | خلیل | ۶۵۰۰ | ۵۰۰ | ۷،۰۰۰ |
| ۳ | داوٴدزی | ۳۷۰۰ | ۳۰۰ | ۴،۰۰۰ |
| ۴ | گگیانی | ۴۵۰۰ | ۵۰۰ | ۵،۰۰۰ |
| ۵ | محمدزی | ۴۰۰۰ | ۴۰۰ | ۴،۴۰۰ |
| ۶ | صافی | ۱۴۰۰ | ۱۰۰ | ۱،۵۰۰ |
| ۷ | اُتمان خیل | ۸۵۰ | ۵۰ | ۹۰۰ |
| ۸ | غلزی | ۲۹۰۰ | ۱۰۰ | ۳،۰۰۰ |
| ۹ | خضرخیل | ۹۵۰ | ۳۰ | ۹۸۰ |
| ۱۰ | شیرزاد | ۱۴۰۰ | ۲۰ | ۱،۴۲۰ |
| ۱۱ | خرکونی | ۲۰۰ | ۱۰ | ۲۱۰ |
| ۱۲ | ختکی | ۴۰۰۰ | ۲۰۰ | ۴،۲۰۰ |
| ۱۳ | عبدالرحمانی | ۲۵۰۰ | ۱۰۰ | ۲،۶۰۰ |
| ۱۴ | آفریدی | ۱۰۵۰۰ | ۵۰۰ | ۱۱،۰۰۰ |
| ۱۵ | وردک | ۵۵۰۰ | ۵۰۰ | ۶،۰۰۰ |
| ۱۶ | توری | — | ۸۷ | ۸۷ |

دَ ابوالفضل دَ اکبرنامه الزام دے چې دَ سید حامد بخاری دَ قتل

---

[1] آئین اکبری جلد اول حصه دوم ص۱۱۱

نه وړو ستو مومند غوری خېل قبیلې جلال الدین تاریکی (روښنائی) خپل مشر مقرر کړو او د هغهٔ د مشرۍ تحت یې د مغل خلاف سرګرمۍ او مخالفت ته دوام ورکړو. مطلب دا چې دوئ هم تاریکیان شول. اسلامی مذهب نه باغیان شول او قتل ئې جائز او روا دے

د دې الزام برعکس کهٔ مونږ د پیر روښان د مسلک اصلی مخالف اخوند درویزه بیان وګورو نو خبره به صفا شی او دا کبرنامه الزام به محض د مومند قوم د نسل کشۍ او قتل د پاره یو جواز او بهانه ثابت شی. اخوند درویزه لیکی:

"د ر مردم غوری خېل قبیله داؤدزی اهل سنت اند و ملک محب مهمند نیز اهل سنت است و ملک حسن داؤدزی نیز اهل سنت است. امّا در مردم خلیل اهل سنت کم یافته می آیند. چه تبعیت پیر تاریک نموده اند"[1]

د مرزا کامران مکر تیا. د محمد همایون مخالفت او بیا په تېره تېره د سیّد حامد بخاری قتل دا سې اسباب وُو چې اکبر اعظم د مومند قوم خلاف داوُ پاریږ کهٔ د اټک قلعه نه د کیښتو په پل بې شماره مغل دا پورې وتل او د مومند په سیمه منظم حملې شروع شوې. د خوږه نظام پور نیلاب وادی شاهی لښکر پائمال کړه او د نوښار و پېښور په سیمه ئې زبردسته تباهی را وسته. د مومندو کورونه تالا و تباه شول.

---

[1] تذکرة الابرار والاشرار ص۲۲۳.

او دَ دوئ يوه لويه برخه کړه په سرغرونوپلوۇ وُتښتېدل. دَ خوړه نظام پورنيلاب وادى خالى شوه. اټک قلعه نه دَ کيشتو دَ پُل په ذريعه دَ مُغل سنکرمتواتر دهشت گردعه اوبربريت نه مومند مجبورشول چې تربيټى نوښار پړته مبدانى علاقې ځخه فرار اختيار کړى. دَ مُغل نه ور ظُلم وه چې دَ نوښار وپيښور ترمينځ آباد مومندۍ پاسول او نبهٔ نه ورخېږه نه ملکه خالصه سرکارشوه.

گوپال داس ليکى:

"عهدِ سلطنت سلاطين چغتائى ميں قوم مهمند ميں نصف قوم کے لوگوں سے کوئى تصور سرزد ہوا. جس کے عوض ميں وه اپنے ملک سے نکالے گئے. جواب مچنى ميں آباد هيں. اور بنام پر مهمند مخاطب هيں ملک اُن کا به ضبطِ سرکار آيا. اِس واسطے اُس ملک کو خالصه بولتے هيں اور تپه مهمند سے وُه جُدا تپه شمار ہوتا هے. اُس ميں به وساطتِ حاکم ملک مردم اقوام مختلف بسائى گئى. جواب مالکِ الارضى متصور ہوئے هيں" له

روښن خان ليکى:

"دَ تبنج مَلى دَ ولپتى مطابق نوښار نه تر خبير آباد تو لـه علاقه دَ خليل مومند او داؤدزى مشترکه چراگاه وه

---

له تاريخ ضلع پشاور ص۱۹۰.

او د دوی یا قبضه ملکیت وو۔ مغلو د دوی دغه علاقه
قبضه کړه او ختکو ته یې حواله کړه[۱]"
واصل روښاني ۱۵۷۳ع / ۹۸۰ھ تا ۱۶۴۸ع / ۱۰۵۸ھ وائي:

شعر

ختک وارړه په سارهٔ په غرمه ستړي ی
له خوارۍ یې تغن مهٔ سه پېرېړلین
د بنګښ د مغل لاس رسېدے نشي
په طالع د غریبانو شهٔ رهزن
در پسې د بنګښ ملک یې مسلم کهٔ
دعوی ګیر دے د اټک د سره بن"[۲]

د سید بهادر شاه کاکا خیل دا بیان:

" په دغه وخت کښې ختک هم په دې خپله موجوده
علاقه استوګن وُو او که داسې نهٔ وے نو اکبر بادشاه به
د شاهي سړک د حفاظت لویه ذمه واري یو داسې سړي
ته ولې سپارو ده چې هغه د تمام قبیلې او تبر خاوند نهٔ
وو او د ټولې علاقې د کوز پاس نه خبر نهٔ وو"[۳]

هیڅ اهمیت او وقعت نهٔ لري۔ حقیقت دا دے:

۱۔ چې د کېښتو د پُل د تعمیر نه آګاهو د خوړه سیلاب واري محفی

---

[۱] تاریخ حافظ رحمت خان ص ۲۰۶
[۲] دیوان واصل ص ۱۵ [۳] پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې ص ۲۹۸

خوشي ښاره يو ځو ځي اته پرته      د غوري خيل قبيلې څراګاه وه. دلته د خليل مومند څونو کران شپانه د څارو د حفاظت په غرض ډېره وو. او شاهي کاروان به اوسنى نوښار څخه دريائ کابل نه پوري وتو او د دغه درياب په شمالى غاړه به ئې خپل سفر درياب سنده پلو جاري ساته. دغه زمانه سرائ اکوړه نه وه. د کپښتو د پل تعمير څخه سرائ خېرآباد جوړه شوه چي اکبر نامه کښې يې څو واره ذکر راغلے دے.

اکبرنامه او نور مغل تاريخي کتابونه د اکوړخان يا ملک چنچو او د خټک قوم په دې سيمه د قبضې هيڅ ذکر نه کوي. اوس ناره د چې د تاريخ مرصع د تحرير په اساس متأخرين مؤرخين د خوشحال خان خټک د اسلاف په بيان دغه واقعات بيانوي.

تاريخ مرصع ليکي:

"د اټک د سيند پل هر چې تعلق يې د ما په اولس وو. په نيه روش ورته تيار شه...... دلته محمد بهادرشاه اول ) وفرمائيل چې فلانه: په څوکۍ په پهره خبردار شه چې د ما د لښکر عالم به پس له ما په دالاما رادروي...... زما اولس هغه کار چي د پل بندي ته تعلق په دوئ لري په دوه ورځوکښې په اتمام ورسوه. حضرت ديا خبر واخلي. چي د اکبر راهسې دا هسې چا کړيا دي. تر

په هغه لور دَ ده میرمحری دهٔ[۱]۔

دَ تحریمرصع څخه ظاهره ده چې دَ خوشحال خان خټک سلوف کشتی سازي دَ کیشتو پُل بندۍ او دَ کیشتو سپلایۍ څخه منسلک او پیوست وو۔ او دغه ملاحي۔ ماڼکیتوب یا میرمحري دوئ دَ خاص حیثیت مالکان کړل۔

ابتداء دا ده چې دَ میرمحرۍ کسب روزګار دَ اکوړه په مقام کودر څخه شروع شوې وی او ورو ستو دَ اټک په مقام دَ کیشتو دَ سپلایۍ او پُل بندۍ په اهم فرائض مامور شوی وی دَ اکبر اعظم نه مخکښې داسې بنکاري چې کاروان تو نباره نه بنکته قطعي نهٔ تلو۔ دغلته تو نبار څخه چرخت په کودر دریائ کابل نه پورې وتو او دَ هند په لار دریائ سند ه نه عبور کیدو۔ دَ اټک، اکوړې او جهانګیرې کودرو نه هغه وخت وجود کښې راغلل چې مومند دې علاقې ته دننه ور شول او په دې خالی سیمه نور اقوام مسلط شول۔

ګوپال داس دَ اټک ګذرګاه داسې بیانوی:

"اس گذر پر بہ ایام زمستان یعنی ماہِ ستمبر سے ماہِ مئی تک پُل کشتیوں کا بڑی مضبوطی کے ساتھ تیار کھتا ھے ان کشتیوں کو بڑے بڑے سخت آھنی زنجیروں سے باندھ کر اُن زنجیروں کو ایک بُرج سنگی کے ساتھ باندھا جاتا ھے جو ۱۸۶۶ء میں بڑی

---

[۱] تاریخ مرصع ص۳۸۲ ۔

استواری کے ساتھ سرکار انگریز نے بہ کنار مغربی دریا کے بنوایا»

دَتاریخ مرصع تحریر څخه معلومیږي چې دَخوشحال خان خټک دَ اسلاف او اخلاف فرض وو چې دَ مُغل ستکی او کاروان دَ کیشتو په ذریعه دَ دریاب نه دَ پورې وَتو بند و بست وُکړي او دَ دغه خدمات معاوضه وصول کړي.

اټک یا اکوړه خټک څخه په سیند دَ کیشتو نګهبانی. تیاری او میر بحری دوئ مالدار او دَ قوّت و طاقت خاوندان کړل. نوکران چاکران ئې پیدا شول او هغه ټوله علاقه یې قبضه کړه چې دَ مُغل هر وخت نوج کشئ څخه خیل مومند خالی کړه وُ نظام پورخوړ چې هتزان واڼي چې موږ خلیل مومند نه شکست ورکړو او هغوئ دغلته نه په فرار مجبور شول. صحی نه ده. دَ سیّد حامد بخاری او راجه بیربل په قتل مُغل دَ خیل مومند او یوسف زی خلاف شول. او دَ دوئ په تباهی کمربسته شول. دَ دوئ تباهی او پائمالی دَ خټک دَ خوش قسمتی باعث شوه او دَ مومند په کافی خالی پاتې برخه قابض شول.

گوپال داس لیکی:

«اور مردم قوم خٹک کو بدین باعث کہ وہ دراصل اولاد مورثِ افغانان سے نہ تھے۔ صرف کوهستان ملا۔ پھر عہدِ پادشاہی سلاطین چغتائی میں اُس کی قوم سے جب یک

---

ے تاریخ ضلع پشاور صلا

شخص اکوڑہ بارک کو واسطے حفاظت مسافرین کے جن کو رہزنان سے نہایت رنج پہنچتا تھا، مقرر کیا گیا۔ اور اُس نے قصبہ اکوڑہ بنالیا اور یہ زمین میدانی بھی اُس کی ملکیت میں آئی ورنہ پہلے یہ زمین شاملات مہمند وخلیل وداؤدزئی کے ہوتی تھی[۱]۔"

"قوم خٹک نے ملک مقبوضہ حال پرکہ جہاں سابق میں اکثر باشندہ جات خلیل و مہمند اس ضلع میں ہوا کرتے تھے۔ اور کہیں کہیں دلازاکوں کا بھی قبضہ تھا جب تصرّف پایا اور علاقہ کوہاٹ و بنوں کے خٹک نے قبضہ کیا اور بعد اُس کے وہ دیہات جو اب شاخ بولاق کے نام پر مشہور ہیں۔ یوسفزیوں سے بزورِ شمشیر حاصل کئے.......... اور رفتہ رفتہ اِس (خٹک) قوم کے گروہ دو جگہ ہو گئے۔ ایک وہ لوگ ہیں جو اولاد لقمان سے اکوڑہ میں آکر حاکمانہ صورت پر متصرّف رہے اور اکثر نے اسی قبیلہ سے بروئے حصول ترکہ حصہ زمین پاکر اس ضلع میں دیہات آباد کر لئے"[۲]

"روایت ہے۔ کہ آوانِ سلطنت چغتائی میں بزمانہ جلال الدین

---

[۱] تاریخ ضلع پشاور ص۱۸۴

[۲] " " " ص۳۴۳

محمد اکبر بادشاہ ہندوستان ملک اکوڑ وحسن نام
برادرانِ حقیقی پسرِ چنجو قوم خٹک موضع چوترہ علاقہ کوہاٹ
سے بہ ورود سیلاب افلاس اِس جگہ آئے۔ اور مساکنِ دشوار
گزار میں بود و باش کر کے پیشہ رہزنی اشخاص تجار وغیرہ
مردمان ساکنین شاہراہِ کابل اختیار کیا۔ رفتہ رفتہ جب یہ
خبر بادشاہ تک پہنچی۔ تو بہ فرمانِ شاہی بہ تعیناتی چند
کس شاطران ملک اکوڑ گرفتار ہوکر حضور میں طلب ہوا
اور مورد سیاست شہنشاہی وگوشمالی کماینبغی ہوکر
آئندہ کے واسطے امر ناجائز سے ممنوع کیا گیا۔ اس حالت میں
نامبردہ نے دست بستہ ہوکر گزارش کیا۔ کہ جز اس پیشہ کے
کوئی صورتِ معاش مایحتاج کی نہیں رکھتا ہوں کچھ وجہ کفاف
کی معین فرمائی جاوے۔ تب بادشاہ نے یہ زمین بلاعطائے
سند اُس کو دے دی[1]"

---

[1] تاریخ ضلع پشاور ص۳۰۶

# نورالدّین مُحمّد جهانګیر

دَ جلال الدّین مُحمّد اکبر دَ مرګ نه وروستو نورالدّین محمد جهانګیر په ۲۴، اکتوبر ۱۶۰۵ء/۱۰۱۴ھ دَ اَتهٔ دېرش [۳۸] کاله په عُمر کښې بادشاه شو خو دَ راجه کنورمان سنګه مشری تحت دَ راجپوت مشرانو یوه لویه ډله دَ جهانګیر مخالف او دَ هغهٔ دَ مشری زوئي شهزاده خسرو په حمایت وه. نتیجه دا شوه چې پښتانهٔ دَ راجپوت خلاف د جهانګیر په ننګ شول او دَ شهزاده خسرو بن نورالدین محمد جهانګیر بغاوت ناکام شو او جهانګیر دَ پښتون په امداد او ملاتړ کامیاب و کامران شو.

دَ اکبر اعظم دَ پښتون دُشمن پالیسۍ برعکس جهانګیر زښت زیات پښتانهٔ خپل مرستیال ملکی حاکمان کړل او دَ رواداری نیاضۍ پالیسی یې اختیار کړه. دَ جهانګیر په زمانه کښې هم پښتانهٔ منصبداران دا وو.

۱. پیر محمد خان بخطاب خان جهان لودی.

۲. ابراهیم خان مومند » دلاور خان

۳. آله داد خان بن جلاله روشنائی بخطاب رشید خان

۴: شیخ رکن الدین داؤدزی بخطاب شیرخان (بن شیخ عیسی کبیدکلی)

۵: بیرم خان افغان (فوجدار پټنه).

۶: سردارخان افغان.

۷: بهادرخان داؤدزی ولد دریاخان.

۸: جمال خان افغان.

۹: رستم خان افغان.

۱۰: شهباز خان لودی.

۱۱: جلال خان ولد ابراهیم خان مومند.

۱۲: ملک مهب خان مومند.

۱۳: شیخ حسین روهیله.

۱۴: تاج خان افغان (صوبیدار پټنه) وغیره.

دې کښې هیڅ شک نیشته چې اکبر اعظم په خپل عزم واستقلال او د راجپوت او ایرانی نژاد شیعه په امداد د لوئې سلطنت خاوند شو. خو حقیقت دادے چې د اکبر د زمانې نوې مفتوحه علاقه جات بندوبست او مغل سلطنت ته د جهانګیر په زمانه کومه اډانه پښتنو ورکړه کوم چې د راجپوت یابل قوم ئې دومره په اخلاص محافظ وے. د پښتون په امداد وبرکت او جان نثاری جهانګیر شان عیاش او شرابی بادشاه د هر قسم باغیانه تحریکات نه محفوظ او پاتې شو او د مغل سلطنت استحکام د آئینده شاهانو دپاره نیک فال شو. پښتنو سردارانو ته د مغلو په سیاسی مراسم اثرات وو. چې

جهانګیر څو وار د خیبر په لار پې خوف وخطر کابل ته لاړو. او روښنائي (تاریکي) تحریکات که هر څو ختم نه وُو. خو غوري خیل دغه زمانه خاموش وُو.

دا ځای چي د څو پښتنو سردارانو ذکر تزکِ جهانګیري کښي وګورو:

"په ۲۰، محرم ۱۰۱۶ھ مایه دولت آباد سرائي کښي پړاو وُکړو. احمد بیګ جاګیر دارِ پېښور یوسفزي او غوري خیل مدکانو څخه زما خدمت کښي حاضر شو. د احمد بیګ خدمات زما خوښ نه شول. او د پېښور د ولایت انتظام مي د لاهور صوبیدار شیرخان (شیخ رکن الدین داوُدزی) ته حواله کړو...... شیرخان ډېر عقلمند او بهادر ګوان دے او د زیکو څخه جنګ کښي ئي یو لاس په توره کټ دے نو ته ما د شهزاده توب په زمانه د شیرخان خطاب ورکړے دے.[۱]"

د جهانګیر باد شاه د خپل سلطنت د آغاز په دوهم کال د کابل دغه مخکښي دوره د دومره ډېره کامیاب وه چي هغه پښتنو سردارانو ته ډېر زیات خوشال شو او هغوئي یي په قسم قسم نوازشات سرفراز کړل.

---

[۱] تزکِ جهانګیري ص ۳۰۱/۳۲ .

„ ماکابل کښي دلاورخان رسردار ابراهیم خان[1] مومند) ته
ډخانپور رضلع بلند شهر یو-پي) سرکار علاقه بطور جاګیر
ورکړه[1]."

„د کابل نه په واپسۍ د ډکه په مقام شېرخان افغان
څوک چي ماکابل ته د تنګ په وخت پېښبورکښي د درّه
خیبر په حفاظت مامور کړے وو، حاضر شو. ډلاري په حفاظت
او نیاد وبست کښي هغهٔ هېڅ قسم کوتاهي او غفلت کړے نهٔ وو[2]."

„اے عزیز من! اکثر اوقات جهانګیر بادشاه از روئے مهربانی بالیشان
به زبان افغانی سخن میګفت. دکم روزے بودی که بادشاه بالیشان
سخن نه فرمودی[3]."

ترجمه: „اے زما وروره! جهانګیر بادشاه پري مهربان وو
او اکثر به یې دهٔ رابایکر) څخه په پښتو ژبه خبري
کولې- او داسې ورځ به نهٔ وه چي بادشاه به دهٔ څخه
خبري نهٔ کولې.

پښتنو څخه د همدردۍ او دوستۍ نتیجه وه چي اکثر کوتاه
اندیش مغل او خودغرض ایراني نژاد شیعه د بغض وعناد په ادرستی

---

[1] تزک جهانګیری ص۳۲ .

[2] „ „ ص۲۲۹

[3] حالنامه ص۹۹ .

شول او ډ پښتو په اصل تسل ئې رکیک کوزا رونه شروع کړل.

د جهانګیر په زمانه روښانۍ (تاریکي) تحریک څخه د مومند قوم بېزاري او عدم اطمینان د مُغل سلطنت کامیابي او استحکام شو سردار ابراهیم خان مومند او ملک محب مومند په شاهي نوازشاتو سرفراز او منصبدار شول او مومند قوم هغه تحریک څخه تر یوه حده دستبردار شول. چې د اکبر په زمانه د روښانۍ تحریک او جلال الدین تاریکي (روښانۍ) خاص مرستیال وو. او مغل شهنشاهیت ترې په لړزان او پریښان وو.

د جلاله تاریکي (روښانۍ) وراره احداد خان ولد شیخ عُمر که هر څو د کابل و پېښور په علاقه د باغیانه سرګرمو هسې کوله خو د کابل، تیراه او بنګښ حاکم یو دار شاه بیګ په خطاب "خان دوران" یې دغه تهدلې هسې ډېره په آسانه شنډې کړې. ډېر ملګري یې قتل شول. احداد خان قندهار ته وتښتید و. او الله داد بن جلال الدین تاریکي (بخطاب رشید خان) وروستو د مُغل سلطنت مرستیال شو.

احداد که هر څو وروستو خپلو باغیانه سرګرمو ته دوام ورکړ خو د صوبیدارانِ کابل. قلیچ خان (۱۶۱۱ ع / ۱۰۲۰ ه) مهابت خان (۱۶۱۷ ع / ۱۰۲۶ ه) او د خواجه ابوالحسن (۱۶۲۳ ع / ۱۰۳۳ ه) د مُغل شاهي لښکر بالمقابل بې بس شو. البته (۱۶۲۰ ع / ۱۰۲۹ ه) کښې احداد خان د مُغل یو لوئې لښکر ته د تیراه په مقام شکست ورکړو

**Imperial Gazetteer. NWFP. P-17**

خو اخیر کار ۱۶۲۶ ع / ۱۰۳۵ ه کښې کوهاټ څخه نژدې د مُغل کماندار ظفر خان

ACKU

ولد خواجه ابوالحسن کلاسه دَجنګ دوران قتل شو. جهانګیر دغه وخت دَکابل دَ سفر په دریم پړاؤ وو. دَهغهٔ پریکړے سرورته پیښ شو. جهانګیر ډیر خوشحال شو او دَ هغهٔ سر دَ لاهور په دروازه دَ زوړند ولو حکم ئې جاری کړو[۱]"

دَ احداد خان دَ شکست او شهادت په حقله حالنامه لیکی:

"دَ مهابت خان مغل لښکر متواتر لښکرکشئ نه احداد دیراه پرېښو دو. دَ ختک قبیلې کوهستان ته لاړو او دَ بادشاه دَ سلطنت حدودته لرې پنوی ته نژدې ورسید و او دغلته لواغر غرونو کښې استوګن شو. بادشاه غهٔ موده ورووستو مهابت خان دَ کابل نه راوغو ښتو او دَ شهزاده خرم خلاف یې مقرر کړو او دَ کابل صوبیدار ظفرخان مقرر شو.

دَ غوریاخیل څینې سرداران لکه شیخ حسن هغه دَ احداد دَ کم لښکر او لواغرغره کښې سکونت نه خبر کړو. دَ جهانګیر بادشاه دَ خوشحالولو په غرض هغه دَ پښتنو او بادشاهی لښکر څخه لواغر ته ورغلو. شیخ حسن غوریاخیل دَ پښتون لښکر دَ هراول دستې مشر وو. تقریبا شپږ میاشتې محاصرې باوجودچې دوئ احداد ته ماتې ورنکړے شوه نو شیخ حسن او ظفرخان دَ صلحې کوشش شروع کړو. خو احداد دَ خپل یو یکې ...

(۱) تزک جهانګیری ص۳۵۵)

عبدالقادر رحمه لس کلن ) یرغمال ته قطعي تیار نه وو. اخیرکار
شیخ حسن دَ ختک خلق دا وُغونښتل او دَ انعام و اکرام په لالچ ختکو
شیخ حسن او ظفرخان ته په احداد دَ حملې هغه پټه لار وُښوُوله
دَ کومې لارې په ۱ ورځې هغه دَ لوا غر غرو دنو کیبې دَ مغُل سنګر دَ
نابلد نیا په سبب محفوظ وو. احداد دَ ختګ دوران ۱۶۲۵ع ۱۰۳۴ه کښې
شهید شو.

---

ACKU

# د سردار ابراهیم خان مومند

د جلال الدین محمد اکبر د وفات نه پس نورالدین محمد جهانګیر بادشاه شو. هغه د اکبر اعظم پښتون دښمن پالیسۍ برعکس پښتانه خان ته رانژدې کړل هغوئ يې په عهدو کښې واخستل او په قسما قسم نوازشاتو یې سرفراز کړل. سردار ابراهیم خان مومند او پیر محمد خان چې د جهانګیر د شهزاده توب د زمانې ملګرې او دوستان وو اول الذکر د لاور خان او مؤخر الذکر د خان جهان لودهي په خطاب سرفراز شول.

سردار ابراهیم خان مومند یو نیم زرې منصب نه درې نیم زرې منصب ته پورته شو او د لاهور صوبیدار مقرر شو. خو د جهانګیر تخت نشینۍ نه څه ګنده ورځ وسم د هغه مشر زوئ شهزاده خسرو د راجپوت او شیعه مغل سردارانو په لمسون بغاوت وکړو او د لاهور د قبضې اراده یې وکړه. د لاهور صوبیدار سردار ابراهیم خان مومند دغه وخت د جهانګیر بادشاه په لور آګرې پلو روان وو چې د شهزاده خسرو بغاوت او لاهور پلو راتګ نه خبر شو. هغه لاهور ته

راوا پس شو او د لاهور قلعه یې مضبوطه کړه. خسرو چې لس زره لښکر څخه لاهور ته راورسېد و نو د لاهور قلعه ونیسي وه هغه کوشش وکړو چې ابراهیم خان مومند د لاهور قلعه دروازې پرانیزي. خو د زړه د سختۍ، الهي او نور تسم حزبي ناکام شوي او د جهانګیر د رڼوکوالي دې نمک حلاله ملازم هیڅ یو دلقریب پېښکش ونه منود. شهزاده مایوس واپس شو نو د مرتضی خان تحت د جهانګیر لوځ څخه مخامخ شو سخت جنګ وشو. شهزاده خسرو ته شکست وخوړ و وتښتېد خو روستو ګرفتار شو.

" دلاور خان چې لاهور ته تلو نو د پاني پت په مقام یې د شهزاده خسرو د بغاوت او فرار خبر واورېد و. خپل زامن یې د ډېر په تېزۍ دریاب جمن (جمنا) ته یو ورې باسل او ورته یې نصیحت وکړو چې تر هره زر ممکن وي د خسرو ارسېد ونه آګاه و لاهور قلعه ته ورسي او قلعه برج او دیوالونه ښه مضبوط کړي. د لاهور دیوان عبدالرحیم څخه یې هم ملاقات وشو چې د پادشاه په غوښتنه پایه تخت پلو روان وو.

دلاور خان هغه هم د شهزاده خسرو بغاوت او فرار نه خبر کړو. نو هغه دې واقعات ته هیڅ خاص اهمیت ورنکړو او د دلاور خان په حمایت تیار نه شو. د عبدالرحیم نه پټه کښې درغلل وو چې روستو د شهزاده خسرو د حمایت په شکل ښکاره شو.

دلاور خان چې لاهور ته ورسید و نو د مرزا حسین دیوان او نورالدین قلي کوتوال په امداد یې د قلعه سر ته توپې وختېږولې. برج دیوالونه یې مضبوط کړل. د لښکر راغونډول

او سامانِ جنګ تیارَولو کښې مشغول شو. دَ قلعه دننه او بهر
دَ لوټ تالان بازار ګرم شو. دَ محاصرې دوران خسرو دولس[۱۲] زره
سواره راټول کړل. خو دَ شاهي لښکرو تعاقب نه خبر شو محاصره
یې ختم کړه او لاهور نه بهر دَ شاهي فوجي دستې او شهزاده
خسرو ترمینځ په ۱۶۰۶ع / ۱۰۱۴ھ یو زبردست جنګ وُشو. شهزاده
خسرو شکست وُخوړو. فرار شو او ګرفتار شو[۱]

دَ شهزاده خسرو بغاوت، فرار او شکست نه وروستو
جهانګیر دَ کابل په چکر روان شو او دغلته څو ورځې ایسار پاتې او یو مُدت
نه پس بیرته دَ پېښور په لاره اګرې ته ستُون شو. څه موده پس
دغلته یوه واقعه داوُ شوه چې دَ راجه کنور مان سنګه دَ ترپهکون
داس نسی ابهی رام، بجے رام او شیام رام چې همیش سرکش و باغیان
وُو، او جهانګیر په معاف کړل. دَ جهانګیر دَ اجازت نه بغیر خپل بال بچ
وطن ته استول غوښتل او اراده یې دَه چې خان دَ سلطنتِ مغلیه
باغي راجه رانا امر سنګه ته میواړ ته وُرسوي. خو جهانګیر دَ
هغوي سازش نه خبر شو او دوئ یې بیا امانت وطن ته نه
پرېښودل. دَ دوئ دَ غلط او سرکش اراده په سبب څوک هُم دَ
دوئ ضمانت ته تیار نه وو. بادشاه دوئ دَ سردار ابراهیم خان
موسند په نګرانۍ کښې ورکړل. هغه دوئ ته حکم ورکړو چې

---

[۱] تزکِ جهانګیري جلد اول ترجمه عبدالحق قدوسي ص ۲۵

ACKU

خپلې وسلې کېښودې او هغه ته ځان حواله کړي. خو دوی د مومند سردار حکم منلو ته تیار نه وو. بادشاهي دربار کښې یې فتنه فساد جوړ کړو. او سردار ابراهیم خان مومند باندې یې حمله وکړه. هغه ټپي شو. خو د هغه تطبیق نومې ملازم قتل شو. د سردار ابراهیم خان یو بل پښتون ملازم رامخکښې شو. دغه حمله آور یې قتل کړو. سردار ابراهیم خان مومند هم خپل جمعدار راوغوښتو. ابهی رام او د هغه په حمله کوونکو ملګرو یې ډېره تنده حمله وکړه. ابهی رام نهه ځایه زخمي شو او مړ شو. سردار ابراهیم خان مومند او د هغه پښتنو ملازمانو دغه ټول سرکش او سرتېر هندوان سرداران قتل کړل. چې د دیوان خانه عام په غولي کښې یې دومره لوی فساد او شر پیدا کړې وو. د سردار ابراهیم خان مومند دې کارنامې د خلقو نه په ولو کښې ورته او سهم پیدا کړو. جهانګیر د مومند سردار په جرأت او دلاورۍ ډېر شاباش ووې او هغه یې په هر قسم عنایات او نوازشات سرفراز کړو.

د میواړ راجګان یو زمانه د لوی شهرت خاوندان وو. بابر بادشاه ته هغه د دې کورنۍ راجه رانا سانګا جنګېدلی وو او بابر نه یې شکست خوړلی وو. رانا سانګا پسې رانا اودې سنګه، ورپسې رانا پرتاب سنګه او بیا رانا امر سنګه پسر د رانا پرتاب سنګه د میواړ بالترتیب راجګان مقرر شول. جهانګیر څو وار کوشش وکړو چې میواړ فتح کړي. سلطان پرویز او مهابت خان په دې مهم مقرر شول. خو دواړه پو رته ناکام بېرته ستانه شول

ACKU

جهانګیر شهزاده خُرّم په دې مُهم مقرر کړ او هغه په ۲۶ دسمبر ۱۶۱۳ء شل زره لوی لښکر سره میواړ پلو روان شو. د جهانګیر بادشاه اعلیٰ او قابل سرداران د دې فوځ سپه سالاران وو. چې سردار ابراهیم خان مومند هم پکښې شامل وو. شهزاده خُرّم (شاه جهان) او دے پوره ډېر تُند وُرسېد و خو رانا امرسنګه غرونو پلو ځنګل ته وُتښتېدو. د شهزاده خُرّم لښکر د میواړ په علاقه زبردسته تباهي وبربادي راوسته. ټُبت خانې ورانې شوې او د دې په ځائې جُوماتونه جوړ شول. رانا امرسنګه اول اطاعت منلو ته بالکل تیار نهٔ وو. هغهٔ ډېر کوشش وُکړو چې د غه ځنګل نه فرار اختیار کړی او د شهزاده خُرّم محاصره ناکامه کړي. خو شهزاده خُرّم په ټوله علاقه د څوکو او تانو جال خور کړے وو او د دغه څوکو مشران د هغهٔ نامتو او سرکرده سرداران وو په چاراول که سیّد سیف خان باره او انبه کښې دلاور خان کاکړ وو.

نو چاور کښې چرته چې د چاند ه کان (در نګ) وو د جهانګیر قابل سردار ابراهیم خان مومند مقرر وو. رانا امرسنګه پوئې شو چې د تېښتې ټولې لارې کوډي بندې دی نو د اَمان غوښتو طلبګار شو او د بادشاه او شهزاده اطاعت یې وُمنوده.

شهزاده خُرّم د میواړ د فتح نه وروستو اجمیر شریف ته راوُرسېدو او د غلته یې خپل پلار جهانګیر سره مُلاقات وُکړو. دغلته فیصله وُشوه

---

له شاه جهان نامه عملِ صالح از محمد صالح کنبوه ص ۸۶

چې دَ دکن مُهم ضروري دے. شهزاده خُرّم او جهانګير دواړه يو لوئ لښکر څخه دکن پلو لاړل. جهانګير دَ دکن دَ ټولو علاقو جات په کامياب مهم شهزاده خُرّم دَ شاه جهان په خطاب سرفراز کړو. جهانګير دَ دکن کامياب مُهم نه پس ګجرات پلو روان شو. دَ ګجرات بند وبست يې ئې سم کړو. شاه جهان يې جاګير دار مقرر کړو او اګرې ته واپس ستون شو.

جهانګير ته اطلاع راغله چې سورج مل پسر راجه باسو کانګړه کښې بغاوت وکړو. دَ راجه بکرماجيت تحت يو لوئ مُغل لښکر په ارستمبر ۱۶۱۸ء دغه لور روان شو. سُورج مل دَ مُغل لښکر په راتلو سپد و قرار شو. او د راجه چمبا قلعه کښې ئې پناه واخسته. راجه بکرماجيت خپل لښکر دوؤ حصو کښې تقسيم کړو. دَ يو ډلې مشر سردار ابراهيم خان مومند مقرر شو چې دَ بيلا دره په لار په جمو ټهي ته ور دننه کيداو.

دَ دويمې ډلې مشر بکرماجيت وو چې دَ قلعه په لور روان شو. دَ نورپور نه ابتداء وُشو او نورپيټه قلعه کانې هم فتح شولې. بيا کوټله طرف روان شول. دلته قلعه نه کېر چاپېر درې اړخه ته ورې او يوه وې او دَ دې ځائې حکمران دَ سورج مل ورور مادهو سنګه وو. کوټله فتح شو. دَ کوټله دَ فتح نه وروستو دوئ دَ چمبا په قلعه ورغلل چې دَ سورج مل دَ ښکهانی مرګ خبر را ورسيدلو

الغرض راجه چمبا دَ سورج مل ټول مال دولت، هاتيان او آسونه

---

له عمل صالح ص۱۱۶

وغیره ، ماد هو سنګه او نیل آل وعیال د راجه بکرماجیت او سردار ابراهیم خان مومند حواله کړل کوم چې دغه دواړو سردارانو د بادشاه په لور واستول. مغل لښکر او سردار ابراهیم خان د جګړې موسم نو د پوه رکیني تیر کړو او په ۱۴ اکتوبر ۱۶۱۸ د کانګړې ته ورسیدل. د کانګړې قلعه یې زبردست مزاحمت او نو نږدې نه وروستو فتح کړه او بادشاه یې خپلې کامیابۍ نه خبر کړو.

وائي چې د کانګړې قلعه په دې او چت غزنه ده. او دومره زړه او پخوانۍ ده چې د هندوستان برهمنانو نه هم د دې د جوړونکی پته نه ده. البته دومره ورته ضرور پته ده چې تعمیر نه تر دغه وخت چا هم قبضه کړې نه ده. د سلاطین دهلی د مؤرخینو د بیک مطابق د سلطان محمد تغلق د زماني ۱۳۲۵ء نه تر دې مودې ۱۶۱۸ء پورې مختلف شاهانو امیرانو دوه پنځوس ځله دې قلعه محاصره وکړه خو دوي هر ځل ناکام شول. سلطان فیروز تغلق یې څو واره د نیولو کوشش وکړو خو هغه هم هر وار ناکام شو.

د کانګړې قلعه چې فتح شوه او د دغه ځای سردار امیران راجګان مطیع شول نو بکرماجیت او سردار ابراهیم خان مومند مخاطب دلاور خان آګرې ته واپس شول. د جهانګیر د بیان مطابق ابراهیم خان مومند ما ته یو تسکله آس راکړو او ستل مهرونه او یو زرا شرفۍ یې زما حواله کړې.[1]

---

[1] تزک جهانګیری ص ۲۹۳

## دکشتوار فتح

کشتوار د کشمیر جنوب ته پوړ غرخېزه سیمه وه. د دغه ځائي قلعه ډېره مضبوطه وه. د دغه ځائي چګان (چک) قوم د مغل اطاعت نه منوده او هر وخت یې فتنه فساد جوړ کړے وو. د دوئ په سرکوبه خو وار مغل نوځ لاړه. خو هر ځل ناکام راواپس شو.

جهانګیر د دکن ګجرات او کانګړې فتوحات نه پس سردار ابراهیم خان مومند د کشمیر صوبیدار مقرر کړو. جهانګیر په ۵ ستمبر ۱۶۱۹ء / ۱۰۲۸ھ د کشمیر د سیل په نیت روان شو. د روانېدو نه مخکښې یې سردار ابراهیم خان مومند ته حکم ورکړو چې کشتوار فتح کړي. سردار ابراهیم خان مومند لس زره پیاده او سور نوځ څخه د کشتوار په فتح روان شو. د دریابې مرو په غاړه یو زبردست جنګ وشو. د دغه ځائي راجه شکست وخوړو او فرار شو خو د ابراهیم خان مومند زوئ جلال خان مومند ورپسې ور او هغه یې ګرفتار کړو.

جهانګیر کشمیر ته نزدې وو چې راجه ورته په زنځیرونو تړلے پېش شو. بادشاه د ابراهیم خان مومند په دې کارنامه بې حد خوشحال شو. د کشمیر د یو کال مالیه او محصولات یې معاف کړل. او نور دېر نوازشات نه علاوه سردار ابراهیم خان مومند د ټلور زره ذات او درې زره سورو په منصب سرفرازه شو. د هغه زامنو په منصب کښې هم اضافه وشوه.[۱]

[۱] تزکِ جهانګیری ص ۳۸۳

دا ځکه چې څه وخت د شهاب الدین پور په مقام د کشمیر حاکم سردار ابراهیم خان مومند جهانګیر بادشاه ته ښه ولیدل نو د بادشاه د خولې نه یو ناساپي دا الفاظ ووتل چې زما نظر کښې د داسې مخلص ملازم ډېر قدر او عزت دے. ابراهیم خان مومند چې د کشتواړ په فتح د کومې ځوانمردۍ او بهادرۍ ثبوت ورکړو هغه د تعریف قابل دے خدائې تل دې زما نورو خدمت کوونکو ته هم دغسې عزت ورکړي.

د کشمیر د سیل او چکر نه پس چې هم دغه کال جهانګیر واپس شو نو په لار کښې ورته خبر راورسېدو چې ابراهیم خان مومند پخپل مرګ وفات شو. د هغه په وفات بادشاه ډېر افسوس او ارمان وکړو. هغه پخپل قابلیت او بهادرۍ د مغل سلطنت یو اهم رتبې ته رسېدلے وو. خو ژوند ورته وفا ونکړه او ډېر زر دې دنیا نه رخصت شو. د هغه په ځائې جلال خان مومند مقرر شو. خو هغه د ابراهیم خان مومند مقام ته ونه رسېدو. ځکه چې بادشاه کشمیر نه په واپسۍ جهلم ته راورسېدو نو کشتواړ کښې د دوباره بغاوت اطلاع راورسېده. وجه یې دا وه چې ابراهیم خان مومند د کشتواړ کوم حاکم نصرالله عرب مقرر کړے وو. هغه انتقامي سختۍ شروع کړه. د هغه زمیندار داو دیار بدل او بغاوت یې وکړو جهانګیر بادشاه د جلال خان مومند په مشرۍ کښې یو لوئ لښکر ورولېږلو. خو هغه دغه خلق قابو نه کړے شول. جهانګیر د جلال خان مومند په ځائې ارادت خان د کشمیر صوبیدار مقرر کړو.

او هغهٔ دغه باغیان مطیع کړل. خوّارادت خان د نظامت دوران هم بیا وروستو دوئی بغاوت وُکړو او بادشاه د ارادت خان په ځائې اعتماد خان د کشمیر صوبیدار مقرر کړو.

د سردار ابراهیم خان مومند په حقله مآثرالامرا لیکی:

،، سردار ابراهیم خان مومند بخطاب دلاور خان ابتداءً کښې د مرزا یوسف خان رضوی په رفاقت تهٔ وند تېر وُه. خوش قسمتی شخصه د اِکی راج او اَیهی راج په معامله کښې هغهٔ د خاص وعام په صحن کښې د جهانګیر په وړاندې داسې بهادری وُښوده او یکښې زخمی شو. دغه خدمت او بهادرۍ ادده د ترقۍ باعث شوه او په مناسب منصب مقرر شو. د جهانګیر د جلوس په ابتدائی زمانه د لاهور صوبیدار مقرر شو. او چه دغه پلو روان شو نو ایله د پانی پت علاقې ته رسیدلے وو چې د سُلطان خسرو او د هغهٔ د غم طرف ته راتګ نه خبر شو. خپله دله یې دریائې جون نه پورې وپسته او دې.. په تلوار لاهور پلو روان شو. او د خسرو رارسید نهٔ اګاهو د لاهور په قلعه داخل شو او د قلعه بُرج اُو چار دیوالې یې برابر کړه. خسرو چه د لاهور د ښار خوا ته راورسید و نو د هغهٔ د قلعه لا دروازې بندې مونده ی. هغه د محاصرې په انتظام او د لښکر په راغونډولو مشغول شو. د ښار دننه او بهر جنګ او لوټ مار شروع شو. چونکه شاهی لښکر د خسرو په تعاقب وو او خسرو د ښار زر فتح کول ناممکن لیدل نو هغهٔ محاصره ختم کړه. او دغسې دلاور خان د خپلې کارګذارۍ حق شناسی او خدمت په اساس د جهانګیر بادشاه د ډیرو مهربانو او عنایات نه سرفراز شو.

په اتم کال جلوس جهانګیري د شهزاده شاه جهان په ملګرتیا د رانا
په مهم روان شو. او په دیارلسم[۱۳] کال جلوس جهانګیري ۱۶۱۸ع / ۱۰۲۷ھ د
احمد بیګ کابلي په ځای د کشمیر صوبیدار مقرر شو او د ډېرې
بهادرۍ او ځوانمردۍ په بنیاد یې د کشمیر ښار نه دولس[۱۲] میله لرې د
کشتوار قلعه د فتح ضمن کښې اهم کردار ادا کړو چې تفصیل یې داسې دے. په څوارلسم[۱۴]
کال جلوس جهانګیري ۱۶۱۹ع / ۱۰۲۸ھ دلاور خان د لسو[۱۰] زره سورو او جنګجو پیدل
فوځ سره د کشتوار د فتح په نیت روان شو. چونکه لارې یې غرونه او کندې
کپرې نه مکه وه او د ټګ قابل نه وه او د آسونو د تګ خو هډو لار نه
وه. په دې وجه فوځې آسونه کشمیر ته واپس ولېږلے شول او یو څو بیې
احتیاطاً ځان سره وساتل. پیدل جنګجو ځوانان ملتر په ملتر دې غرونو نه تیر پیدل
او جنګلونه د سخت ګران کندو کپرو او غرېزرلو نه خلاصه تېر شو نو پس د دریابې مرب غاړه
سخت جنګ ونښتو. د دغه ځای زمیندار او د علي چک نومي یوسف د قتل په سبب د یو
راجه تحت دغلته هنګامه او شر فساد شروع کړے وو. خو دلاور خان مومند سره د جنګ دوران
د راجه زمیندارانو د دوی د ملګرتیا و خوښه لي او د دریاب بلې غاړې پهاړ کوڼ
ته فرار شول. راجه د صلحې پیغام را ولېږه. خو دلاور خان مومند صلحې ته تیار نه وو. چونکه د
دریاب بلې غاړې ته پورې وتل ډېر ګران وو. خو د دغه ځای جمال خان د ډېرې
ځوانمردۍ مظاهره وکړه او څو کسانو سره په لامبو د دریاب بلې غاړې ته په پورې وتو
کامیاب شو. دغلته یې جنګ شروع کړو. دښمن د تختو پل مات کړو او وتښېدو.
دلاور خان دغه مات پل بیا جوړ کړو او ټول فوځ یې پورې باسلو
خو د ډېر تعاقب باوجود باغیان را لاندې نه شول دریای چناب نه د

رسوپه پل لویې غوټه پورې وتل او د غه د رسوپل یې د شلولو
دلاورخان کله هر څو بڼل دریاب نه د پورې وتو کوشش وکړ خو
ناکام شو.

د دریاب تېز موجونو د هغه شپېته کسان ډوب کړل.
نور میاشتې او لښ ورځې دې کشمکش کښې تېرې شوې اتفاقاً د
هغه لائق او قابل زوی جلال خان یو شپه د یو زمیندار په رهنمایۍ
دریاب نه په یو داسې لار پورې وتو چې دښمن ته هیڅ پته ونه
لګیده. هغه د راجه پناه ګاه ته نږدې ورغلو او د فتح ډولکې یې په
اوچت اواز وغږول. ډیر خلق یې مړه کړل. او ډیر وتښتېدل.
دې هنګامه کښې د دوی یو کس تر راجه ورسېدو او هغه یې
قتلولو چې هغه ووې "زه راجه یم" چنانچه هغه ګرفتار شو
او ټوله علاقه قبضه شوه.

دلاور خان مومند په پنځلسم جلوس جهانګیری ۱۶۲۰ع / ۱۰۲۹ھ
بارمولا ته نږدې د بادشاه حضور کښې حاضر شو او ډیرو مهربانیو
نه علاوه د څلور زره ذات او درې نیم زره سورو په منصب
سرفراز شو. او د مفتوحه علاقې د یو کال محصولات ده ته بطور انعام
بخښلی شول.

دلاور خان مومند د کشتواړ د فتحې نه لږه موده پس
په نیل مرګ وفات شو. د شاهجهان بادشاه په زمانه کښې ده
مشر زوی جمال خان مومند د مهابت خان په ملګرتیا مقرر وو. د

ACKU

دولت آباد د محاصرې په وخت یوه ورځ په خه خبره د دوئ ترمنځ ورانه راغله. مهابت خان ورته وُوې چې څوک په سرکاري کارکښې غفلت کوي هغه به څلې نوري. دا خبره په جمال خان بده ولګېده. نوُره یې راوُښکه او مقابلې ته راغلې شو. دغه وخت مرزا جعفر نجم ثاني د دوئ ورو ستو ناست وو - ور وُیې دانګل او جمال خان مومند یې غېږ کښې وُنیوُ. خو د جمال خان مومند کم عمر زوئ دا وړاندې شو او د جدهر په یو وار یې مرزا نجم ثاني ختم کړو. خان زمان پسر مهابت خان وړ په ستړي جمال خان مومند او د هغهٔ زوئ قتل کړل -

وائي چې دا ټول واقعات د مهابت خان زوبه زو وُ شول نو هغهٔ صرف دومره ووې: " دواړه اره خه سبهٔ کار وُ شو "

د دلاور خان مومند د دویم زوئ نوم جلال خان مومند وو[1] د ابراهیم خان مومند بخطاب " دلاور خان " یولوئ عظیم الشان تاریخي یادګار " مسجد دلاور خان " د پښور ښار ګور ګتهړه ته نږدې جنت محله با قرشاه کښې دے چې د سني مسلک په کارو مشهور د عبادت ګاه او جومات دے.

ځینې کسان ددې جومات تعمیر د مهابت خان ورور " دلاور خان " ته منسوب کوي چې قطعي غلط ، لغو او بې حقیقت روایت دے

---

[1] مآثر الامراء جلد دوم ص ۱۳۱۹

دَ زمانه بیګ مهابت خان خانِ خانان پلار غیور بیګ کابلي دَ اکبر بادشاه دَ وور مرزا محمّد حکیم په ملازمت وو - رضوي سادات وو. مرزا محمد حکیم چي په ۳۰ رجولائی ۱۵۸۵ ز دَ کابل په مقام وفات شو نو دَ اکبر بادشاه په حُکم کنور مان سنګه دَ کابل بادشاهت قبضه او دَ اکبر بادشاه په سلطنت کښي شامل کړو. او دغسي غیور بیګ کابلي دَ اکبر بادشاه ملازمت اختیار کړو. دَ هغهٔ زوئ زمانه بیګ دَ جهانګیر بادشاه په وخت دَ شهرت او جاه و جلال خاوند شو او دَ مهابت خان خانِ خانان په القاب او خطابات مشرف شو. موږ دغه دوران دَ مهابت خان هیڅ یو وور دَ مغل سلطنت دَ تاریخ په صفحات دَ "دلاور خان" په نوم یا خطاب نهٔ پیژنو. البته دَ جهانګیر بادشاه په زمانهٔ حکومت صرف سردار ابراهیم خان مومند دَ "دلاور خان" په خطاب موجود دے.

دَ زمانه بیګ مهابت خان خانِ خانان پینځهٔ زامن وو.

(۱) خانِ زمان امانی (۲) لهراسپ مهابت خان (۳) مرزا دلیرهمت (۴) مرزا بهروز (۵) مرزا افراسیاب.

دغسي دَ لهراسپ مهابت زوئ لهماسپ نالائق او دَ هیڅ اهمیت خاوند نهٔ وو. زمانه بیګ مهابت خان خانِ خانان دَ جهانګیر دَ بادشاهت په دولسم کال ۱۶۱۷ء کښي دَ کابل صوبیدار مقرر یږی وو لیکن دَ دې برعکس سردار ابراهیم خان مومند بخطاب دلاور خان ۱۶۰۵ء کښي دَ صوبهٔ لاهور صوبیدار وو. شهزاده خسرو چي دَ راجپوت سردارانو په شرارت دَ

خپل پلار جهانګیر خلاف بغاوت وکړو نو دلاورخان د هغه دغه بغاوت د لاهور (پنجاب) په مقام ناکام او شنډ کړو.

سردار ابراهیم خان مومند بخطاب "دلاورخان" د مغل سلطنت د جهانګیری دور هغه لویه ستې شخصیت دے چې ۱۶۰۷ کښې د جهانګیر بادشاه د کابل د او لنډه دوره په موقعه موجود وو او نن اشاره ده چې د "مسجد دلاورخان" د تعمیر کار هم دغه کال ۱۶۰۷ کښې دلاورخان مومند په دې غرض مقصد د باړه مومند قبائل په حدود او نو مکه شروع کړو چې د هغه "غوری" قام قبیله د هغه د لاس په نسکلی نبالسته جمات کښې مذهبی رسومات او عبادات ادا کړی.

---

## د تزکِ جهانګیري د تحریراتو

# وضاحت

د تزکِ جهانګیرۍ د تحریر دده نومونو آشنا مورخین او تذکره نګار څخه داسې په مغالطه او تېښدنګ سرګړي دي چې تحقیق او نور نظر څخه قطع نظر د یو نوم او خطاب بل څخه پیوست او منسلک ښکاري. مآثرالامراء، اقبال نامه جهانګیري اوځینې نور مُغل تاریخي آثار د سردار ابراهیم خان مومند او ابراهیم خان فتح جنګ یا سردار ابراهیم خان مومند بخطاب دلاور خان او د دلاور خان کاکړ نومونو او کارنامو څخه مغالطه او سهوه خوري او د یو بل حالات او واقعات یو بل څخه داسې مربوط او ګډ وډ کوي چې لوستونکي ئې هیڅ په حساب نهٔ پوهیږي. ابراهیم خان بخطاب فتح جنګ د ملکهٔ نورجهان رشته دار او د بنګال ګورنر وو. او ابراهیم خان مومند بخطاب دلاور خان حاکم لاهور او کشمیر څخه بېخي مختلف

منصبدار وو. دغسې دلاورخان افغان (سردار ابراهیم خان مومند) او دلاورخان کاکړ دوه مختلف تومونه دي. خو اکثرو تواریخ دَ سردار ابراهیم خان مومند دغه شاهي خطاب «دلاورخان» یو بل ورکوټي منصبدار دلاورخان کاکړ څخه مشابهه کوي- او دَدواړو تومونو ترمینځ هیڅ فرق او بیلتون نهٔ کوي.

دَ تزکِ جهانګیري مطابق سردار ابراهیم خان موُمند بخطاب دلاورخان افغان ۱۶۰۶ء کښې یونیم زري ذات منصبدار وو. خو شهزاده خسرو نه په شکست ورکولو کښې هم دغه کال دَ دوه زره ذات او څوارلس سوه سوَرو په منصب سرفراز شو.[۱] حالانکه دلاورخان کاکړ ۱۶۱۱ء کښې دَهفت صدي ذات او سي صد سوار په حیث دَ شاهي محل میر بخشي مقرر وو.[۲]

سردار ابراهیم خان موُمند بخطاب دلاورخان افغان ۱۶۱۵ء کښې دَ صوبه بهار صوبیدار مقرر شو او منصب یې دوه نیم زري ذات او دوه نیم زري سوار مقرر شو.[۳] دَدې برعکس هم دغه کال دَ دلاورخان کاکړ په منصب کښې درې سوه ذات ترقي وشوه او اېله هزاري ذات هزار سوار منصبدار نشو.[۴]

---

[۱] تزک جهانګیري جلد اول ترجمه از اعجاز الحق قدوسي ص ۱۳۰

[۲] ص ۱۵۸۔ [۳] ص ۲۴۴ [۴] ص ۲۶۶، ۲۸۱م - ص ۵ : ص ۲۶۸م۔

مـآثرالامراء چي د شهزاده خرّم (شاه جهان) تخت ته د رانا امرسنگهه خلاف ذکومو منصبدارانو ذکر کوی نو په دغه موقعه سردار ابراهيم خان مومند بخطاب دلاورخان د چادر په مقام او دلاورخان کاکړ د ټانبه په مقام متعين وو.[1]

بادشاه نامه عبدالحميد لاهوری ، مآثرالامراء او ځيني نور تاريخي کتابونه د دلاورخان افغان صوبيدار کشمير د ده زامن جمال او جلال ته خه د کاکړ نوم مربوط کوی او د سردار ابراهيم خان مومند زامن د دلاورخان کاکړ اولادې ښائي. د خطاب او نوم دغه يو رنګی اکثر مؤرخين د تذبذب او غلط فهمۍ ښکار کړيدی . نوکه دقيق او ژور نظر وشی نو دلاورخان افغان او دلاورخان کاکړ دوه مختلف نومونه او منصبداران دی. اول الذکر مومند او اخرالذکر کاکړ وو. ديو خطاب دلاورخان وو او د بل نوم د لاورخان کاکړ وو. دواړه پښتانه وو. د تزک جهانګيری لوستو څخه لوستونکی د پوښان نوم او هم تامی په سبب ضرور دوکه خوری خو حقيقت دادی چي د دواړو واقعات او حالات جدا او بيل دی او په لږ عميق نظر د دواړو ترمنځ صفافرق محسوسيږی د ځيني روايات برعکس چي د بهادرکلی ابراهيم خيل د سردار ابراهيم خان په نوم منسوب او معروف دی او سردار ابراهيم خان مومند د بهادرخان اولاد څخه وو. هيڅ تاريخی او شجراتی حقيقت نه لری.

---

[1] شاه جهان نامه عمل صالح جلد اول- ص ۸۶

# شاهجهان

ACKU

دجهانګیر د وفات نه وروستو د هغه نا وړې شهزاده خرم بخطاب شاهجهان بادشاه شو. دجهانګیر د مغل پښتون دوستۍ برعکس شاه جهان لکه د اکبر اعظم مغل پښتون دښمن پالیسي بحال کړه. د هغه پښتون دښمن پالیسي اګر چې لکه د اکبر اعظم دومره شدت ښخه نه وه. او نه لکه د اکبر اعظم راجپوت دوستۍ او تعلق ښخه مضبوط پیوست وه. خو بیا هم شاه جهان د پښتنو سردارانو جهانګیر څخه بې اندازه پا قانت او صحبت او د شهزاده پرویز حمایت په اساس خائف او شکی وو. او دغه شک و خوف وو چې هغه د پښتون سردارانو تذلیل او بې عزتي پېل معمول کړو. نتیجه دا شوه چې د مغل پښتونو منځ د بغض و عناد او بې اعتمادۍ فضا پیدا شوه. او د دغه عناد او دښمنۍ اول ګذار د پښتون سردار خان جهان لودي په سر شو.

۱۶۲۸ء کښې دَ دکن صوبیداري نه معزول شو او دَ هغهٔ په ځائې دَ هغهٔ زوړ حریف مهابت خان مقرر شو. دې نه پس خان جهان لودي دَ مالوه صوبیدار شو. خو ډیر زر آگره کښې دَ خپل کورنئ دَ مُغل سنګرنګرانئ لاندې نظربند شو. خان جهان لودي چې دَ بادشاه مشکوک او انتهائي مخالفانه طرزِ عمل څخه بې حد تنګ شو نو دکن ته په فرار مجبور شو. خو بادشاه دَ هغهٔ فرار په بغاوت تصور کړو او دَ هغهٔ په تعاقب ئې شاهي لښکر مقرر کړو. دَ دواړو ډلو ترمنځ زبردست جنګ وُشو چې دَ دربارِ جهانګیري سرکرده پښتانهٔ سرداران په دې معرکه کښې شهیدان شول. دَ خانجهان لودي او نورو پښتنو منصبدارانو شهادت یو ځل بیا دَ مُغل پښتنو ترمنځ دَ بې اطمینانئ او کرکې فضا پیدا کړه او د غه نفرت دَ مُغل تر خاتمې برقرار وو. جنرل بخت خان که هر څو دَ مُغل سلطنت اخیري فرمانروا بهادر شاه ظفر ته مخلص او وفادار وو خو عاقبت اندیش مُغل سرداران دَ هغهٔ په خلوص او ایمانداري مشکوک وو. او دغسې مُغل شهنشاهیت اختتام ته ورسید و.

دَ جهانګیر دَ فراخدلانه پالیسۍ اثرات وو چې دَ مُغل پښتون دوستئ په برکت شاهجهان دَ پُرامن هندوستان او منظم ملک وارث او مالک شو. خو اورنګ زیب نه وروستو دَ هندي اقوام دَ مُغل حاکمیت په قبول ولو وېښیا او اعتبار پاسید و. او هر څوک دَ خپل خودمختاره ریاست واکمن شو. دهلي دربار څخه

ACKU

وابستګی او تعلق برانې نام شو او بهرنی قوتونه د مغل دربار د زوال باعث شول. د مرهټه ؤ او سکهو مت بیداري او بغاوت او مختلف علاقو کښې د ایرانی نژاد شیعه سردارانو او منصبدارانو بې وفائی او د آزادي پښتونو قیام داسې واقعات دي چې د انګریز سلطنت د قیام پیش خیمه شول.

د خان جهان لودي او نور روهیله پښتون سردارانو شهادت څخه پښتانه د کمال الدین داؤد زي تحت راپورته شول. ۱۶۳۰ء کښې ئې د پیښور قلعه محاصره کړه. خو د عبدالقادر خان روښنائی (ن رتاریکي) په غدارۍ د آزادۍ دغه تحریک ناکام شو. د عبدالقادر خان غداري او دوکه وه چې پښتون روښنائی تحریک څخه مکمل طور وېزار شو او هغه تحریک بېخي ختم شو. چې کافي موده ئې مغل شاهان او حاکمان بې قراره او پریشان وساتل.

عبدالقادر خان په ۲۴ جنوري ۱۶۳۵ء/۱۰۴۴ھ د صوبیدار کابل محمد سعید خان په وساطت د بادشاه خدمت کښې حاضر شو او د پښتون خلاف د سازش او غدارۍ په عوض ئې انعام قسم نوازشات او عنایات وصول کړل د هزاري ذات (د حالنامي مطابق دوهزاري) په منصب سرفراز شو او تر آخره د مغل سرکار ملازم شو خو هم دغه کال ۱۶۳۵ء/۱۰۴۴ھ کښې په خپل مرګ مړ شو او د غدارۍ معاوضه یې پوره نصیب نه شوه البته د ده ماما الله داد چې تر آخره هم د مغل فرمانبردار منصبدار وو او د رشید خان په خطاب سرفراز وو

ACKU

حالنامه لیکي:

"عبدالقادرخان ۱۶۱۰ع/۱۰۱۹ه تا ۱۶۳۵ع/۱۰۴۴ه پورې څه موده صوبیدار
سعیدخان تر څنګه کابل کښې وو. بیا پېښور ته راغلو
دلته سخت بیمار شو. د تیراه نه یې مورنۍ علایه
پېښور ته راغله. عبدالقادر دغه وخت مرګي حال وو
صوبیدار سعیدخان یې څو واري پوښتنه وکړه
اخیر کار د پنځویشت کاله په عمر کښې وفات شو."

د کوټله محسن خان په مقام چې کوم دوه روښانیان کښېنولي دي
پورته ئې کتېټ کښې دوه قبره او بسکته کښې یو لوئې او خلور ورکوټي
قبرونه دي. د کتېټ نه بهر هم قبرونه دي. خو د پښتنو په بیمه
چې د نور تاریخي یادګارونو کوم بد حال دې دغه حالت د پښتو ادب
د محسن بایزید روښان د کړوسي عبدالقادر بن احدادبن شیخ عمر
بن پیر روښان او د بل کړوسي الهداد مان بن پیر داد بن کمال الدین
بن پیر روښان دی. څوک چې د شاه جهان په زمانه حکومت د کن
کښې رشید خان بن جلال الدین بن پیر روښان څخه د مغل
په ملازمت مقرر وو. د هندوستان آب و هوا برابر راست
رانغله. سرونج څخه جوخت وفات شو. د هغه لاش یو کال پس پښتو
نه را ورسولی شو او د عبدالقادر قبر څخه جوخت ښخ کړے شو
(حالنامه ص ۶۵۹)

د دې دواړو کښېنتو نو د ننه د نې شماره تو تاکر کو را بیل)

ACKU

حاملې دي. کاني کنډکي يې خوره کړې ده. د حکومت او خصوصاً د آثارو قديمه د محکمې بې پرواهي پخپله ځائې، خو د غلته د روښاني خلق مسلک پيروکاراو خصوصاً د پير روښان د نسل د روښاني محلې هم د دې کنبتولو دننه د صفايې پام او خيال نه ساتي.

د پير روښان د کورنۍ کريم دادخان روښاني (تاريکي) که هرڅو ورو ستو کوشش وکړو چې د پښتنو حمايت او امداد حاصل کړي. خو د پښتنو اخلاص، رواداري او همدردي اوس د دې تحريک څخه ختم وه. سعيد خان صوبيدار کابل د دې موقع نه فائده پورته کړه د راجه جګت سنګه او يوردل خان تحت يې پخپله[۱۵] نهاره مغل لښکر د ده خلاف کوهاټ پلو روان کړو. خو د مغل لښکر رسيدونه د کاهو د ځرونو وسيدونکو عام پښتنو غدار کريم داد ونيوه او مغل لښکر ته يې حواله کړو او د بادشاه د حکم مطابق ۱۶۳۸ع / ۱۰۴۷هـ کې قتل شو او دغسې روښاني تحريک ختم شو.

د روهيله پښتون سردارانو شهادت وو چې ټول پښتون د شاه جهان خلاف راولاړ شول. قبيلوي تصور ختم شو او ټول يو موټي او متحد شول. د شيخ کمال الدين خروج او بغاوت د پښتنو د مختلف اولسونو او د شمال وجنوب ټول پښتون د اتحاد او يووالي مظاهره وه. دغه تحريک که هرڅو د کريمداد او عبد القادر روښاني د لاسه مغل فوجدار احمد سعيد خان تخم په سازش ناکام شو او په دغه کاميابي احمد سعيد خان صوبيدار

کابل د څلور هزاري ذات په منصب سرفراز شو خو پښتانه د مغل خلاف هم تحریک څخه ملا تړ شول. شاهجهان په ۱۶۳۷ ع / ۱۰۴۶ هـ کښې دارالخلافه اګرې نه شاه جهان اباد دهلي ته منتقل کړو. چې د پښتنو خلاف کار روائي اسان شي. خو د دې انتظامات باوجود ۱۶۴۰ ع / ۱۰۴۹ هـ کښې پښتنو د پېښور نو حیلا ما سید دلاور خان را ایسار کړو هغه ئې نېپل ما دي او نور و دېر و ملګرو څخه قتل کړو او د هغه ټول سامان و سامان یې اوټ تالا کړو.

۱۶۴۱ ع / ۱۰۵۰ هـ کښې د نوښار ه تانېدار دلېر خان یوسفزئي کښې ښمېر پښتنو نیولو او هغه ئې نیېل ما وئیا، ورا ده او دوه ورونه څخه قتل کړو.[۱]

۱۶ شوال ۱۶۴۱ ع / ۱۰۵۰ هـ:

"از وقائع صوبه کابل معروض اقدس گردید. که سید دلیرخان تانه دار نوشهره در نبرد افاغنه یوسف زئي که به جمعیت تمام بر او هجوم آورده بودند به برادران خود سید محمد و سید بلی و سید فخرالدین پسر خود و سید فتح محمد پسر سید بلی بواله پایه شهادت مرتقی گشت."[۲]

---

[۱] عمل صالح جلد دوم ص ۳۷۰ [۲] بادشاه نامه تیوسیرینز ۱۲۱ از عبدالحمید لاهوری ص ۲۲۲ تالیف بحرلیس

۱۶۵۶ ء / ۱۰۶۶ هـ کښې پښتو د پېښور جاګیردار عزیز بېګ بدخشي او نور پنځه سوه منصبداران قتل کړل. د دوئ د انتقام اخستو په غرض یو لوی شاهي لښکر پېښور ته را ورسېدو، بر دستا جنګ وشو. دواړه اړخ ښه کاني کسان قتل شول. د پښتنو څخه پنځه سوه بهادران شهیدان او څو پر کسان ګرفتار شول، شاهي لښکر د پېښور د پښتنو کورونه لوټ تالان کړل. او د کلو وچېلو یوه لویه برخه مغل عسکر قبضه کړه.

د قدرت قانون دے چې څهٔ کرې هغه به ریبې په مصداق شهزاده خرم شاهجهان حاکم دکن د خپل پلار د خواهش او وصیت برعکس خپل ځان خود مختار اعلان کړو.

„ هغه (شاه جهان) زما شان پلار رنګه چې د خالق مجازي وو او دے یې په خپل زوند اوچتې مرتبې ته ورسوه، داشان ناروا سلوک وکړو نو د خدائ تعالی په عدالت کښې به انصاف وی او دے به چرې هم ښهٔ ورځ نهٔ وینی [۱] "

جهانګیر غوښتل چې د تخت وتاج وراثت حقدار د هغهٔ مشر زوئ شهزاده پرویز مقرر شي. خو شاه جهان د خپل پلار د فیصلې خلاف بغاوت وکړو او ځان یې بادشاه کړو. هم دغسې

---

[۱] تزوک جهانګیری جلد دوم. ترجمه اعجاز الحق قدوسی ص ۳۵۲

$\frac{۱۶۵۷ع}{۱۰۶۷ه}$ کښې چې شاه جهان په ۱۶ ستمبر ناجوړه شو او هغه خپل خوږ مشر زوی دارا شکوه د پنځوس هزاري ذات په منصب خپل نایب او ولی عهد مقرر کړو. نو د هغه نور زامن:

(۱) شهزاده شجاع والي بنګال.

(۲) اورنګ زیب والي دکن.

(۳) شهزاده مراد والي ګجرات

د خپل پلار د فیصلې خلاف راو پاریدل. د تخت نشینۍ په دې جنګ کښې د شاه جهان درې زامن قتل شول. او اورنګ زیب بادشاه شو. هغه خپل زړه خوږ پلار شاه جهان د آګرې قلعه کښې بندیوان کړو. او اته کاله د یو قیدي په حیث دغلته ژوندی وو. هغه د اسیرۍ او قید و بند حالت کښې خپل زوی اورنګ زیب ته لیکي چې:

"کوم سلوک ته ما څخه کوې نو ته هم دا توقع ساته چې تا څخه به هم دغه شان خپل زامن ګستاخي کوي."

د شاه جهان دا خط هوبهو داسې وو لکه څنګه چې جهانګیر د ده په نوم نوشته او تحریر کړې وو او لکه څنګه چې د شاه جهان سرکشي د خپل پلار جهانګیر خلاف وه. هم دغه شان د دې دولت زوی شاه جهان سرکشي تر څلور کاله جاري وه"

---

له رقعات عالمګیري ص ۱۲۳.

ACKU

نو دغسې اورنګ زېب د خپل پلار شاه جهان نافرمان وو
هغه د خپل پلار خط په جواب کښې لیکي:
« پیر دستګیر! تاسوچې زما د زامنو په حقله لیکلي
دي. نو دې فاني دنیا هیڅ کار د الله تعالی د مشیت
و تقدیر نه بغیر نه دے. د مستقبل د خطرات په
حقله چې تاسو تحریر کړي دي نو دغه زموږ مشرانو
ته هم پیښې شوې دي. زما خو ندې حقیر انسان څه
قدرت لري چې د حکم الهی نه سرکو داني وکړي. زما
نیت صفا دے چې څو نه ندے یم زما اولاد به ما څخه
هیڅ بد نه کوي[۱]»

« ما که د دروتو خلاف ناتې ها الفاظ تحریر کړي دي نو هغه تاسو ولې
ولې ادلی بولۍ. څنګه تاسو خپل ورور شهزاده پرویز را وسره په کوم
قسم الفاظو یاد ولو. نو که ما خپل ورور ته په بد الفاظو یاد کړل نو څه قصور وشو[۲]»

د روهیله پښتنو سردارانو او د کونو کنا ه خلیل مومند داؤ دزي
او یوسفزی پښتنو فاتل شاه جهان په ۳۱ جنوري ۱۶۶۶ء / ۱۰۷۶هـ وفات شو
او د شپې په اخیری پاڼ پل ایکی یو همدرد لور جهان آرا بېګم د شاه
برج په پاسکو د هغه لاش راکوز کړو. روضه تاج محل ته یې
ورسوو او دغلته یې ښخ کړو.

---

[۱] رقعات عالمګیری ص ۲۳۵ [۲] رقعات عالمګیری ص ۲۹۱

# احمد خان مومند

جهانګیر چې د خپلې بادشاهت اخیرې موده کښې د مې
په مرض ناجوړه شو او د سلطنت ټول کاروبار د نورجهان په
لاس شو نو د هغې کوشش وو چې شهزاده شهریار ولي عهد
مقرر شي او د شاه جهان ټول جاګیر او حیثیت د شهریار شي
د نورجهان دې طرز عمل د جهانګیر او شهزاده خرم شاهجهان ترمینځ
تعلقات خراب کړل. ۱۰ د ۱۶۲۳ء اپریل کښې بلوچ پور قبول پور ترمینځ
په یو مقام پلار زوی د یو بل مقابلې ته مخامخ شول خو په دې
موقعه د جهانګیر بادشاه د فوځ یوه ډله د عبدالله خان په مشرۍ
کښې شاه جهان پلو واوړېده. شاه جهان خپل پلار سره جنګ
ته تیار نه وو. او د جنګ نه یې ډډه وکړه. دې دوران کښې مغل
سرداران او منصبداران کله یوې او کله بلې ډلې ته اوړېدل او
د دوئ د وفادارۍ هیڅ ویسا نه وه. شاه جهان احساس وکړو
چې خپل پلار سره یې مزید تعلقات خراب نه شي. او ړیبه پلوره

شو. خو نورجهان خپل تره ابراهیم خان فتح جنګ د بنګال صوبیدار مقرر کړ او هغه ته خاص هدایت وشو چې د شاه جهان تعاقب وکړي او هغه ګرفتار کړي. شاه جهان د ډهاکه نه اکبر نګر ته ورسېد او دلته د ابراهیم خان فتح جنګ او شاه جهان لښکر یو بل ته مخامخ شول ابراهیم خان فتح جنګ تا جپور دریاب نه ټولې کېشتۍ بلې غاړې ته پورې باسلې وې او شاه جهان ته یې له غاړه پورې وتل ګران وو. خو عبدالله خان دوراند پښتنه کار واخیست او د دریاب په غاړه پور ته روان شو. آخر څه منزل نه وروستو یې څلور کېشتۍ بیا موندې. دې قابل او جنګجو سردارانو چې څخه دریا خان داوزئ، بهادر خان داوزئ. کریم داد خان او محمد خان مومند درې زره سپاهیانو څخه پورې باسل او بیا ورپسې نور ټول لښکر هم پورې وتو جنګ شروع شو. د بنګالي فوځ یوه ډله په شاه جهاني لښکر را پرېوته. محمد خان مومند چې هراول دستې نه لېږ. په ډېره دوړ د دغه لښکر دا ایسار ولو د پر بهادرۍ څخه کوشش وکړ و خو خپلو اویا ملګرو او خپلو خپلوانو څخه سم قتل شو د ده نه وی احمد[1] دخان مومند هم سخت زوبل شو او میدان کښې بې هوشه پرېوتو.[2] خو عین دغه وخت ابراهیم خان

---

[1] تاریخ مرصع د محمد خان مومند مړک خان جهان لودهي څخه د دهولپور په مقام جنګ کښې ښائي او محمد خان مومند او محمود خان د احمد دخان مومند زامن ښائي. د عمل صالح مطابق محمود خان د خان جهان لودي نه وی دے او احمد دخان مومند د محمد خان مومند نه وی دے.

[2] شاه جهان نامه ص۱۷۰.

فتح جنګ هم قتل شو. د جهانګیر او نورجهان ښکو شکست بیامونده او وتښتېدل.

د جهانګیر د وفات نه پس د شاه جهان د تخت نشینۍ په وخت د هغه سعادتمند انو فهرست چې د پوکوالی راسې ترلمه نامان د هغه همرانو مالسن کښې ملګرې وو او د هغه وفادار دو دوی په لویو منصبونو او مرتبو مامور شول. د څو وفادار منصبدارانو نومونه داوو.. سیّد مظفرخان بارهه. اسلام خان. وزیرخان. بهادرخان روهیله. احداد خان مومند. زبردست خان وغیره.[۱]

احداد خان مومند د شاه جهان د تخت نشینۍ د جلوس په وخت خلعت. مرصع خنجر. علم. هاتی. اس. دوهزاری ذات او شپږ سوو سورو منصب. لښ نر ره روپیه د هغه د غوره خدمات په عوض باشاه هغه ته انعام ورکړې.[۲]

۱۶۳۵ کښې خبر راورسېد چې مالوه کښې ججهار سنګه بغاوت وکړو. شهزاده اورنګ زیب د دې بغاوت په ختمولو مقرر شو هغه څخه نورو نه علاوه حبیب خان سوری. خان جهان کاکړ او احداد خان مومند هم په دې مهم مامور شول. مغل لښکر چې چوراګړه قلعه ته ورسېد و نو ججهار سنګه دکې پلو فرار شو. قلعه قبضه شوه. د قلعه د بت خانې په څت پرومبې مغل آذان شو

---

[۱] عمل صالح ص ۸۶ [۲] عمل صالح ص ۹

او د جمعې نمونځ تهول لښکر يو ځائې قلعه کښې ادا کړو. نمانځه نه وروستو د بهادره انعامونه تقسيم شول. احداد خان مومند او د هغه ترهٔ يعقوب خان مومند. شمشير دوبال. عالم او نور ډېر انعامات حاصل کړل[1] او د قلعه په حفاظت مامور شول.

مغل لښکر دې نه وروستو د ججهار سنګه او د هغه د زوئ بکرماجيت په تلاش ووتل. د چانده په مقام د مغل او بوندېله لښکرو مينځ خونړے جنګ وشو. ججهار سنګه او بکرماجيت شکست وخوړو او دواړه قتل شول.

مغل لښکر دکن پلو خپل مهم جاري وساته او د عادل خان د باغيانه سرګرمو خلاف يې هم کاروايي وکړه. دې تهول مهمات کښې احداد خان مومند شامل وو. د بيجاپور عادل خان او د احمد نګر والي نظام الملک نه ګاني عادته ۱۶۳۶ء کښې د شاه جهان مغل لښکر قبضه کړه او شاه جهان دغه تهوله مقبوضه علاقه د اورنګ زيب جاګير کړه.

شاه جهان غوښتل چې بلخ و بدخشان فتح کړي او خپل سلطنت کښې يې شامل کړي. هغه کابل پلو رادوان شو او په ۲۱ مئی ۱۶۴۶ء پېښور ته راورسېدو. د پېښور قلعه په نوا کښې د علي مردان خان امير الامرا، صوبيدار کابل ځائې کښې ډېره شو. خو دغه ځائې

---

[1] عمل صالح ص۱۳۱.

ACKU

سېي خوښ نهٔ شو او په ۲۲ مئ ۱۶۴۶ ء دېېښور ښار نه بهر دَ ظفرخان باغ ته منتقل شو. دغلته يې خېمې نصب کړې. او څو ورځې ايسارتيا نه پس کابل پلوُ روان شو. دَکوچ په وخت کَ دهٔ په لويې لښکر کښې نور د پښتون امراء نه علاوه احمدخان مومند هم شامل وو. شاه جهان په ۲۵ جولائی ۱۶۴۶ ء ايران نه بلخ وبدخشان فتح کړل او قليج خان دَ بدخشان صوبېدار مقرر شو خو يوکال تېر نهٔ وو چې دَ دغه ځائې اوسېد ونکو الماينانو په قلعه حمله وکړه او دَ هغوئ په لوئې لښکر کَ احمدخان مومند او محمّد مراد دارو غه توپ خانه څخه په مقابله شول. دغه دوران کَ الماينانوُ دله چې دَ خپل لښکر اَسونه ورڅخه وُو. څو ورځو نه پس واپس راتلل چې دَ مُغل لښکر يې په نظر شو. دوئ وُ تښتېدل خو دَ احمدخان مومند په مشرۍ کښې مغل لښکر دَ دوئ تعاقب وکړو. کېره کښې يې راوستل او دَ دوئ په وژلو شروع شول. خو دې دوران نور الماني لښکر راوُرسېدو او مغل لښکر نه څلور واړه اړخه کېر چاپېر تاوُ شول. او احمدخان مومند د بېر سخت مصيبت کښې وُ نښتو. خو دغه وخت خوش قسمتۍ نه دَ مُغل دوه نور سرداران راجه راج رُوپ او نورالحسن خپلو ملګرو څخه دَ دوئ په امداد راوُرسېدل تا بېرته خونړۍ وُشوه. محمد مراد دارو غه توپ خانه قتل شو. ټوله ورځ سخت جنګ وُشو. دَ شپې جنګ بس شو. او چه سبا شو نو ټول الماينان مېدان نه تښتېدلی وُو.

ا .

۲ .

# خان جهان لودی

پیرخان ولد دولت خان لودی ابتدائی تر و نه کښې د شهزاده دانیال بن اکبر اعظم ملازم وو. د شهزاده دانیال په وفات (۱۱ مارچ ۱۶۰۵ء) عبدالرحیم خان خانان پسر بیرم خان څخه ملازم شو. دی نه وروستو د شلو کالو عمر کښې د جهانګیر ملازم شو د جهانګیر په نظر کښې هغه د ډېر لوئې عزت او وقار خاوند شو او د خپل قابلیت، ذهانت او بهادرۍ په وجه د دومره لوئې رُتبې مالک شوچې جهانګیر د خان جهان لودی په خطاب سرفرازه کړو

" فرزند خاص شاه شد از قدرتِ الله
خان جهان مرید جهانګیر شاه

ترجمه: خانِ جهان د الله پاک په فضل د جهانګیر د شاه
مُرید او د هغه خاص زوئې شو. "

خانِ جهان لودی د شهزاده پرویز دوه کاله اَتالیق وو. جهانګیر چې وفات شو نو شاه جهان د مغل منصبدارانو په لسو

(تاریخ مخزنِ افغانی - نعمت الله هروی ص ۲۶۸)

او شرارت ته ئې لوئې پښتون سرداران مخالف شو. د شاه جهان
مخالفانه رویې د هغهٔ پښتون غیرت او ننګ بغاوت ته آماده کړو.
د مُغل التزامات مطابق؛

"دهٔ نظام الملک والي دکن څخه سازباز برابر کړو. د
برهان پور سکندرخان لوهاني یې خپل مرستیال کړو. راجه
ګج سنګه او راجه جسنګه یې هم ملګري کړل او اراده یې
وه چې د پښتنو قدیم ریاست مالوه نه مُغل صوبیدار مظفرخان
وکاږي او په مالوه قبضه وکړي. خو دهٔ ته پته ولګېده چې د
جهانګیر د وفات نه پس د سلطنت ټول سرداران د شاه جهان په مرسته
او ملاتړ دي او چرته هُم فتنه فساد نشته. نو د شاه جهان نامه مطابق
دهٔ معافي وُغوښته. شاه جهان دے معاف کړو او د خاندیس
او برار په صوبه یې لګه د څلو صوبیدار وُساتهٔ او بیا یې ورته
د مالوه صوبیدار مقرر کړو. دغه ځائې نه بادشاه آګرې ته
طلب کړو. خو هغهٔ د دربار فضا صفا وُنهٔ لیده او د بادشاه په نیت
مشکوک شو. یوه ربیښتو څخه د فرار په نکل شو او په یو خاص
موقع اکتوبر ۱۶۲۹ کښې د آګرې نه وُتښتېدو. بادشاه د هغهٔ په
تعاقب خپل یو وُلیښت[۲۱] اعلیٰ قابل سرداران وُ ټاکل. خو دوئ کښې
پینځه سرداران د انعام د حصول په غرض دومره تېز او چُست وو
چې لکه د سیلاب طوفان دهٔ پسې ورسېدل او د ما باغ چندل څخه
ئې راایسار کړو. جنګ وُشو. شاهي لښکرئي نس شو. پولي کښینه

یې د خان جهان لودي په قبضه شوې. او هغه صحي سالم دریاب ته پورې وتو. راجه ججهار سنګه ته ورسېد او بیا سکندر دوتاني او نظام الملک پلو روان شو.

شاه جهان چې د دې ټول واقعات نه خبر شو نو نومبر ۱۶۲۹ء کښې بذاتِ خود د دکن په لور روان شو. خان ځنې یې سنه ټکره جرنیلانو ته علاوه بې شماره مغل لښکر روان کړو د یو پښتون سردار بغاوت هغه د پاره معمولي خبره نه وه د هغه په نظره کښې د خان جهان لودي هیبت او سهم قدرتي امر وو. هغه د یو خاص مقصد تحت په دې مهم کښې بهادر خان روهیله جهان خان کاکړ، حیات خان ترین او احمداد خان مومند شان علي جنګ جو پښتانه سپه سالاران هم شامل کړل.

شاه جهان په ۱۲ مارچ ۱۶۳۰ء دکن ته ورسېدو. خانجهان لودي دریا خان داؤد زی، مقرب خان او بهلول ځنې د ولس نوره پښتون لښکر راغونډه وو. د دوی د بادشاه په لښکر یوناساپي حمله وکړه او ډېر سرداران او مغل لښکر یې قتل کړو. بادشاه چې د دې واقعات نه خبر شو. نو ډېر خفه شو. خو پوه شو چې تېزي نه کار اخستل بکار نه دی. هغه د جړي موسم تېرېدو ته انتظار وکړو. او چې د برسات موسم تېر شو نو دواړه فوځونه د یو بل مقابلې ته مخامخ شول. د سخت جنګ نه پس خانجهان لودي شکست وخوړو د تښتېدو اراده یې وه چې مالوه ته لاړ شي

ACKU

او دَ پنجاب په لار خپل وطن ته وُرسی. نو مُغل لښکر ورپسې وو هغهٔ ځائې په ځائې مُغل لښکر څخه داسې نه بردست جنګ وکړو چې دَ بادشاه په تحریف لیکلې شاهنامه هُم دَ هغهٔ دَ بهادرئ په ذکر نهٔ مړیږی- او دَ هغهٔ دَ پښتنو ملګو دَ شجاعت او ترتوب داد ورکوی. خان جهان لودی او دهٔ یا خان روهیله کالنجر کښې دَ سیهوندا ضلع بندا په مقام په ۱۲ جنوری ۱۶۳۱ء مُغل فوځ څخه دَ یو نهٔ بردست جنګ دورا ن شهیدان شول.

وائی چې څهٔ وخت دَ خان جهان لودی او دَ هغهٔ دَ زامنو عزیزخان او ایمل خان سرو نه په نیزو کښې او چت بادشاه له راروان وُو نو دَ شاه جهان نامه لیکونکے دَ خان جهان لودی دَ مړانې او ترتوب ذکر دَ اشعار په الفاظ کښې په دې ډول وُکړو.

ترجمه

دغه سرغو په نیزو دَ ننتونهٔ وو   غو عبرت له په هر رنګ دُ پرېښوونهٔ وو

هغه سرچې په صندل به دردېد لو   خس خستونه ګندهٔ دَکتو نهٔ وو

قېد ښېدئې قبول نکړو سرئې ورکړو   شخصیت ئې دَ معانئ دَ غونښتونهٔ وو

دَ خان جهان لودی شهادت او دَ نظام الملک والیې دکن قدرتی مرګ دَ شاه جهان دَ خوش قسمتئ باعث شول او دَ دوؤ مضبوط دُشمنانو رحلت دَ هغهٔ دَ بادشاهت دَ استحکام سبب شول. هغه په ۱۴ اپریل ۱۶۳۲ء آګرې پرېښودهٔ خوشحال دکن ته راروان شو.

---

# کمال الدین خان داوُدزیٔ

کمال الدین خان دَ شیخ رکن الدین دوهیله بخطاب شیرخان زوئی او دَشیخ عیسیٰ نمسے وو. شیخ عیسیٰ دَ داوُدزیٔ پښتو دَ کید رکلی وسیده وونکے وو. دهٔ ته شیرشاه سوري په خپل عهدِ حکومت دَ دریائی گنگا په غاړه یو کلے "بسی" او ورځخه نور وړکوټی کلی دَ جاگیر په توګه ورکړل او شیخ عیسیٰ خیل بال بچ ځخه دغلته آباد شو. دَغوري خیل داوُدزي جاگیر دار په دارِ دغلته کاني خیل مومند او داوُدزی ورسیدل. دَغوري خیل نور هم کلي آباد شول او بسی کلے وروستو په باره بستی مشهور شو چې تحصیل انوپ شهر، ضلع بلند شهر یو. پی کښې دَغوري خیلو پښتنو یو لوئی ګړه او مرکز وو.

دَ شیخ عیسیٰ شیر زامن وو. خو دَ دهٔ یو زوی رکن الدین دَ جهانگیر په زمانهٔ حکومت یو اهم مقام حاصل کړو دَ چار هزاری منصبدار او دَ شیرخان په خطاب سرفراز شو. خو دَ جهانگیر دَ بادشاهت دوران هغهٔ ځخه تر دنیا وفات کړه او دَ هغهٔ دَ سلطنت

په دوهم کال جنوري $\frac{1608}{1016}$ کښې د اوږه پنځوس کاله په عمر وفات شو د شیخ رکن الدین دریم زامن وو.

(۱) شیخ کمال الدین هشت صدي ذات پانصد سوار منصبدار

(۲) شیخ عبدالرحمان: چې د صالح نامه د مخ ۳۵۳ مطابق په ۲۰ فروري $\frac{1645}{1055}$ ء دیونزري ذات په منصب مقرر وو.

(۳) شیخ یونس.

وائي چې د شیخ رکن الدین په زمانه حیات ک داؤدزي د بړیکي دریا خان روهیله د معاش په تالاش باره بستی ته ورسید و. شیخ رکن الدین پخپل کلیوال زخت زیات مهربان شو. هغه خپله لور د دریا خان روهیله په نکاح کړه او دریا خان داؤدزي د یو پي مستقل باشنده شو.

هغه کاهو د جهانګیر بادشاه لوئ منصبدار مرتضی خان شیخ فرید بخاري او ورو ستو شهزاده خرم خخه مسلان شو. د منتخب اللباب په حواله سره دریا خان روهیله $\frac{1623}{1033}$ ء کښې ک جهانګیر شاه جهان یعنی پلار وځي په وړانه کښي ک شاه جهان طرفدار وو. شاه جهان د پتهنه نه د اوده د نبار ولبست په غرض دریا خان روهیله خپل ناظم مقرر کړے وو. شاه جهان هغه د چار هزاري ذات په منصب سرفراز کړے وو.

د خان جهان لودي او شاه جهان ترمینځ مخاصمت او منافقت دریا خان داؤدزي مجبور کړو چې د خپل پښتون ورور خان جهان لودي

په ننګ او غیرت وُد ۷ پن یی ۲۱۰ جنوری ۱۶۳۱ ء (۱۰۴۰ هـ) دوچې د کالنجر (علاقه بنډیل کهنډ) په مقام مغل سپه سالار بکرماجیت څخه د خټک دوه زره شهید شو او د هغه زوی محمد خان داؤدزی او نور خالو رسوه خلیل مومند، داؤدزی پښتنو هم د شهادت جام نوش کړو.

د خان جهالودی، دریاخان داؤدزی او د غوریاخیل پښتنو د بغاوت خبرې پېښور ته راورسېدې او نو ټول پښتانه د مغل خلاف راوپارېدل. کمال الدین داؤدزی دغه موده پېښور کښې موجود وو. د صالح نامې مطابق سره هغه د خواؤشا علاقو پښتانه راغونډ کړل اتک نه تر پېښوره پښتانه رابورته شول. پېښور کښې ئې د بغاوت جنډه پورته کړه. سعید خان په دېوتېزه کوهات نه پېښور ته راورسېد و. خو کمال الدین هم بې خبر نه وو هغه عبدالقادر ولد احداد او کریم داد ولد جلاله او محمد زمان ولد پیرداد څخه رابطه قایم کړه. دوئ د نوښ نغر نیراه. بنګش بالا و پائین ختک. چاوې او توري پښتانه راغونډ کړل او پېښور ښار نه او وه میله بهر نه د یولم ګذر (بلم ګودر) په مقام کمال الدین ته راورسېدل. کمال الدین هم دغه وخت د پېښور خواؤشا د هشنغر محمدزی ګګیانی. خلیل مومند داؤدزی او ترکلانی وغیره قبائل راغونډ کړی وُو. د یولم ګذر نه ټول پښتانه پېښور ته راورسېدل او د پېښور قلعه نه د نهې په ورځ ګېرچاپېر تاؤشول او قلعه یې محاصره کړه.

سعید خان. شمشیر خان. شکرالله ولد شکر خان. د دلاور خان

نا منو وغیره غوښتل چې قلعه نه بهر ووځي او د پښتنو مقابله وکړي خو بیا فیصله وشوه چې قلعه کښې بند خپل حفاظت کول مناسب دي.

د اکثر مؤرخینو وینا ده چې:

پښتانه په میدان کې داسې جنګ ونه کړه او بهادر دي چې فیصله یې ورځ دوه کښې کېدونکې وي. خو جنګ چې اوږد شي نو د دوی حوصلې پست شي بې صبره شي او تر رو نه بایلي.»

دغه مؤرخین وائي:

«که د پښتنو د ډومبنو دوه درې ورځو د جنګ د جوش وتاؤ مقابله چا وکړه او نا رتېرې وونه تېښتېدل نو پښتانه په ځلورمه ورځ مجمله میدان پرېږدي[۱]»

د قاضي عطاالله مرحوم د دې بیان مطابق هم دغسې وشوه. څو ورځې تېرې نه وې چې د پښتنو لښکر کښې انتشار او بې اتفاقي پیدا شوه. سعید خان مغل خواجه ارغو تکړه ملکر وځنه قلعه نه را بهر شو. او د نیریه تېزي او چابکۍ سته یې د پښتنو په یوه ډله حمله وکړه. د پښتنو د بې نظم وبې ترتیب لښکر دغه ډلې پښې وښوېدلې او وتښتېدل. د پښتنو ن لښکر نور ډېر کم کسان چې قلعه نه بهر یو څوا ته لرې پراته وو. هغوی ته د مغل فوځ قلعه نه د بهر راوتو او حملې هېڅ پته و نه لګېده. مغل فوځ په دغه ناخبره لښکر حمله وکړه او چې هغوی مقابلې ته سمېدل نو مغل

[۱] د پښتنو تاریخ جلد اول ص۱۱۱

فوځ تري د بکسان وژلي وو. د پښتون لښکر پښې وښوېدلې او مېدان نه په تېښته لاړل[1]»

د پېښور د دې جنګ په نتيجه مغل لښکر د غوري خېل پښتون قبائل کلي لوټ تالان کړل او ډېر کوروونه يې وسوزول.

د پېښور د جنګ دا واقعه جولائي ۱۶۳۰ع / ذوالحجه ۱۰۳۹ه کښې شوېده صالح نامه ليکي: چې «هرکله خان جهان لودي هراړخ نه د مغل فوځ په کېره کښې وو نو هغهٔ د شام وپېغام په ذريعه د کوهستان پښتانهٔ راوپارول چې بغاوت وکړي. هغهٔ کمال الدين بن رکن الدين روهيله ته يو خط وليکهٔ هغهٔ پښتانهٔ راغونډ کړل او فتنه فساد يې شروع کړو.

سعيد خان دغه وخت کوهاټ کښې وو. د لښکرخان د يو ملازم داؤد او د شمشېرخان د خطونو په ذريعه هغهٔ ته د بغاوت پته ولګېده او ورته معلومه شوه چې کمال الدين اټک نه ترکابل تول پښتانهٔ راپارولي دي او خيال يې دے چې پېښور کښې د بغاوت خېره پورته کړي. سعيد خان د دې خبرې او رېده وکوهاټ نه پېښور پلو روان شو. د شاهي سپاهيانو په صلاح يې کمال الدين ته د نصيحت نه ډک يو خط وليږلو او هغه يې د خپل حرکات د نتائج نه خبر کړو. خو هغهٔ د سعيد خان نصيحت ونهٔ منلو. قبائلي سرداران خصوصاً عبدالقادر

---

[1] صالح نامه ص۳۷۰

ولد احداد، کریم داد پسر حبلاله او محمدزمان ولد پیرداد یې په بغاوت اماده او تیار کړل. د بنو تخو تیراه، بنگش بالا، بنگش پاڼين پښتانهٔ او تمول ختک، چاوچي او توری قبائل پېښور ته اووهٔ میله لرې د یولم گذر په مقام کمال الدین خخه یوځای شول.[1]

د صالح نامې په حواله شیخ کمال الدین د پښتنو نادر یاست غوښتل او ځان یې د پښتنو مشر جوړول غوښتل.

ملاعبدالحمید لاهوری لیکی:

"در یولم گذر که هفت کروه پشاور است به کمال الدین ناقص خرد پیوست تا رسیدن وکال شقاوت مآل نیز الوسات پشاور وا شنغر و محمد زی گگیانی و خلیل و مهمند و داؤد زی و یوسف زی و ترکلانی و غرابیان را به مواعید کاذبه واقاویل باطله اغوا برده گرد آورده بود."[2]

ترجمه: له پېښوره د اووه کروه په مزل یولم گذر کښې یا پوهه کمال الدین خخه (عبدالقادر ځوی) یوځای شو او د هغهٔ تر رارسېدو، بد بخته کمال هم د پېښور او شنغر الوسو نه مهمندزي، گگیانی خلیل مومند، داؤدزی، یوسفزی، ترکلانی اویونه له دروغو هم (دغه) دوه د فریب وعدو او بیا د کاواوطو نو پلاری کری او را تیول کری ووه"

---

[1] عمل صالح جلد اول ص ۳۴۶. [2] ۳۰-۱۶۴۲ (؟) دوست محمد کامل ص ۸۲. نوریه ص ۱۹۳

خافي خان ليکي:

« خان جهان لودي چې د پښتنو قبيلو سردارانو په نوم د ښاد نه ډک خطونه ولېږل او هغوئ ته ورسېدل. نوخيلي، مومندي. داؤدزي، يوسفزي لودي او روهيلي لښکرې نه يکه د مېړو، ملخانو راووتل. پېښور او خواؤ شا علاقو کښې يې لوټ تالان آغاز کړو. د پېښور قلعه د نيوۀ کوشش يې وکړو. بادشاهي کسان د دوئ په مقابله کښې بې بس شول. مجبوراً قلعه بند شول خو چې پرتنګ شول نو په دوئ راپرېوتل او دوئ نه يې په سپين ميدان شکست ورکړو او د پرېشانۀ يې وونړل.»

---

پاتې حاشيه له صفحه ۱۹۲ نه:

۱۶۳۰ء کښې پښتون قوم څخه د غدارۍ او دوکې په نتيجه کښې کۀ يو خوا عبدالقادرخان بن احداد بن شيخ عمر بن پير روشان د مغل حکومت منصبدار شونو بل خوا محمد زمان بن پيرداد بن کمال الدين بن پير روشان هم د دغه غدارۍ په عوض منصبدار شو او دکن کښې سيد خان بن جلال الدين بن پير روشان څخه په ملازمت مامور شو. خو دوه ورو سرو نجر کښې وفات شو او د وصيت مطابق د هغۀ لاش يو کال پس کوتله محسن خان پېښور کښې د عبدالقادرخان په خوا کښې ښخ شو.

"خانجہان لودی شمال مغربی سرحد اور افغانستان کے افغانوں سے
خط وکتابت کر رہا تھا۔ اسے کچھ حد تک کامیابی ہوئی
کیونکہ خلیل مہمند، داؤدزئی، یوسفزئی، لودی اور
روہیلہ قبیلوں نے جو اُس وقت مذہبی جنون میں دیوانے
ہو رہے تھے، سرحد عبور کر کے پشاور پر حملہ کردیا"

(سلطنت مغلیہ کا عروج و زوال از میاں محمد شفیع ص ۲۲۰)

د حالنامې لیکونکے علی محمد بن ابابکر قندهاری لیکی:

"او کوم وخت یې چې صاحب خان په دغه لور رخصت کړو نو د غوریاخیل اولس سرداران کمال الدین داؤدزی وغیره هم دغه وخت د عبدالقادر جیو خدمت ته ورغلل او عرض یې وکړو چې ټول غوریاخیل اولس ستاسو ملګرتیا اختیار کړې ده او محمدزی اولس هم د دغه کهالۀ نیکخواه دی. مونږ څخه نې وسواسه را دروځی انشاالله د پېښور کوټ اخستے تاسو لره به یې درکړو. نو قسم اقرار یې سره وکړو. عبدالقادر جیو د کوهستان د عالمو سنګر ورسره د پېښور ملک ته راغے او عمرخان محمدزی چې د پیرو دستګیر د کهالۀ له صادقو مریدانو څخه یو وو. د کار ځوانان ورسره له اشنغره راغلل د عبدالقادر جیو د ملازمت شرف یې دا لوداوغوریاخیل عالمو هم سنګر راټول کړو او عبدالقادر جیو سره یوځای شول

او له هغه ځایه د پېښور په کوټ ور غلل شاه یې تالاکړو او میرک سعید خان قلعه ته راغلو. د جنګ سامان یې تیار کړو او قلعه یې مضبوطه کړه او د غوریاخېل د لښکر اکثر کسان په تالان اخته شول. د عبد القادر لښکر ور غلو په کوټ ولګېدل نو له ورځ یې جنګ وکړو. د شپې یې د کوټ په خوا کښې ډېره ونیوله. د پوړ پسانګو نو بند وبست یې وکړو. په دغه لښکر کښې د جلال الدین نومې کر بېمد ادهم ... د آفریدو او ورکزو ځینې کسان چې د دوی سره خوا وو. ور غلل او کریمداد ته یې ووې چې غوریاخېل عالم همېشه راسې د مغلو خیرخواه دی. مونږ یې په مکر وفریب له غرهٔ راکوز کړو کوند یې بیا خپلې مجرې له ره مغل ته ځکړې او ورسره ملګرې اوېو شی. غو مونږ نه لرې پیاتې دے. او په هم له مونږه پرې نه بندی. چې تر غرهٔ نه وندی ورسېږی. او داچې هغوئ ووېل چې په درنګ ساعت کښې به د پېښور کوټ واخلو. نن د کوټ خوا ته ور نغلل او بنکاره ده چې صبا به څهٔ کوی - عبد القادر کم عمره دے. دوست دشمن نهٔ پېژنی. صبا ته تا سو ستانهٔ شئ ...... آخر کریمداد جېټوې وغلولو او په دغه کار یې رضا کړو. سمر وختی چې د لښکر عالم پوړ پسانګو ورسره په قلعه ولګېدل. او عمر خان مهمند نے د کوټ تورهٔ نه ورسېد و نو په دامېنځ ځوک ور غلو او عبد القادر ته یې

ووې چې کریمداد جیو د کوهستان عالم ورسره جاروتلی
روان دی. عبدالقادر جیو خپل اس دا اړولی کریمداد جیو لره
ورغی او درېشانئ ووېل چې ماما چرته ځې. یو ساعت ودرېږه
انشاالله سمدستی به قلعه ونیسو. هرڅو که یې منت زاری
وکړه. قبول نه شوه. ورته یې ووېل چې ته کم عمره یې
دوست دښمن نه پېژنې. غوریاخېل ستا دښمنان دي او ته د ښمنی
په وینا باور کوې. دا یې ووېل او روان شو. عبدالقادر جیو
لاعلاج شو او هغوئ یې روان شو چې کمال خان له دغه پېښې
خبر شو نو آس یې را غلی عبدالقادر ته ورسېده. ورو
یې ووېل «دا دی کوټ مواچستی دی چرته ځې. عبدالقادر
ووېل چې زه څه وکړم ماما.........کریم داد نه ودرېږي
تاسو ورشئ هغه را وګرځوئ زه څپله....... آخر کمال خان
ورغی کریمداد ته یې ووېل تاسو د خپل لښکر سره دلته
دلاره وسئ. په کړي دوه کېنې موکوټ واخېست تاسو راشئ
او په کوټ کې کېنئ. که مو وانه خېست نو بیا له دغه ځایه
لاړ شئ.

که هرڅو یې په دغه باب زور ولګاوه خو هغه ونه
منل. آخر کمال خان ناچار شو او د هغوئ ملګرتیا یې اختیار
کړه. عمرخان لګیا وو جنګېدلو. هغه د عبدالقادر له
جاره تلو خبر نه وو. هر کله چې غوریاخېل عالم په نورو

ACKU

د دوانړو پورې په جنګ نیکا وو. او د عبدالقادر له چاره ونلو
خبر شول. مور چې یې پر سبوړلې او د تېښتې په لار یې مخ
کړو. هرکله چې سعید خان خبر شو چې پښتانه د تېښتې په لار
سر شول. دردانه په ارانستې مقابلې لره یې راوتلو هرکله
چې نورعالم تښتېدلی وو. عمرخان د ورځ په سر ولاړ وو. ځکه
لره یې ورغی ............ د پر ساعت یې فوځ ایسار
کړې وو ............ عمرخان سره د ملکي و هم هوري
شهید شو او سعید خان ستړی شوی په کوټ ننوتو او کرد
غوریاخېل میدانی ملک یې پرېښي د غرۀ لمنې ونه راغلل "له
ـه تمام غوری خیل به اهل و عیال ملک میدان راګذاشته
در دامن کوه فرود آمدند رحمانامه ص۶۳۲)

محمد افضل خان لیکي:

" د پښتنو او مغل ترمینځ دې جنګ کښې ټول پښتانه
متحد وو. او د ټولو په یو اتفاق جرګه او مرکه وه
خو یو شهباز خان وو. چې د مغل په مرسته او ملګرتیا
وو. هرکله چې پښتانه په مغلو غالب شول او هغوئ
یې د پېښور په قلعه ور دننه کړل. او ډېر په تکلیف
او تنګسیا شول نو شهباز خان د ډېرې ویرې نه د اټک

---

له ۱۶۳۰ء از دوست محمد کامل ص۲۷.

په لوړ ټوان شو او چې خېبر آباد ته ورسېد و نو
دغلته د ویړې نه پښتنو ورځې یسار شو. په دې
ورځ خبر راغلو چې پښتنو ماتې وخوړه او مغل بریالی
شول. نوشهباز خان بیا واپس سرای آکوړې ته
راغلو او د مغلو اعتبار او اعتماد پرې نور هم زیات شو"

د مغل خلاف د ۱۶۳۰ء دې تحریک کښې ټولو پښتنو په یو اتفاق
برخه اخیستې وه. دا تحریک که هر څو د ځینې ناعاقبت اندیش
او خود غرض کسانو د لاسه ناکام شو. ولې دې اتفاق د پېر
زر د ابهل خان مومند تخت یو بل تحریک ته جنم ورکړو او دغه
سیاسي تحریک مغل حکومت کانې موده پریشان وساته. د ۱۶۳۰ء
دې تحریک کښې ټول پښتانه شامل وو. البته د پېښور ارباب ان
شهباز خان ختک او ملک تور د مغل حکومت مرستیال وو. د دې
تحریک روح روان کمال الدین داؤدزی وو.

دوست محمد خان مرحوم لیکی :

"شیخ کمال الدین داؤدزی د پېر اُهم کردار او
اوچت مقام خپلستی دی. د ده د خروج په وخت
خوشحال ختک د اتلسو کالو ځلمی وو. د شاجهان
د عهد په ۱۶۳۰ء / ۱۰۴۰ھ کښې پښتنو ډېر د معاصره سوو حکومت

---

[1] تاریخ مرصع ص ۵۸۶.

مسکرې څوک ایټک ته وتښتېدل او هلته یې قلعې کښې
پناه واخیسته او څوک د پېښور قلعه کښې پټ شول.
څوک عبدالقادر روښاني غلط ناکاره کردار او ویرې
وهم یا غدارۍ د پښتنو د ناکامۍ او شکست اسباب
وګرځېدل.
بُزدل عبدالقادر د جلاد او جرې پلار او حداد نه ئي
وو. د الائي غوندې قابلې او ننګیالې مور او د
حبلاله غوندې مردِمېدان د لور نه وې وو. د
هغه جلال نسب ووچې هیڅکله په ماتومات نه وو.
او هرکله یې اکرانو سختو ته هرکلي وې او بې سرو
سامانه کښې یې د لوئې سازو سامان او لوئې لښکر
څښتن د هندوستان شهنشاه اکبر ته نابرسته
سر وردی درپیشه کړې وو[1]
د پېښور د شکست نه وروستو مونږ ته د شیخ کمال الدین داوزي
د انجام هیڅ پته نه لږي چې هغوئ کوم ځائې د ګمنامۍ ژوند تېر کړو
چرته وفات شول او دغه لوئې مردِمجاهد چرته ښخ شو.
د شیخ کمال الدین ننګیال تحریک که هرڅو ناکام شو.
او هغه خپل مقصد او مرام حاصل نکړو. ولې د آزادۍ مینو د

---

[1] تاریخ مرصع دیباچه صک

ACKU

آزادی ته دغه بل مثال رونبانه وُساته او دَ آزادی دَجوش وجذبې دغه تحریک یې دَ راتلونکی نسل په زړګ وینه کښې جاری پرېښو دو۔

دَ خوشحال خان خټک پلار شهباز خان یا دَ مُغل وفادار دَ خیل مومند ځینې ا ۱ بابان کهٔ دَ پښتون قبائل په دې لوئې اتحاد کښې شامل نهٔ وو۔ نو دَ دې مطلب دا نهٔ شوچې دَ دوئ په وجه دَ خټک یا خیل مومند عام خلق هُم دَ مُغل وفادار وو۔ حقیقت دادے چې عام خټک په دې تحریک کښې شامل وُو او دَ دوئ لښکر دَ هزارخوانی په مقام خیل مومند ځخه پراؤ اوراغونډ وُو۔

ACKU

# دَمُغل غلطِ الزامات

دَ جهانګير دَ وفات په وخت ظفرخان ولد خواجه ابوالحسن دَکابل صوبيدار وو. هغه چې دَ بادشاه دَ مرګ نه خبر شو نو پېښور ته راغلو. خو دلته خبر راورسيد وچې دَ ماوراالنهراو بلخ بادشاه نذر محمدخان کابل محاصره کړو هغه کابل پلو ستون شو. نو پښتنو پرې حمله وکړه. ډېر خلق يې مړه شول او مال واسباب يې لوټ شو. شاه جهان چې دې واقعات نه خبر شو نو دَ ظفرخان په ځائې يې معتقد خان بخطاب لښکرخان دَکابل صوبيدار مقرر کړو.

لښکرخان دَ شاه جهان په لوريو عرضداشت وليږلو او وې ليکل چې دَ شپږاه علاقې ديارلس غلط پښتانه بالخصوص غوريا خېل قبائل چې دَ بوجاهل سړي بايزيد بدنصيبه مريدان دي او هغه نه يزدان شناس واځي دَ هغه په پېر وې کښې دَ نبي الامي نه يو خوا ته دَ ګمراهۍ په کنده کښې ور پرېوتي دي. دَ شريعت په احکامو عمل نه کوي. دَ جهالت په وجه دَ دين ودُنيا دارومدار په

باطل عقائد گڼي چې حرام خوري، الهاد. او د جهالت عقيدې ته ښځه سون خوري.

دې عقيدو او رسمونو کښې يوه دا ده چې نکاح نه بغير هم سړے ښځه ساتلے شي او هيڅ د ايجاب وقبول ضرورت نهٔ گڼي. کونډه ښځه د خاوند د وراثت نه محرومه ساتي. او د چا په کورکښې چې نارينه اولاد وُشي نو د خرخوښي رانږه بکړي او د هغې وينه د ماشوم تر خولې کړي. ځکه چې هغه لوئې شي نو خونخواره او خرتوب کښې چې مکمل او پوُره وي. مسافران لاره کښې ته رانيسي او د هغوئي خريد و فروخت او غلامي جائز گڼي. وراثت کښې د زامنو خو گڼي او لونه ترې محروم ساتي. د خونخوارئ يې دا حال دے چې په کومه قبيله يې وُس برشي. تباه وبربادي يې کړي. د بېوتوفئ يې دا حال دے چې سړي نه مال و دولت هم واخلي او قتل يې هم کړي او دغه په خپل لاس قتل کړي سړي ته شهيد وائي ځکه چې د قيامت په ورځ به موُنډ نه د خپل مال د واپسۍ مطالبه نهٔ کوي.

وائي چې شاهجهان د معتقد خان بخطاب لشکرخان دغه خط ولوستونو دا يې جاري کړو چې لشکرخان او د کابل صوبې ښځه منسلک نورسرکارکسانو مخې ښځه دغه گرهانونه سزا ورکړي چې د شريعت او عقل خلاف کارونه کوي او دوئ دې دغه کارونو نه منع کړي او دوئ د شريعت مطابق کوي. ودهي او يا دې قتل کړي چنانچه د بادشاه د حکم مطابق په لږ موده کښې دغه بد عتونه او خرافات ختم شول. او کارونه د دين محمدي مطابق شول او د اسلامي شريعت رواج عام شو"

ے صالح نامه جلد اول ص۳۳۲ تا ۳۳۶

# د بیجاپور مومند حاکمان

د بیجاپور (دکن) د پښتون نسل د حاکمانو نوموړو څخه د میاں، میارنه، مایو او میانه الفاظو استعمال مؤرخینو د تذبذب او پرېشانۍ ښکار کړي دي او هندي لیکوال دې نوم څخه په هر موقعه دوکه او تېروتنه کې لوري. د بیجاپور د پښتون نسل داکورنۍ خو پرېږده چې د فرخ سیر په زمانه د عیسیٰ خان نوم څخه هم د میاں، میانه الفاظ استعمال دي. د هند مؤرخینو او لیکوال د پښتنو د دې قبیلې نوم په عجیب انداز او طرز تحریر کوي. حقیقت دا دی چې د پښتنو په سیمه د میانه، میارنه قبیله نه اول موجوده او نه اوس شته خو د هندي او خصوصاً د مغل مؤرخینو تحریرات څخه د مومند په مختلف اشکال لیکل راتلونکي لیکوال مشکلات څخه مخامخ کړل او د جهانګیر په زمانه چې نعمت الله هروي د خان جهان لودي په اسرار او هدایت کوم مخزن افغاني لیکلۀ نو هغۀ میانه، میارنه مومند نه جدا ایل قبائل تصوّر کړل او میانه د

شیرانی- ترین- بړیڅ- ادمړ ورور اود شرخبون بن سړه بن بن قیس عبدالرشید نه وئي بیان شو او د نعمت الله هروي په تتبع اوسپړ وي هر موؤرخ دوئ یو ځیا پښتون قبیله ظاهرکړ.

ذاتي خیال لرم چي د میانه، میارنه پښتون قبیلي خپل بیل حیثیت نشته. بلکه میانه او میارنه، مایو، میین. مو نځ وغیره الفاظ موسمن میدل اشکال دي او د بیجاپور دغه پښتون خاندان موسمند وو. شجره نویسانو چي د دغه تحقیق نه دوئ نور پښتون قبائل نخښه ته او حساب کړل او د میانه کي شمېر اولاد غوري- توزي- ملهي، سلاح- جوت. اسکون- لورني- رهواني نوع جعفري- سوت او غرشین بیان شول. عن چي د هغه یو نه ونيا غرشين د مختلف قسم اسا نوي تیصومرکز شو.

" غرشین د میارنه قبیلي یو شاخ دے. میارنه د سیّد کونړه غرشین نومي یو هلک په نه دنې ونیوو. غرشین چي لوئي شولو میارنه قبیله کیني یې واده وکړو او د ده اولاد په غرشین مشهور شول. دوئ خپل ځان مذهب او پرهیزګاري ته وقف کړو- حئینې خلق د غرشین نوم د یو پیر بزرګ د عا څخه پیوست کوي چي د پیرو کارو او مرید انو په زخت نهایات اسرار د هغه په دعا یو خشک بنجر غرشین خپرازه شو. داسې چي د ده په اولادکښې د سلطان غیاث الدین بلبن په زمانه مشهور بزرګ پارسا ملک یار پوران وو- د میارنه قبیلي کسان چي هندوستان پلاټلل نو

دوئ ښځه غرشين هم شامل وو. د شېرشاه سوري په زمانه
صدرخان غرشين د ملوک څوجه ار وو. د غرشين ځينې کسان
اوس د اټک پېښور په لاره پرتهان نه څلور ميله جنوب مغرب
پلو غرشين کلي کښې استوګن دي. او اوچ بهاولپور کښې هم
غرشين وسي." [1]

---

[1] NOTES Notes on Afghanistan and Baluchistan by Raverty

page-516

# بهلول خان میارنه

د هندوستان په سیمه د بابر د راناسانګا خلاف مهم کښې عمدة الاعیان نظام خان میارنه هم شامل وو. د شیرشاه سوري په زمانه سکندرخان میارنه د ستوانز او هادیه حکمران وو. خو هغه د شیرشاه سوري اطاعت نه منولو ۱۵۳۸ع / ۹۴۵ھ کښې شیرشاه سوري د ده خلاف فوج کشي وکړه سکندرخان میارنه ګرفتار شو. د ده ورور ناصرخان میارنه کوشش وکړو. چې د ګرفتار ورور په بدل د مالوه ګورنر شجاعت خان ونیسي او ځان څخه یې بوتنګا وساتي. خو هغه خپل مقصد کښې ناکام شو. ۱۵۴۳ع / ۹۵۰ھ کښې علیم خان میارنه میرټه کښې بغاوت وکړو. خو د سرهند سوري ګورنر یې شکست ورکړو او قتل شو.

سوري خاندان څخه د تربګنۍ او تربورلۍ په اساس د میارنه قبیلې اکثر کسان د هندوستان جنوب پلو لاړل. دکن ته ورسېدل او دغلته د بیجاپور حاکمانو څخه ملازمان شول.

نو د ځینې مؤرخینو مطابق میارنه دې نه هم آګاه و د اسماعیل

ACKU

عادل شاه (۱۵۱۰ء تا ۱۵۳۴ء) په زمانه حکومت د بیجاپور انتهائی جنوب پلو ښکاپور او ښکاپور نه شپږ میله لرې شاه نور (سانور) کښې د سپه ډل د دوئ مشر جان خان وو چې د خپل لوړ دنګ ډیو قامت شکل صورت په وجه د دکن خلقو ده ته بهلول یا کالا پهاړ (تور غر) وې. د سلطان ابراهیم عادل شاه (بیجاپور) او حسین نظام الملک (والیې احمدنګر) ترمینځ د جنګ دوران کښې شهید شو. د هغه یو زوئ عزیز میان بخطاب فتح لشکر خان او دویم عبدالنبی خان بخطاب رن مست خان وو او د میارنه خاندان سلسله د عبدالنبی خان رن مست خان نه شروع شوه چې د کرناټک مشهور و معروف پښتون خاندان او حاکمان وو.

په هرحال سکندر خان میارنه د یو کال قید و بند نه پس آزاد شو. او اسلام شاه سوری خپل خاص منصبدار مقرر کړو. د سوریانو د اقتدار په اختتام که اکبر هر څو د پښتنو مخالف او دشمن وو. خو حسن خان میارنه د هغه په حکومت کښې تخلوصدی منصبدار وو. د جهانګیر په زمانه حکومت د حسن خان زوئ بهلول خان میارنه د خاص رتبې او منصب خاوند وو.

جهانګیر لیکي:

"۱۰۲۶ھ/۱۶۱۷ء کښې بهلول میانه د کوند (والد) زدکن) ته راغلو. کوم ځائې چې دے مقرر وو. زما په دربار کښې یې د حاضرۍ عزت حاصل کړو. بهلول خان د حسن خان میانه زوئ دے او میانه د

پښتنو د یو قبیلې نوم دے. حسن خان په ابتداء کښې د صادق خان نوکر وو. خو چونکه دے د آداب شاهي نه واقف وو. نو په دې اساس د شاهي ملازمانو په ټولی کښې شامل شو. دے (حسن خان) د دکن په مهم کښې وفات شو. د ده اته زامن وو. خو د ده دوه زامن شاهي منصب ته ورسېدل. ځکه چې دغه دواړه د تشمیر زنه په فن پوهې وو. دې دواړو کښې مشر ډور په ځوانۍ وفات شو. او بهلول ورو، ورو هزاري منصب ته ترقي بیا موندلې. په کوم زمانه چې شهزاده خرم برهان پور ته ورسېد و نو هغه دے د یونیم زري په منصب مقرر کړو. چونکه دے کله هم زما خدمت کښې حاضر شوے نه وو او د ده زما د لید و ډېر شوق وو. دې د پاره ما دے په خپل حضور کښې راوغوښتو. دې کښې هیڅ شک نشته چې دے یو بهترین خانزاده دے او لکه چې دے په باطن د بهادرۍ د ښائست نه آراسته دے دغسې د شکل و صورت په اعتبار هم ښه ښکلے دے. پس چې شهزاده شاه جهان ده د پاره کوم منصب تجویز کړے دے. ما هغه په سفارش ده ته ورکړو. او ده ته مې د سربلند خان خطاب ورکړو او ورته مې آس. علم. خلعت او هاتي هم ورکړو"[1]

۲، مسی ۱۶۲۱ء دوچې د جهانګیر له اړخه شهزاده خرم کا حمدنګر

---

[1] تزک جهانګیري جلد اول ص ۶۱۶، ۶۱۸، ۶۲۳.

دَ قلعه کښې چې پرېښي تا في مقرر کړي. بهلول خان میانه بخطاب سربلند خان دې ځای ته ره سوره څخه دَ جالنا پور په مقام مقرر روو[۱]

دَ جهانګیر بادشاه دَ وفات نه وروسته دَ شاه جهان په زمانهٔ حکومت دَ خان جهان لودی فرار او بغاوت دَ بهلول خان میانه تعلقات هم مُغل څخه خراب کړل او دَ خان جهان لودی په زوال او شهادت دکن ته وُرسېدو او دَ بیجاپور دَ حاکم ملازم شو شاه جهان نامه لیکي:

"هم دغه موده (دَ خان جهان لودی دَ بغاوت په وخت) سکندر خان دوتانی او بهلول میانه هم شاهي ملازمت نه منکرف شول. او دَ خان جهان مرسته یې اختیار کړه. تفصیل دا دے چې دا بد طینته بهلول همیشه په دې فکر کېښې دو چې څوک به بخت پیدا کړي او دَ دغهٔ ملکر تیا کښې فتنه، فساد، او شوب او شورش را ولاړ کړي دا ته چې دَ خان جهان دَ نظام الملک څخه دَ دوستۍ خبر وُرسېدو لودغه وخت دے په نیل جاګیر بالا پور کښې دَ چار هزاري په منصب مقرر وو. دَ موقع نه یې فائده واخسته وتښېدو او دولت آباد کښې یې خان جهان لودی څخه لید ل کتل وُکړل.

خان جهان لودی څخه دغه وخت دریا خان، مقرب خان او بهلول میانه وُو. او دد ئی څخه دولس[۲] زره پښتون نښکر وو.

---

[۱] عمل صالح ص ۱۴۸

مئی ۳۰، ۱۶۲۹ء کښې د وئی د اعظم خان تحت پولوئې مُغل لښکرته شکست ورکړو او امان قلی ولد بسپارخان۔ رحمت الله ولد شجاعت خان عرب قتل شول[۱]

د خان جهان لودی او دریاخان داوُدزی د شهادت نه وروستو بهلول خان میانه والیِ بیجاپور عادل شاه ملازمت اختیار کړو او په پولویه عهده او منصب مقرر شو۔

شاه جهان د بیجاپور خلاف فوج کشی کښې مزید اضافه وُکړه او د شهزاده اورنګ زیب تحت د بیجاپور خلاف اعظم خان پولوئې سپه سالار په دغه مُهم مقرر شو۔

د کلیان قلعه د محاصرې په وخت کښې یو اړخ د مُغل لښکر د هراول دستې مشر دلیرخان داوُدزی وو او بل اړخ د بیجاپور د فوځ د هراول دستې مشر د بهلول خان میانه زوئې وو په دې معرکه کښې دلیرخان داوُدزی په ناره پوش بدن سخت کوزا رونه وُخوړل۔ خو د زغرې په وجه زخمی نهٔ شو۔[۲]

د بیجاپور والی عادل خان او د هغهٔ سپه سالار انو بهلول خان میانه۔ رندولها خان او سرفراز خان د اورنګ زیب د حملو برسټ مزاحمت وکړو۔ د یو جنګ دوران د مُغل سپه سالاران بهادرخان داوُدزی او یوسف خان په زخمی حالت کښې ګرفتار شول۔

---

۱ عمل صالح ص ۳۲۷، ۳۸۸   ۲ مآثرالامراء جلد دوم ص ۱۲

شېر و شهباز داؤدزي او دَ هغهٔ زوئې قتل شو[ل]. رشید خان انصاري ر روښنائي. تا (یکی) زخمي شو او مېدان نه وتښتېدو.[له]

دَ بهلول خان میانه ذکر تاریخ مرصع داسې راوړي -

« دغه امرایا تو خان جهان لودي ته وُوېل چې مونږ ستا په سبب دَ شاه جهان نوکري پرېښوده او س ځٔ چې دکن ته لاړ شو او هلته نوکري اختیار کړو. خودهٔ ورته ووېل چې دَ بل بادشاه نوکري هُم نهٔ اختیار رُوم. ما اوس په کونبه کښې پرېږدئ. اکثر امرایان له دهٔ نا اُمید شول. بېځېل روزګار مستغرق شول. بهلول بیجاپور ته لاړ شهٔ. عمده نوکري یې وُشوه. تمام صاحب مدار صاحب اختیار دَ هغه بادشاه شو. تر دغه وخته چې اورنګ زیب بادشاه وزغے. بیجاپور یې فتح کړو. خدمتونه او ترددونه یې دَ دغه پښتنو چې بیجاپور کښې وو. مشاهده او معاینه کړل پس له هغه چې سکندر عادل شاه اورنګ زیب سره نوکر شو. بیجاپور یې ورکړو. دوئ هم نوکران شول. دَ بهلول زوئې تمسي پښت په پښتې به راتلهٔ. بهلول په بالمهٔ شهٔ. خطاب له بادشاه هُم دا وو. بهلول ته یې هفت هزاري منصب ورکړو. میان خان چې دَ بهلول له قبیلې وو. پانج هزاري شو. نوره قبیله یې هُم په دا موافق سر فراز کړه.

---

له عملِ صالح ص۲۱۱

پس دَ عالمګیر له مرګه چې بهادر شاه دَ اعظم شاه له مرګه فارغ شو دَ دکن ته ورغلو........ یل حسن خان وو چې په غوریاخیل مومند دَ پېښور وو. پانځ هزاري شو. چارهزاري عبدالنبي خان دَ حسن خان ورور شو.[1]

---

[1] تاریخ مرصع ص۲۱۳

# سردار عبدالکریم خان میانه

د بهلول میانه د وفات نه پس د هغه د دوه زامن عبدالرحیم او عبدالقادر وو. د عبدالرحیم خان د وفات نه پس د هغه زوی عبدالکریم خان د خپل نیکه په نوم د بهلول خان میانه په خطاب سرفراز شو. دغه زمانه د بیجاپور حکمران یو ورکوټی هلک سکندر عادل خان وو. په دې وجه د عبدالکریم خان ډېر زیات اهمیت او اثر وو.

مآثرالامرا لیکي:

"۱۶۶۶ع / ۱۰۷۶ھ کښې چې مرزا راجه جے سنگھ د بیجاپور په تباهۍ مقرر شو نو عبدالکریم خان یې زبردست مزاحمت وکړو.

۱۶۷۴ع / ۱۰۸۴ھ کښې چې د دکن مغل ناظم خانجهان بهادر کوکلتاش وو او د سکندر عادل شاه مدارِکل خواص خان حبشي وو نو د مغل ناظم خانجهان کوکلتاش او خواص خان حبشي ترمینځ تعلقات د دریا سېي. بهرحال د معاهدې مطابق سم شول او د خواص خان لور د کوکلتاش خان زوی نصیری خان ته کوژده شوه. چونکه د

بهلول خان، خواص خان ته په زړه کښې کينه او بغض وو. نو هغه يې د غضنفر خان په ذريعه گرفتار کړو. او د دې نه پس د بيجاپور په سيمه د عبدالکريم خان دور شروع شو. د دکنيانو او پښتنو ترمينځ دشمنۍ نيغ په نيغه شوه. او خبره جنګ ته ورسېده. د خواص خان حبشي د گرفتارۍ خبر چې اورنګزيب ته ورسېدو نو هغه د کوکلتاش تحت يو لوی مغل لښکر د بهلول خان مخالفانه مقرر کړو. د کوکلتاش او بهلول ترمينځ کافي جنګونه وشول خو ۱۶۷۶ع/۱۰۸۷هـ کښې کوکلتاش دهلي ته واپس لاړو او د هغه په ځای د دکن ناظم دلېر خان داؤدزی مقرر شو. چونکه دوی دواړو يو قوم قبيلې (داؤدزي او مومند، غورياخېل) سره تعلق لرلو. نو دواړه خپلو کښې يو شول او په حيدرآباد ور غلل او هغه دکنيانو سره يې جنګ وشو چې د حيدرآباد د حاکم له اړخه راغلي وو. خو په دې دوران کښې بهلول خان سخت بيمار شو او په حق ورسېدو.ل"

---

ل مآثر الأمرا جلد دوم ص ۵۴، ۶۱

# دلیرخان عبدالرؤف میانه

دَ سردار عبدالکریم خان بهلول خان میانه دَ وفات نه پس دَ هغهٔ زوئ عبدالرؤف میانه دَ بیجاپور سردار مقرر شو دَ مآثرالامرا مطابق؛

په ۱۶۸۵ ع / ۱۰۹۶ هـ کښې چې اورنګ زیب بیجاپور محاصره کړو نو سکندر عادل شاه مجبوراً دَ اورنګ زیب خدمت کښې حاضر شو هغهٔ سره عبدالرؤف خان میانه هم وو. عبدالرؤف میانه دَ شپږ زرګی ذات او شپږ زری سوار په منصب مقرر شو او دلیرخان خطاب یې بیا موند. په ۱۷۰۳ ع / ۱۱۱۵ هـ کښې اووهٔ زري منصب ته ورسېد و.

۱۷۰۵ ع / ۱۱۱۶ هـ کښې دَ مرهټهٔ خلاف په مهم مقرر وو او دَ کنکیرا قلعه یې فتح کړه.

دَ اورنګ زیب دَ وفات نه پس دَ کام بخش مرستیال شو او نیلې فوجداری علاقه سالور او بنکاپور زبیجاپور) کښې یې

وُسپړل شروع کړل[1].

دَ دلېر خان عبدالروف میانه دَ وفات نه پس دَ ده ورور عبدالغفار خان میانه او دَ ده دَ وفات نه پس دَ هغه زوئ عبدالمجید خان بخطابِ سطوطِ جنګ بیا عبدالحکیم خان پسرِ عبدالمجید خان دَ سانور و بنکا تور جاګیردار شو دَ عبدالمجید خان دویم زوئ او دَ عبدالحکیم خان ورور عبدالرحیم خان دَ صوبه حیدرآباد دَ کړپې (کرناټک) فوجدار او جاګیردار وو. دَ عبدالرحیم خان دَ مرګ نه پس دَ ده زوئ عبدالنبي خان کور او بیا دَ ده ورور عبدالمحسن خان عُرفِ موچهـ خان (دَ تاریخ مرصع حسن خان) جاګیردار شو.

۱۷۷۹ع / ۱۱۹۳هـ کښې حیدرعلي والئ میسور دَ کرناټک په کړپه حمله وُکړه. او سدهوټ، ګنجي کوټ، چنور وغیره علاقو باندې قابض شو. او دَ دغه ځاى حاکم عبدالحکیم خان میانه (عبدالحلیم خان) یې ګرفتار کړو. دَ ده ټول جائیداد مال دولت او علاقه یې قبضه کړه او خان ټبر یې سرنګا پټن ته ګرفتار بوتلو[2]. ۱۸۰۰ع / ۱۲۱۵هـ کښې دَ ټیپو سلطان دَ شهادت نه پس دا علاقه آصف الدوله ته منتقل شوه. نو انګریز سرکار دَ ډېر دَ کنټرول دَ ولسَم رجمنټ دَ امداد او تنخواه دَ اخراجات په غرض دو باره قبضه کړه[3]"

---

[1] مزید تفصیل دَ پاره منتخب اللباب جلد ۲ م ص ۳۲۲ - ماثرالامرا جلد ۲ ص ۵۵ وُګورئ.

[2] " " " " " " م ص ۳۴۲، " " " اول ص ۳۰۹، ۷۰۶ وُګورئ.

[3] Notes on Afghanistan and Baluchistan by Raverty P- 520-521.

# بهادرخان داؤدزی

سوا بدال خان داؤدزی بخطاب بهادرخان روهیله د دریا خان شهید زوی او د جلال خان بخطاب دلیرخان داؤدزی او یوسف خان مشر ورور وو. ۱۶۰۷ع/۱۰۱۵هـ کښې پیدا وو او ۱۶۲۳ع/۱۰۳۲هـ کښې د اوولسو کالو په عمر د شهزاده خرم (شاه جهان) ملازم وو. د ډېرې مړانې، جرأت او قابلیت په اساس د بهادرخان په خطاب سرفراز شو. عن چې د چغتائی په خطاب هم ونمانځل شو. حالانکه مغل شاهانو خپل خاندان څخه مناسب دغه خطاب ډېر کم غیر مغل بهادرانو ته ورکولو.

بهادرخان وړوکوالی راسې د شهزاده خرم رفیق او مرستیال وو شهزاده خرم شاه جهان چې بادشاه شو. نو د دغه نوم د هغه کسانو فهرست کښې شامل شو څوک چې د بادشاهت نه ٓګا هم د هغه دستان او ملګری وو. او دکن وغیره علاقه جات په مهمات ور څخه خنک په خنک جنګېدلی وو. بهادرخان داؤدزی د څلورزری ذات. دوهزار سوار منصب نه علاوه خلعتونو، تورې خنجرونو، اسونو، پیکوس نارو

ACKU

نغدرقم او نور د پښو تعلمات څخه سرفراز شو. او وکله ه تا نتوا ربهادر (کړه) ضلع ميرټهه جاګير دار شو. د ښه وروستو د کالپي، سهیندا او قنوج علاقجات یې هم جاګیر کښې شامل شول.

د خان جهان لودي په حق او مرسته کښې پښتانه شاه جهان ته بد ظن شول، شیخ کمال الدین پېښبور کېنې د بغاوت عَلَم بلند کړو او دريا خان روهیله د پښتنې ننګ و غیرت په جوش وجذبه شهید شو. نو ئه پوهېږو چې د دريا خان روهيله مشر زوی په څه وجوهات وروستو د شاه جهان خاص منصبدار او مرستيال او د مُغل شهنشاهيت د پال شو. د بهادرخان داود زي د کارنامو او فتوحات (داستان) ډېر او بېد او طويل دے. مونږ (دلته) ډېر په اختصار د څو ذکر کوو.

د جهانګير د بادشاهت دوران چې شهزاده خرّم شاه جهان باغي شو او د بنګال صوبيدار ابراهيم خان د هغه په تعاقب وو نو بهادرخان داوُدزيُ خپل پلار دريا خان روهيله څخه او ورته په او ږد ابراهيم (خان) خلاف وُجنګېد او شاه جهان څخه يې د دوستي حق ادا کړو.

د شاه جهان د بادشاهت په وړومبي کال ۳۸-۱۰۳۷ھ / ۱۶۲۸ع کېنې يې د راجه ججهار سنګه خلاف د ايرج په قلعه څو بهادرپښتنو ځوانانو څخه د بهادرۍ او مړانې هغه ناقابل فراموش مظاهره وُکړه چې د تاريخ په پا لېږېو بل مثال دے. هغه د دريُ کېنتو سخت لوړ جنګ دوران يو ناساپي په ناڅاپې سور د قلعه په دروازه داسې يرغل

د کروچي دروازه ماته شوه او بیا هاتي نه کوټ خپل عزیزانو پښتنو
څخه لکه د امزری په قلعه ور داخل شو. دریمې[1] ورځ ره باغیان یې
د ستوګو په ړپ کینې ووژل. ججهار سنګه او تر شو. امان یې وغوښتو
او شاه جهان بادشاه په دې فتح بهادرخان په قسما قسم نوازشات
سرفراز کړو.

۱۰۴۰ه د بیجاپور په مقام خپل هم وطن مومند رمیانه)
پښتنو ګرفتار کړو. دې معرکه کښې د ده یو خاص ملګرے شیر و
شهباز خیل ناوې څخه سم قتل شو.

۱۶۳۳ع/۱۰۴۲ه کښې یې د مکوسه پرګنې بغاوت ختم کړو. ۱۶۳۵ع/۱۰۴۵ه کښې
یې د ساهوموهتیه خلاف مهم سر کړو. دې نه پس د ججهار سنګه بوندیله
او د کانګړې د راجه جګت سنګه خلاف وجنګید و. ۱۶۴۴ع/۱۰۵۴ه کښې یې د چهیل
او کوړ رکانټ پرګنه) د راجپوت خلاف مهم سر کړو. ۱۶۴۶ع/۱۰۵۶ه کښې د شهزاده
مراد تحت د ترکستان د بلخ و بدخشان په مهم لاړو. په ۲ جولائی ۱۶۴۶ع/۱۰۵۶ه
یې بلخ قبضه کړو او د پانچ هزار ذات پانچ هزار سوار په منصب
سرفراز شو.

مونږ ۱۶۴۸ع/۱۰۵۸ه کښې بهادرخان د سکهانو د شیرم کو روهرکوټ
د شورش خلاف او ۱۶۴۹ع/۱۰۵۹ه کښې د شهزاده اورنګزیب تحت د قندهار په
مهم ویشو خو هم دغه کال په ۱۸ جولائی ۱۶۴۹ع/۱۰۵۹ه د قندهار نه خبر راورسیږي
بهادرخان د دې په مرض په حق ورسید[2] و. د هغه لاش روهیله پښتنو

[1] صالح نامه ص ۳۰۲ [2] صالح نامه ص ۵۶۰

شاه جهان پور ته د رسولو او هلته یې بهادرګنج نومی محله کښې خاورو ته وسپارلو چې ورو ستو د هغه په قبر باندې شاندار او عالی شانه مقبره تعمیر شوه.

بهادرخان داؤدزی د شاه جهان د پېژندګلوۍ او نامتو پوری سپه سالار وو. د شاه جهان پور (روهیلکنډ) ښار بانی نواب بهادرخان وو. د شاه جهان پور د بهادر ګنج محلې د کانې جومات په دېوال دا قطعه لیک ده

شد مرتب به دور شاه جهان

در وطن دلکشا بهادرخان

مسجد و چاه ساخت خواجه بلند

سال تاریخ "بهتر" شد به جهان[1]

۱۰۵۸ھ

۱۶۴۸ع

وائي چې د شاه جهان پور ښار آبادی د خواجه بلند په اهتمام شروع شوه. نو د شهزاده مراد بخش تحت بهادرخان داؤدزی ته د بدخشان په مهم د روانېدو حکم وشو. هغه د دې کار لپاره خپل کشر ورور جلال خان (دلېرخان داؤدزی) ته پرېښوده او په خپله د بلخ و بدخشان په مهم روان شو. پښتو رته چې را ورسېد و نو د لته یې د غوریاخېل ګګیانی، محمدزی، آفریدی، ورکزی او بنګش

---

[1] تاریخ مرصع ص ۱۱۹۵

پښتنو یو لوئې لښکر تیار کړو او بیا په دغه مهم دغه ځائې ته روان شو. د بلخ و بدخشان د کامیاب مهم نه پس چې کابل ته را ورسیده نو دغلته ورته ۱۰۵۸هـ / ۱۶۴۶ء کښې اطلاع راغله چې د شاه جهان پور آبادی د تکمیل په آخری مرحله ده. هغه چې پښنبور ته را ورسید و نو د پښنبور غوریاخیل وغیره پښتنو نه ئې ډیر کسان یې ځان څخه په دې غرض روان کړل چې هلته یې آباد کړي. بهادرخان چې شاه جهان پور ته ورسید و نو دغلته یې خپل هم وطن آباد کړل او د هغوئ د معاش او روزګار یې مکمل بند وبست وکړو

دې نه پس هغه خپل جاګیر کا لپه او قنوج ته لاړو. او د شاه جهان پور جاګیر یې د خپل ورونو حواله کړو.

عمدة الملک نواب بهادرخان چغتائي روهیله د هندوستان په بیمه د شاه جهان د عهد د ډیر و لویو نومیالی امیرانو او عظیم عسکری شخصیتونو څخه یو دے. هغه صرف یو جرار سپاهی او قابل جرنیل نه وو. بلکه د لویو انتظامی صلاحیتونو مالک او ډیر ښه شائسته طبیعت څښتن هم وو او ښه علمی استعداد یې لرلو. هغه د نورو علاقو نه علاوه د ملتان او بلخ شان پر آشوب علاقه جات صوبیدار هم پاتې شوید ے هغه یو پښتون طبع، سخی او مېلمه دوست نواب وو او هندوستان کښې د خپل مومند او داؤدزئي قبیلو د سرلوړی او آبادی سرپرست او مددګار وو.

بهادرخان د هندوستان په مختلفو علاقو لکه اله آباد، بهادرګړه

شاه جهان پور، کالپي، او قنوج ذ غيره ځايونو کښې ډېر ښائسته عمارتونه، جُماتونه او سرائې تعمير کړي دي او درځنې ئې ښکلي باغونه لګولي دي. دهلي کښې د يوې محولې نوم بهادرپور دو. څو ورو ستو دغه ځائې دَ دهٔ دَ زوئې نواب عزيز خان بهادر په نامه کتمره عزيز خان معروف شو. قنوج کښې دَ حضرت شيخ کبير بالاپير صاحب[1] پخه مقبره هُم دې نواب جوړه کړېده چې دلته پکښې دا کتيه نصب ده.

«اين گنبد عالي درزمانِ دولت نواب معلّي اَلقاب
بهادرخان اِبنِ دريا خان افغان غوريا خيل داؤدزي
عمارت پزيرفت[2]»

دا ځکه چې دَ نواب بهادر خان داؤدزي دَ بهادرئ او څوانمردئ دا مختصر بيان دَ هغهٔ دَ پوحماسي غزل په دې مقطع ختم کړو ـــ

«اے بهادر درجهان هر باغ دار دميوهٔ
ميوهٔ باغ بهادر خنجرو پيکان بُود»

ترجمه: دَ باغ بوټي ميوه دار وي بهادر خانه:
دَ بهادر[3] دَ باغ ميوه ده غشې تُوره»

---

[1] شيخ کبير بالاپير بن شيخ قاسم بن شيخ قدم السلماني قوم خليل ۹۹۴ھ/۱۵۸۶ع تا ۱۰۵۴ھ/۱۶۴۴ع.

[2] تاريخ مرصع ص۱۱۲۵ -

[3] بهادر په معنیٰ دَ تکړه مضبوط -

# دَ لیکوالکي نور چاپ کتابونه

۱: عبد الحمید بابا ـ ژوند او شاعري

۲: کوري اسپي
دَ بارهٔ مومند تاریخ جلد اول

۳: رومانتویت
او عبد الحمید بابا

ACKU

# HISTORY

# OF

# "Bara" MOMAND

VOLUME II

BY

KHAWAJA MUHAMMAD SAYEL

ACKU